# غوره اشعار

د

## ګل پاچا الفت

دزمری میاشت ۱۳۳٤ هجري شمسي کال

www.ulfat.de

بسم الله الرحمن الرحيم

# الحمد لله رب العالمين

# اياك نعبد و اياك نستعين

# و الصلوٰة و السلام على

# سيد المرسلين

# و اله وصحبه اجمعين

# فهرست

عنوان مخ


غوره اشعار ........................................................ أ
د پیاوړی الفت لنډه پيژندنه ........................................... ب
الفت ........................................................ ب
لوستونکوته!!! ........................................................ د
زما اشعار........................................................ ح
شاعر ........................................................ 1
رحمان بابا ........................................................ 4
خوشحال ختك........................................................ 7
سيدجمال الدين........................................................ 10
پښتون سيده........................................................ 14
بوعلی سينا ........................................................ 15
غريب ماشوم ........................................................ 16
بډای ........................................................ 17
د شاعر نظر ........................................................ 18
رياكاره........................................................ 18
دحقيقت ورځ ........................................................ 20
دلته شته بل چيرته نشته ........................................................ 20
سپوږمی ........................................................ 21
دآزادی ورږمه ........................................................ 24
په غره كې........................................................ 26
تحول........................................................ 28
انسان ........................................................ 32
حق نشي ويلی چې په حق باندې شيدانه وي........................................................ 71
بدحاكم........................................................ 72
كوټوال........................................................ 73
دسبافكر........................................................ 73
دپښتون حال ........................................................ 75
پښتون ته خطاب........................................................ 76
د اعليحضرت حضور ته ........................................................ 77
دپښتون ژړا ........................................................ 79
توره، پښتو، پښتنواله........................................................ 81
څه غواړم ........................................................ 86
پښتنواله وايي........................................................ 87
وطن وايي........................................................ 88

آزادی ........ 95
دوطن شهید ........ 96
مونږ څه لیدلی ........ 97
دپښتون سندره ........ 98
ذوق او شعور ........ 99
دنظرخاوندانو ........ 100
څه ګورم ........ 102
انسان ........ 103
مات کودړی ........ 104
خاورې اوګردونه ........ 105
دزمانې سندره ........ 106
ورځ اوشپه ........ 108
غنااوفقر ........ 110
خوشحالی اوغم ........ 113
یوسف اوزلیخا ........ 116
تناسخ ........ 117
مسخ کېده ........ 117
ددنیا قانون ........ 117
خوشحالي ........ 118
دیموکراسي ........ 118
فرداوملت ........ 118
دروح اطمینان ........ 119
سیاست ........ 119
بې قدري ........ 120
عیب پټونی ........ 120
علم اوپوهه ........ 121
سرېتوب ........ 121
همدردي ........ 122
علت اوسبب ........ 122
دسوز ژړا ........ 122
صبر ........ 123
بې خبري ........ 123
تازګی ........ 124
محبت ........ 124
زړه ........ 125
حقیقت ........ 126
آغاز او انجام ........ 127

سپین اوتوردیوان ........ 128
حکمت اوشعر ........ 129
حسن او جمال ........ 130
پل صراط- دسکندرسد ........ 131
صیاده ........ 132
دآزادی احساس ........ 132
ثواب ........ 133
دشاعرآرزو ........ 133
شجرة الرضوان ........ 133
سکون اوحرکت ........ 135
دانسان پوهه ........ 138
ورکه رڼا ........ 139
صحیح معرفت ........ 140
لوی والی ........ 141
مغرورانسانه ........ 142
زړه غوارمه ........ 143
د محبت غیږ ........ 144
دحق جذبه ........ 144
اخلاقي ښودنې ........ 145
دعمل درس ........ 147
دوه ماموران ........ 148
دښځوشکوه ........ 150
دیني تبلیغ ........ 151
څه غوارو ........ 152
څه دی؟ ........ 154
دخان باز ........ 156
څه شی دی؟ ........ 157
خوارحسن ........ 158
مه غولیږئ ........ 160
هلته اودلته ........ 161
دعشق سفر ........ 162
په لیلی پسې ځم ........ 163
ستا خیال ........ 164
عشق ........ 165
ښه دی ........ 166
دښکلوخیال ........ 167
غزل ........ 167

زما خوب ........................................................................................................ 170
دنازمیرمنې ........................................................................................................ 171

# غوره اشعار

پښتو ټولنه د پښتو ژوند خپله انتهائي آرزو او عملي وظيفه بولي او دا کار د پښتون کام د پایښت اولو ړتیا اساس اوبنسټ ګڼي ترکومې اندازې چه په دې لیارکښې خوځکامه پرمخ ولاړه شی، په هغه اندازه ورته د پښتون قام دکامیابۍ ډاډ حاصلیږي، پښتوټولنې چه تراوسه پورې د دغه عالي مرام د حاصلولو په لیارکښې څومره زیار وېستلی دی او څومره کار ئې کړید ی، هغه له هیچانه پټ نه دی. هرکال پښتو ټولنې ډیر غوره آثار او کتابونه میدان ته راویستلی دی، چه دپښتنو زړونه ورباندې روښانه شوی دی. له ښه مرغه د سږ کال په کتابونو کښې پښتو ټولنه د یو داسې قیمتي اوغوره اثر په چاپولو بریالۍ شوه چه د پښتنو د ادبي تندې د لیرې کیدو د پاره د کوثر د او بو مثال لري.

دا خوږ او پوخ اثر د نومیالی ادیب ګل پاچا الفت د ټولو اشعارو، په بله ژبه د ده د ژوندانه دادبي پانګې غوره او چوڼ شوی برخه ده.

په دې اثر کې د آزادۍ پیغامونه، دپسرلی نغمې، د عشق او مینې سندرې، دملیت اوقومیت جذبې، د اخلاقو او خویونو ځلاندې پلوشې، لوړ خیالات، عالي افکار، انتقادي روح، نوی خوندونه، دژوند رمزونه او داسې نورې ښیګړی چپې وهي.

د کومو مغزو له تل څخه چه دغه قیمتي مرغلرې راوتلي دي، د هغو خاوند د پښتونخوا په آسمان کې د یو داسې ځلاند ستوری مثال لري چه د اشعارو رڼا ئې د هر چا د ماغزو او زړونوپه ګوټونو اثر اچوی. مونږ ډیر خوشاله یو چه یو دغسې غوره اثر په ډیر ښایسته طباعت اوښکلی خط د پښتنی دنیا ننداړتون ته وړاندې کوو او په دې صورت پښتنو ته د یو مهم اثر د چاپیدو زیری ورکوو.

(صدیق الله رښتین د پښتوټولنې مشر)

# د پياوړی الفت لنډه پېژندنه

د مخه تر دې چه د ښاغلی الفت لنډه سوانح ولیکم باید دا هم ووایم چه پیاوړی الفت دخپل عصر صورت حال په لنډ صورت راتلونکی عصرته ښه ترسیم کړی اوښوولی دی.

ښاغلی الفت په دې معرفي کښې نه د تفریط پر خوا تلی دی او نه هم د افراط خوا پرده غلبه موندلې ده بلکه د حقیقی اعتدال په سترګه یې هر څه کتلی دی- ده په کم کښې د کیف سره آشنائي اوپه کیف کښې د کم مراعات په ښه شان کړی دی نو ځکه زه ویلای شم چه د خپل عصر ماهر رسام دی.

دا کار که ډېر خلق د تاریخ په ډیرو پاڼو سره کوي ښاغلی الفت بیا په څو شعرونو سره وکړ او دا د ده قدرت دی چه د حال سره قال او د قال سره حال لري. زه په خپله د ده دا شعري اعجاز تاسو ته په هغه صورت نه شم ښودلای لکه څرنګه چه د ده په اشعاروکښې ما لیدلی دی نو ځکه صرف پیژندنه لیکم او وایم چه د ده قدرت د ده کتاب په ویلو تاسې ته معلومېدلای شي نه په بل شي سره.

# الفت

ښاغلی الفت د میرسید پاچا زوی دی چه د لغمان د عزیز خان په کڅ کښې په ۱۲۸۸ هجري ش کښې زیږیدلی دی. ده په خصوصي ډول سره په ننګرهار کښې د مروجو عربي علومو تحصیل کړی دی او له مشهورو استاذانو څخه ئې د صرف، نحو، منطق، فقه، تفسیر، حدیث، معانی او بیان کتابونه لوستلی دی.

ښاغلی الفت په ۱۳۱٤ ش کښې د یوه رسمي مامور په حیث د انیس په ملي ورځپاڼه کښې د کاتب په حیث په کارشروع کړې ده، بیا په ۱۳۱٥ کښې د انجمن ادبي د تالیف او ترجمې د څانګې غړی شو، په ۱۳۱٦ ش کښې ئې سر بیره په عضویت د زیری جریده هم د چلوونکی په حیث چلوله، په ۱۳۱۸ کښې د پښتو ټولنې د صحافت د مدیریت معاون شو، او په ۱۳۱۹ کښې بیا د لغاتو او قواعدو مدیرشو په ۱۳۲۰ ش کښې د اصلاح د ورځپاڼې د پښتو د مشاور په حیث مقرر شو په همدې کال کښې د پښتوټولنې عمومي کتونکی او د کابل د مجلی چلوونکی شو په ۱۳۲٥ کښې د اتحاد مشرقي د جریدې او په ۱۳۱۷ کښې د مشرقی د قبایلو د

خاوند و چه ده په خپله د مضامینو په ترتیب او لیکنه کښې لویه برخه درلوده، په ۱۳۲۸ کال کښې د ملي شورئ په اوومه دوره کښې دجلال آباد د خلکو له خواپه وکالت سره انتخاب شو او په شورئ کښې د دوهم معین په حیث وټاکل شو. په ۱۳۳۱ کال کښې د شورى په اتمه دوره کښې د لغمان د قرغیو د خلکو له خوا وکیل شو.

## د بناغلی الفت چاپ شوی کتابونه:

۱- د پسرلی نغمه ۲- بله ډیوه ۳- لغوي څېړنه ٤- پښتو سندرې ٥- عالي افکار ٦- لیک پوهه ۷- ادبي بحثونه ۸- پنځم جلدکلی په دوو جلدکې ۹- د آزادۍ پیغام ۱۰- غوره اشعار.

## نا چاپ شوی کتابونه:

۱- نوی څرک ۲- ښه لمسون ۳- منطق ٤- نوی سبک نوی ادب ٥- اجتماعي نظریات ٦- څه کوم اوڅه اورم.

## ترجمې:

۱- د ټولنې علم ۲- د موفقیت لیار– سربیره پردې ئې د کابل په سالنامه کښې ډیرې رسالې چاپ شوی دی او ځو سالنامی (کالنئ) هم د ده په پاملرنه راوتلی دی.

په مطبوعاتي جوایزو کښې ئې ځو ځو ځله لوړې جایزې اخستی دی. په ۱۳۲۷ کښې ئې د صدارت عظمی له خوا دوهمه درجه تقدیرنامه او د ستوری دوهمه درجه نښان هم اخستی دی او د وکالت د دوه دورو نښانونه هم ورکړ شویدی.

محمد دین ژواک د ادبیاتو د مدیریت کفیل

# لوستونکو ته!!!

په دې کتاب کې څه وایاست .........؟

ښه دی که بد؟؟

د شعر د خوښولو د پاره یواځې زما او ستاسو ذوقونه معیاردی اوکه نه د ښه او بد شعر د پیژندلو د پاره کوم اساس اوقاعده شته؟ زما په عقیده ښه شعر هغه دی:

۱- چه عوام او خواص خلک پرې پوه شي او عارف او عامي ترې د خپل ذوق په اندازه خوند واخلي.

۲- اولاً د دې نه زیاته مرتبه د شعر د پاره دا ده چه په هر ځای کې د هغه د قبول دپاره ځای موجود وي او په هر ملت کې د لرو ډیرو زړونو دروازی ورته بیرته وي یعنی دمحل او ماحول ملت او مملکت د احاطې نه بیرون وی.

۳- د شعر معراج او لوړه مرتبه دا ده چه د زماني له قیده هم خلاص شي پیړی پیړی اوصدی صدی د هر عصر خلک هغه ته قدراوقیمت ورکړي اوپه هر وخت ئې لرو ډیر خلک خوښ کاندې.

همدا سبب دی چه د ځینو شاعرانو دیوانونه په هرکاله کې شته او لکه رحمان او حافظ په خانقاه او خرابات کې خریدارلري. او یا [لکه دتیکور اشعار] خلک ئې له دیوانه نقلوي او په خپلو جیبي کتابچو کې ئې لیکي. او یا لکه څنګه ئې چه پرون شعر بکر او تازه ؤ نن هم د خلکو د خوښیدو او ستایلو دی او سبا له هم نه زړیږي. نو-!

راځئ. !! چه د الفت دا مبلغ په دې محک ووهو اوکره کوټه ئې ځان ته معلوم کړو.

د الفت شعرپه اوله مرحله کې کامیاب او موفق دی ځکه د ده شعر روان اوسلیس دی، معنوي تعقید نه لری، د مطلب خوا ته کوږ ووږ نه ځي، عوام پرې پوهیږي اولذت ترې اخلي خواص پکې عواطف او کیفیت موندلای شي او لکه روانې، رڼې او پاکې اوبه د هر چاتنده پرې ماتېدلای شي.

په دوهمه مرحله کې هم د ده شعر تر ډیره حده موفق دی که د دې کتاب داسې پارچې لکه د شاعر نظر، د حقیقت ورځ، انسان او همدردی په نورو ژبو کې ترجمه شي د ذوق خاوندان به هغه خوښې کړي او خامخابه ئې انتخاب کاندې.

په دریمه مرحله کې څه ویل له وخته مخکښې ښکاري او د عیب ویلو په ګناه به مې ونیسی، خوزما په تخمین [چه انشا الله ډیر به خطا نه وی] تر ډیره وخته به د ده دیوان په ښتنې دنیاکې بې قدره نه وي او د ده نفوذ به څو پیړی وروسته هم چلیږي او کتاب به ئې ښتانه ډیر کلونه وروسته هم ردی اوباطلی پاڼې ونه ګڼي نو ځکه زه ښتو ادب ته د داسی دیوان په لرلو تبریک وایم او د ښاغلی الفت قریحې ته تحسین وراندې کوم.

سید شمس الدین مجروح

زه سبا بل سبا اندونیز یا خواته که خدای کول رهی یم، ټول وقت مې د دې سفر د لوازموپه تهیه مصروف دی مګر د الفت حقوق مې نه پرېږدي چه د خپل د شوریٰ معین او ملګری پر دې اشعارو څو کرښې و نه لیکم.
پښتو له ډېره وخته څخه طاق نسیان کښې پرته وه، د دې حکومت متبوعه په عصر کې ئې پالنه وشوه، اوس لاهم ډېره غمخواری غواړي چه علمی اومترقي ژبه شي، نو د ښاغلی الفت وجود او د ده آثار اوشعارغیر مترقبه نعمتونه دي.
د ده شعر نه تکلف لري نه تصنع، د ده موجونه د احساساتو [لکه کابل رود] د قریحې له لوړو چینو څخه بهېږي او لکه بعض ناظمین ارهډ ته نه دی محتاج.
اظهار د فضل او معلومات خرڅول قطعاً وجود نه لري. روان او طبیعی شعر دی، دی وائي چه زه [زړه] یم نه [دماغ] لاکن د ده ماغزو زمونږ د معنوي مایحتاجو دقیق تحلیل لکه چه کړی دی که څه هم ما پر بعضی ضروري موضوعاتو لکه (وحدت ملیه) کم عنوان یا مستقل نظم و نه لیده. دی ځان ماشوم بولي مګر په هغه پسې ځي چه مینه ورسره کوي پاخه هوښیاران همدغسې کوی. که عنوان پسرلی یا سپوږمی هم وی بیا اجتماعی دردونه یادواوی پکې وی.
د ده منبع شرقی ملی ایدیولوجی ده. د ده سلیقه هم د قدماؤ کرامت لری، هم د تجدد لذت، طویل نظمونه یا قصاید یا درامونه په دې څو پاڼو کې چه ما ولیده لږ مګر معنونه غزلې، قطعې ډېرې دي. د ده اثر زما پردې ادعاګانو ښایسته شاهد دی. ده لرې (کښته) پښتو نخوا او هندوستان ته سفر نه دی کړی ځکه د هغې خوا افغانی قصې انطباعات ماحول او مایحتاج باندې مفصلې ویناوې نشته چه دا محلی شعر ئې نورلاجامع، حاوی او کامل ملی کاندې، افق ئې لا پراخ شي، ده ته د قادر کریم[ج] له حضوره اوږده، نافع، مبارک، بې زحمته قلمي مجاهدات غواړم.
ما از تو بر خوریم و تو از عمر برخوری
عبدالهادی (داوی)

دا ښکلی اثر څرنګه چه د پسرلی نغمه ئې نوم دی هغسې د ادب په پسرلی کښې هغه خوږې نغمې پکښې دي چه د«الفت» د تخیل په زور د مینې او محبت له نړی څخه د هغوکسانو غوږوته رسیږي چه هغوی په پسرلی کښې نغمې، په طبیعت کښې طبیعی سندرې، په اسمانو کښې د جذباتو ډک غږونه او په خاورینه مځکه کښې د آلامواومصایبو د تسکین لپاره د تسلی آوازونه لټوي. ما دغه نغمې هغه وخت چه لا د پښتو ټولنې هوا یې خوځولی نه وه اوریدلی وې او هغه وخت ئې زما په روح کښې خپل مؤثر تاثیرکړی و. په هغه وخت کښې ما ځان سره ویلی ووا و ځینو ملګرو ته مې څرګنده کړی وه چه که چیرې د پښتو حقیقي ادب او د شعر حقیقي تعریف اساسی شي نو هلته زه دا ادعا کولی شم چه دا نغمې به خپل ځای له ډیرو اشعارو څخه بر وټاکي.

لکه چه خلک په یو اثرباندې تقریظونه لیکي او د لیکونکی د زیاراو زحمت تذکارپه ځان باندې فرض ګڼي زه نشم ویلی چه الفت د دې اثر په لیکلوکښې کوم زیار ایستلی ځکه چه شعر زما په عقیده زیاراو زحمت نه غواړي منکر دا ویلی شم چه الفت پدې اثر باندې خپله قریحه ښه روزلی ده او خپله طبع ئې ښه روښانه کړیده. الفت د جمال اوشعر په دنیاکښې یوسیر کړی او د کایناتو له لیدلو ئې یو موټی افکار ټول کړی، ښایسته ښایسته ګلونه ئې بوی کړی، مست شوی او په هغه پاکه مستی کښې ئې د زړه غږونه پورته شوی، د ده ګوتو د هغو آوازونو ریکارډ ثبت کړی او د پسرلی نغمې ورنه جوړی شویدي.

دا اثر څرنګه چه لوستونکی او د ذوق خاوندان به ئې وګوري یوازې یو خیالی محصول نه دی پدې کښې اجتماعی اواخلاقی، تبلیغی او جذباتي مضمونونه ډیرپیداکیږي. په اصل کښې شعر او د شاعر مطلب داسې یوځایکړی شوی چه له یوې خوا خاص مفید مطالب اوله بلی خوا خاص د شعر رنګ اوصورت لري چه دا کار زما په فکر د پښتو ادیبانو اساسي وظیفه شمیرل کیږي. پدی اثرکښې د شاعر نصیب العین چه زه ورته د مراد ټکی وایم څرګندیږي او دا د پښتوپه شعرکښې زمایو ډیر زوړ ارماند ؤ چه الفت وایست نو له ګردو لوستونکو څخه هیله کوم چه دا اثر په دقت ولولي او په قدر ورته وګوري او مخصوصاً له هغو وګړو څخه چه دوی غواړي د پښتوادب سره اشنا شي او د دې ګلشن څخه د رنګ او بوی څه برخه واخلي توقع لرم چه په هرصورت وي د دې نغمو څخه روحاً استفاده وکړي.

عبدالرحمن (پژواک)

اگر معانی، گرامی گوهر دریای دلست و دل شاعر دریای باشدکه این گوهر گرامی را می پرورد- در دیار ما و در روزگارما بلاشك این لآلی فروزنده اشعار الفت واین دریای گوهر خیز- دل در مند و حساس وسخن پرور آقای الفت است.

الفت با این مجموعهٔ نغز- بزبان خوشحال خان ورحمن بابا نوای نوینی افزوده و به شمشیر شیرشاه و محمود و احمدشاه پیرایهٔ دیگری بسته است.

سخنان او چاشنی درد دارد و شور ملیت

من او را با داشتن چنین مجموعهٔ نغز و زیبا تهنیت میگویم و بردل درمند و خامهٔ شیوا و طبع دریا بار او آفرین می خوانم. «خلیلی»

# زما اشعار

زما شعر او شاعری او د اعلیحضرت معظم المتوکل علی الله پادشاهی یوځای شروع کیږي یعنی زما اشعار د پښتو دغه ادبي اوعرفاني نهضت ته منسوب دی، چه د دوی دعصر یادګاردی او په همدغه وخت کښې ئې د یوه دیوان په ډول د چاپیدو موقع هم ومونده.

ښاغلی سردار محمد داؤد صدراعظم زما ځینې اشعار اوریدلی اولیدلی دی، زه چه هر کله د ده حضور ته رسیدلی یم زما له اشعارو سره ئې ډیره مینه ښکاره کړې او خوځله ئې رانه زما د نوو اشعارو پوښتنه کړیده ځکه د ده حسن نظراو شعر دوستي نشم هیرولی.

دا اشعار زما د ټولو اشعارو زیاته برخه ده او هغه چه پدی مجموعه کښې نشته د دې کتاب له نیم نه به کم وي.

زما ځینې اشعار چه د وړو رسالو په صورت چاپ شوی وو (عالی افکار- د پسرلی نغمه- د ازادۍ پیغام) هغه هم دلته له نورو اشعارو سره د یوه دیوان په شکل چاپ شوه او دکتاب زنګ ئې بیاموند. دا کار د ښاغلی میوندوال په اراده او د پښتوټولنې په موافقه اوعملی کوشش وشو- زه د دوی دغه مساعدت نه هیروم او په ډیره مینه ورته ګورم.

ښاغلی رښتین د طباعت او صحافت په لحاظ هم دې اشعارو ته په ډیره اعتناکتلی دی زه دغه مهرباني د قدر وړ بولم.

ښاغلی ژواک په طباعتي امورو کښې اهتمام کړی ځکه ئې یادونه لازمه ګنم او د کابل د عمومی مطبعی دکارکنانو مرسته ستایم.

په دی اشعارو باندې ځینو لویو او مهمو اشخاصو ښاغلی عبدالهادی داوی، خلیل الله خلیلی، شمس الدین مجروح، عبدالرحمن پژواک تقریظونه لیکلي دي چه هغه هم ورسره چاپیږي مګر د هر یوه لیک د کتاب په یوه برخه پورې ربط لری. ښاغلی پژواک یوازی په پسرلی نغمه خپل نظرښکند کړی و چه هغه د دی مجموعی یوه برخه ده، همدارنګه نورو هم هر یوه یوه حصه لیدلی ده اوبس.

ګل پاچاالفت

# شاعر

نوريې وصل کې نه مومي څه چې دی مومي هجران کې

خوند له خپله ذوقه اخلي که هيڅ نه وي دسترخان کې

ګل لانه وي ټوکېدلی چې ورمې يې راځي ده ته

دبلبلونغمې اوري دبل عصرګلستان کې

دمرغانوپروازونه په هکيوکې لاوينې

پلوشه دلمرليدای شي دسپېدوخيرې ګرېوان کې

کړي سپوږمۍ سره خبرې له اسمانه سره هم لا

دبلبل په ژبه باندې دی پوه شوی په جهان کې

نسيم دی دده استازی چې هرځای ته لري لاره

کله ځي دشاه حضورته کله ګرځي په زندان کې

دشاعرخيال همدغسې شپه او ورځ دی سرګردانه

يوساعت باغ وبوستان کې بل ساعت وي په نيران کې

ترجمان دطبيعت دی باخبردملک له حاله

غلی نه دی پاتې شوی په بهاراوپه خزان کې

بېخودی اوخودی دواړه ده سره او ده کره وي

دی اضداد غاړه په غاړه لوبوي يوه ميدان کې

زيات وکم يې يوحرف نه دی خپلې خولې نه راايستلی

عدالت دوزن وينو خاص دشعرپه ميزان کې

دبل کورکې خره غوايي وي دده بيت کې معاني وي

حقيقت دی که مجازدی دواړه شته دده بيان کې

کنایه باندې پوهېږي اشاره ورته کافي ده
همدغومره ویل شوی دعاقل سړي په شان کې

ګوري تل مناسبت ته نه وايي نامناسب خه
ده آهنګ نظم ساتلی دوینا ساز وساما ن کې

دبیان باغ یې سمسورکړداشعاروپه بحرونو
اوج او موج دکلام ساتي دخیا لا توپه طوفان کې

دده سترګې دي دوربینې، ذره بینې اوحق بینې
له هرچایې نظرلوړدی کوي خارپه کهکشان کې

حاجبان اوحجابونه دده مخه نیوی نشي
حقیقت پسې کړي هڅه په مکان ولامکان کې

عقل اوفکرهغه ځای ته په هیڅ شان رسېدی نشي
دشاعرخیا ل ځای نیولی په اتم، نهم آسمان کې

دی دحا ل په ژبه پوه دی قیل وقا ل ته حاجت نشته
اوري ډېرغلی شورونه چې ویده دی نیستان کې

زړه او روح سره یې کاردی نوربدن ته یې پام نه وي
ذوق اوفکرلري برخه دشاعرپه ارمغان کې

دده کورته دي راځي نه خیټورخلک هیڅکله
وریجې ،غوښې خوک نه مومي دشاعرپه دسترخان کې

حلاوت او ملاحت شته په کلام نه په طعام کې
دقام غم دده خوراک دی شته همدغه دده خوان کې

دانسان فرق له حیوانه په خبروباندې شوی
شاعرهرچانه کامیاب دی دخبروامتحان کې

صنعتګر دی له معنی نه ښه لیلی شي جوړولی
ښایست ده دی پیداکړی دادب په خاندان کې

دویناعفت دی دغه چې هم ښکلی وي هم بکره
اوسي دانبایسته حوره دشاعرپه دبستان کې

ده سره تحولات شته دی راوړي انقلابونه
په افکاروپه عاداتو په اوضاعو ددوران کې

چې یوقام له خوبه ویښ کړي اوفکرونه رابیدارکا
قدرت دغه تاثیرایښی دشاعر آه وفغان کې

ده راوړی ښه فکرونه په هروخت دغه جهان ته
یوسف وینم راروان دی دشاعردخیا ل کاروان کې

ده فرهادراپیداکړی دشیرین وطن خدمت ته
ده رستم دی درولی هرغلیم ته په میدان کې

دمحمود دبدبه نشته شاهنامه دفردوسي شته
دغزني ښاردی لوټ شوی حدیقه شته په جهان کې

نه زړیږي، نه ورانیږي دشاعربیت په قرنونو
دخیرکورله سیلابونو، زلزلووي په امان کې

په قرنو قرنوساتلی شاعران شي په دنیاکې
هغه څه چې واقع کیږي یاورکیږي یووه آن کې

چنګیزنشته ،اورنګ نشته شاهجهان لاړ له جهانه
لامغلوسره جنګ شته دخوشحا ل خټک دیوان کې

ډیرتاوده تاوده جنګونه پس له څه وخته سړیږي
خوجذبه دعشق اوشعرنه سړیږي په انسان کې

دشاعرتودې خبرې هم هغسې لاتودې دي

تل ترتله سوزموجود دی سعردرحمان کې

# رحمان بابا

پېژندلی دې هم ځان اوهم جهان دی

ځکه وایې درست جهان عبدالرحمان دی

په رښتیا دې قدم ایښی په اسمان دی

قربان کړی دې منصورنه شاهجهان دی

تاته خاورې، سیم و زر درې واړه یودی

خان، سلطان اوقلندردرې واړه یودی

په ښه خوی له بدخواهانوبې پرواوې

آئینه غوندې بې رویه بې ریاوې

پټ ددرست جهان پادشاه ظاهرګداوې

لکه ابرهم ګوهراوهم دریاوې

دیارغم دې لکه تاج ووپه سرباندې

نورغمونه دې کړه ټول له پښولاندې

بې دمینې محبت له ښه تصویره

نوردې هرڅه وایستلی له ضمیره

ځان دې خلاص کړله هرقیدله هرتاثیره

باري نه دتوروزلفوله ځنځیره

لکه خاورې پښولاندې دجانان وې

ددی نورجهان په سرلکه اسمان وې

تاقدم ایښی دخپل نفس په منبر ؤ
له خپل ځانه کړی تامشکل سفرؤ
ناخبره ستاله حاله څه خبرؤ
په ظاهره دي اوار دلته بسترؤ

په یوه قدم ترعرشه رسېدلی
درسته شپه دخدای حضورکې ژړیدلی

ځای په ځای لکه اسیاوې ناقراره
ستاسکون په کورکې نه ؤ بې رفتاره
دنیا داروې بې درهمه بې دیناره
هیڅ دي نه غوښته بې یاره بې دلداره

لکه ګل دپریشانۍ په وخت خندان وې
ددوهۍ په غاړه ناست شاه جهان وې

دلته راغلې له کوم ځایه له کوم لوري
چې په ډېرحیرت داخلق درته ګوري
دشپې مښک په ورځ کافور دربانده اوري
کړي خبري درسره داسمان ستوري

زه دي نه پوښتم له نوره قیل وقاله
بې له زلفوبې له خطه بې له خاله

بیخودۍ وې ته خلاص کړی له غمونو
ته وتلې وې له شپږوجهتونو

له خودی نه تښتېدي په فرسخونو

کمه نه وه خودی تاته له بندونو

ځکه تاویل خودی لویه بلا ده

بېخودی انسان دپاره ښه پنا ده

پادشاهانوکه قصرونه کړه آباد

تادعشق دمملکت ایښی بنیاد

عشق ؤ ستاپیروپېشواصحیح استاد

درلوده دې په عشق ښه اعتقاد

ستانظرکې هېڅ شی نه وتخت وتاج

دمنصور دار دې ګټلی ؤ معراج

تاقربان کړه سل بې دردله اهل درده

له دې زیاته همدردي نشته همدرده

سره لا له نه زرغونېږي له هرګرده

خدای دې نه کا شاعران چېرې بې درده

بې دردانولره زړه دچا وردرومي

هرڅوک کله دهرچازړه کې ځای مومي

ستادلبرغوندې دلبر په جهان نشته

ستادعشق په باغ وبڼ کې خزان نشته

غمجن مه اوسه راځه رقیبان نشته

دلیلی په دروازه کې دربان نشته

پاخه بیایوځل سیراب دعشق په جام شه

په ساغر د ماه ومهرمی آشام شه

# خوشحال خټک

دادب اوشعرلویه قهرمانه
دمغلوپه کور تندر دآسمانه
دوطن دازادی سختوجګړوکې
له هرچانه زرورمرد میدانه
ستادشعرمصرع لاډیره تیره ده
بې ننګی ټوټې ستاله بیانه
وې درزم اودبزم په مجلس کې
هلته بازدلته بلبل هزارداستانه
عشق او ذوق فکروتدبیر اراده عزم
ستاپه برخه رسېدلی وو بیشانه
هم رستم هم فردوسي دیوداستان یې
هم شاعرهم مفکرهم پهلوان یې
قصیدې لرې غزاله هره بابه
ننګ غیرت اخلاقي فتواستاله کتابه
دخبروکورودان ستاپه بیان شو
خدای درکړې ده وینا ډیره جذابه
که جګړه کې استوارلکه یوغروې
دعشق کارکې وې له هرچانه بیتابه

پښتونواله ستا پیغام ستا فلسفه ده

تاپرې نښوده پښتوچې شي خرابه

ستاپه زړه مټ اوبازوکې لوی قوت ؤ

ستاپه لاس کې تووره هیڅ نشوه بې آبه

تادننګ سبق پښتون ته دی ورکړی

دخودی په فلسفه دې خبرکړی

داجهان ستا په نظرکې نام وننګ ؤ

چې بې ننګه وهغه درته بدرنګ ؤ

بل څوک نه و همداته وې ننګیالیه

چې دې داغ په خاطرایښی د اورنګ ؤ

ډېرې لویې دعوې تاسره وې زړه کې

په مغلوبانو دې ځکه ستاغورځنګ ؤ

هغه بازوې چې لوی ښکاردې و نظرکې

دوطن په سیمه پوله به دې جنګ ؤ

هم دې توره له هرچانه وه ځلانده

هم دې هرچانه لوی عزم اوفرهنګ ؤ

په داخپله لویه برخه وې خوشحاله

تاپاللی ده پښتواوپښتونواله

ستا اشعاروکې ملي آرزوځلیږي

خدای خبردی چې به کله حاصلیږي

لوی پیغام دې پښتنوته دی راوړی

ستاپه خیال به چې پښتون کله پوهیږي

تاویلی لوی دریاب ته کوئ هڅه

په بیله کې چې نهنګ وي هلاکیږي

ستا وینا ده چې اوښ بارسره راغلی

پښتانه یې غاړکی ته خوشحا لیږي

دلویانو ارزووي هرګوره لویه

واړه هرچېرته په لږ شی قانع کیږي

لوی سړی وي درسره ؤ لوی فکرونه

مګر ژر نه راویښیږي ولسونه

ستا دیوان که په ادب کې لوی شهکاردی

تاپه توره توپک کړی هم ډېرکاردی

خلوینبت زره لښکرستا د لاس له زوره

لوړی شاپه تاتره کې تارپه تاردی

دوآبه اودنوښاردکوټ په جنګ کې

دمغل په زړه دې ایښی لوی پرهاردی

دخیبردره دې سره کړله په وینو

په اهارکې دې لیدلی لاله زاردی

خزانې هاتیان اسونه که اوښان ؤ

دغه لویه ولجه ستا دتوري ښکاردی

شجاعت اوشهامت درسره مل ؤ
ښه ملګری دې په توره کې ایمل ؤ
تا اخستی له غلیمه انتقام دی
پښتنوته دې ګټلی ننګ ونام دی
په هرننګ کې دې دننګ خبرې کړی
ملي فکرستا مرام اوستا پیغام دی
مغلواله دې رټلی ډیره زیاته
فرق دې کړی دپردی اودخپل قام دی
غرورغوکې دې لښکرې ټولې
غلیمانوباندې تاترلی لام دی
په پښتوباندې له سراوماله تېروې
ستاله توري خبرشوی خاص وعام دی
دافغان په ننګ ترلی توره تاوه
درسره لویه ارزولویه سوداوه

# سیدجمال الدین

بې حسابه څاڅکی توی په بحروبرشي
له لکونوکرورونویوګوهرشي
رنګ په رنګ ګلان پیداشي غرورغوکې

مرغلرې ډېرې وځي له دريابه

ځينې ځينې ښکلوپيغلوته زېورشي

په عمرو اورونه بل په يوه ځای وي

ثوپيداپه سرولمبوکې سمندرشي

عالمونه پيداکېږي بې حسابه

په دنيا کې دثوتنوتاج په سرشي

مينه دې راوړي ډېرزامن ډېراولادونه

يويادوه يې افلاطون اوسکندرشي

جو دانې قدريولعل پکې پيداشي

نور همه واړه دتوروکاڼوغرشي

په هرسره رنګ سرخرويي نه شي حاصله

هسې نه چې په رنګ سورشي نوسره زرشي

يوه کورکې پيداکېږي اولوئېږي

يويې ګوره ابراهيم بل يې آذرشي

فرعونان دخدايي دعوې آغازکړي

يوماشوم دخداى له لورې مقررشي

چې طلسم کاندې مات دسرکشانو

ډېربتان بت پرستان زېروزبرشي

کاهنان يې دراتک خوبونه وينې

ظالمانوته پيدادسرخطرشي

لاپيداپه جهان نه وي يې نوم وي

لوی جهادله معصیت سره شروع کړي

په دنیاکې غرق فرعون هم یې لښکرشي

څوک چې حق اوحقیت پالي دنیاکې

یوه وخت کې وي موسی بل وخت عمرشي

داسلام دطوفاني بېړۍ دپاره

لکه نوح لوی کشتیبان قوي لنګرشي

دخلقت له کارخانې نه کله کله

په جهان پیدایوبل شانې بشرشي

چې رڼایې په ملکونوکې خپرېږي

ټول عالم لره څرګنده لکه لمرشي

دکونړدلوړوغرونوپه لمن کې

نابغه فرزندپیدادسیدصفدرشي

پښتنه مورهسې زوی واخلي په غېږکې

چې ددهر اوجهان نامي پسرشي

ډېرپوهان ورته سرټیټ په شاګردۍ کړي

ډېرشاهان یې په تعظیم مخې ته ورشي

همېشه یې قدرکېږي په عالم کې

څوک چې لوی په علم وفضل اوهنرشي

هسې نوم هسې نشان یې شي په برخه

چې لوی فخردملت اوخپل ټبرشي

په شاهي لویوقصروکې نه ځائیږي

ټول جهان وربانديږ تنګ شي له ناکامه

اواره لکه نسيم په بحروبرشي

ترکيه مصرولندن فارس وپاريس کې

ارام نه مومي هرلورته يې سفرشي

سرګردان وي په جهان هغه مړونه

چې دټول عالم غمونه يې په سرشي

سريې مه بوله بل نوم ورله بويه

چې پيداپکې لوى فکرلکه غرشي

نه دى مړلوى پهلوان ددې جهان دى

هغه ځوک، چې مځکې تل نه رابهرشي

قيامت نه وي سرراپورته کړي له خاورو

راروان په لوردخپل اصلي مقرشي

په رښتياچې حق پخپل ځاى قرارمومي

دپښتون سيد ارام پخپل بسترشي

دې تابوت کې دپښتون ډېرخاطرات دي

چې يې ګورم بل عالم مې په نظرشي

ځوک چې وريې شي مزارته که بيناوي

ورته ښېرته به دپوهې لوى دفترشي

ددې خاورو دورنماته نظربويه

که دې کله په دې لاربانديې ګذرشي

ښکاره کېږي کارنامې دېرې نامدارې
سترګورته آئینه دسکندرشي
لوی عظمت، شان وشوکت راځي خاطرته
لوړفکرونه، لوړخیالونه مصورشي
په یوه موټې سپیروخاوروکې ګوره
دتمام جهان بهارپټ اومضمرشي
هسې شاني هنګامې شي پکې غلې
چې غوغاورځني جوړه په محشرشي
لوی داستان، لویه قصه لري په زړه کې
که ددې خاورې له حاله څوک خبرشي
پښتانه به ورنه اخلي الهامونه
تېردورونه به یې مخکې لروبرشي

دې زیارت کې وینم بل راز تاثیرونه
دلته مه کوئ واړه سوالونه

# پښتون سیده

پښتون سیده دشرق نامداره    ددین اوعلم دکورسرداره
تللې وې چېرې دخه دپاره    دچا له غمه وې ناقراره
توره تیاره وه مېره اولسونه
راپاخول تاویده قومونه

راوره دنياته تاپيغامونه
نوی فکرونه ښه ښه خويونه

ستا په ښودنه ويښ انسانان شول    تازه باغونه بيادعرفان شول
مشهوردنيا کې ستا شاګردان شول    روښان فکرونه ستا په بيان شول

ستا له مشعله رڼا شوه زړونه
ډک ووحکمت نه ستا تعليمونه

ټوله دنياکې وګرزيدلي    په شرق وغرب کې نه ځائېدلي
چې په منبره ودريدلي    له هرچا پورته ښکاره کېدلي

له تاسره وو ډيرتاثير ونه
درته حيران ووډيرعالمونه

دنيارڼا شوه ستاله تنويره    جهان خبردی ستاله تاثيره
حق سراوچت کړستا له تقريره    ستا له تحريره ستاله ضميره

وښورول تاغافل فکرونه
څومره خواږه ووستا بيانونه

# بوعلی سينا

نه يې سيال نه يې نظيرشته په جهان کې
بوعلي باندې نازيږي افغان ځکه
رب ورکړی دې وطن ته استعداددی
ترېنه زيږي داناموفرزندان ځکه
دمشرق رئيس اوشيخ دفلسفې و
يادوي يې نن دعلم دوستان ځکه
دده فکر ؤ قانون شفادپاره
په حکمت کې يې موجزدی بيان ځکه

چې دده نبض شناسه ګوتې نشته
دمرض له ويرې رګ دی لرزان ځکه
که هرڅوورپسې ګرزي نه يې مومي
دی ترورا وسرګردانه آسمان ځکه
ځمکې هسې اولاد و نه ليد تراوسه
پسې سرپه خيرې ګرزي هرآن ځکه

راوتلی ؤ له ځالې داسمانه
دده فکرکاوه جګ طیران ځکه
ډېره لویه هستي شوه دخاورولاندي
بلخ دده له غمه وینمه وران ځکه

# غریب ماشوم

دغریب کاله ماشوم دی هرهلک یوځل وهلی
نازیې هیڅ نه دی لیدلي په ژړاکورته راغلی
چا اخیستی غیږکښې نه دی له سپېروخاورونه کله
کوروکلي کښې بې قدره خوار وزاردی اوسېدلی
ګلالی ځیرک هلک دی کږي خوږې خوږې خبرې
خودخان ملک ځوی نه دی چې په خلکووي منلی
بې له خپل پلاره بل هېڅوک ورته نه ګوري په مینه
دغریب سړی اولاددی چالانه دی پېژندلی
التفات ورته هیڅ نشته ددې ځای لکه چې نه وي
لاره نلري مجلس ته لري ناست دی هلته غلی
په مکتب کښې لیده نشي مدرسې ته یې پرېږدي نه
لاتراوسه معلم ته یاملاته نه دی تللی
رئیسانو حاکمانو ورته هیڅ کتلي نه دي

هره ورځ یې مخکښې ګرزي په زړه خواره جامه کښې
کبرجن هواته ګوري هغه هېڅ نه دی لیدلی

یوشاعرورته په مینه محبت هرکله ګوري
دبل چاپرې نظرنشته ورته نه ګوري ښاغلي

زه یې نوم درته اوس ښیم ته ښه فکرپکښې وکړه
دلته فکرهمدغسې له نظره دی لوېدلی

## بهای

یویې لوی بولي هغه بل ورته وړوکی وایي
خپته یې لویه اوکره یې وړه ده ډېره

غله یې ډېره ما ل یې ډېردی هرڅه ډېر ورکړه
مزدوران وږي دي یوه بې بې مړه ده ډیره

کوټه توده ده تشناب تودی تنورتودوي مدام
هرڅه تاوده دي ډکدابرخه سړه ده ډېره

دده له کوره هغه وخت خیروخیرات را اوزي
چې تناره کښې خښېدلی تري پیړه ده ډېره

کوریې دی نوی کالي نوي دي موټرنوی دی
فکریې زوړدی خیال یې زوړارزو زړه ده ډیره

په یوه سوی مړی خدای نه جنتونه غواړي

# د شاعر نظر

زه يې پېژنم شاعر دی بل څوک نه دی
چې دالوی جهان وړوکی ورته ښکاري

د ورېښمواو زربفتو ښايسته ټوکی
دنادان په تن زړوکی ورته ښکاري

طوفاني دریاب ځني دمظلوم اوښکې
ددنيا بحرډنډوکی ورته ښکاري

چې خپل نفس نشي وژلی که سل وژني
نا توانه وېرندونکی ورته ښکاري

ددنيا فاني عيشونه نعمتونه
دسپي مخکښې پروت هډوکی ورته ښکاري

# رياکاره

ستا ټول کارونه خدايږو دی برای نام غوندې
رامعلومیږي ستافکرونه راته خام غوندې

هغه کارکړې چې ساده ګان وربانډې ژرغولیږي
دقام خادم نه يې دنورويې غلام غوندې

ریا اوظلم ارتجاع سره دښمن یمه زه
له ډېرناکامه درته کړمه احترام غوندې

رښتیارښتیا به وایم زه که هرڅه پیښ شي راته
آخربه کړم دټولوخلقودرته پام غوندې
زما نه ډیره شوه هوښیاره ته لا یې هغسې
ترخوبه مونږ ته پرتې وایې دسرسام غوندې
په ټول عالم دی سپین سباشپه شوه د ټولو سحر
په تاراځي نوی تیاره اوس دماښام غوندې
څه چې مرغان ووټول ازاد شوه قفسونه شوه مات
ستا ببرسراوڅنې ښکاري راته دام غوندې
دپښوغل خلقودمخه کړچې غلاونکړي
اودس یې نه ؤ په لمانځه کې شوامام غوندې
داسې مونځونه دې ډیرکړیدي دخلقومخکې
نیسي روژې خوروژه ماتی وي حرام غوندې
څادردې سپین لکه سبادی پخپل سرخورکړی
مخ دې چې ګورم راته ښکارې تورماښام غوندې
ډیردې غلط کړه توره شپه دې لکه ورځ وښوده

په نیمه پوه شه دابیان دی ناتمام غوندې

# دحقیقت ورځ

چې پلوله مخه لرې دهرچاشي
دارنګینې جامې ثیرې دریاشي

حقایق ټول رابهرشي له حجابه
پټ کارونه راڅرګندزمااوستا شي

که رازونه که رمزونه که اسراردي
لکه ستوری د آسمان هسې رسواشي

مقصدونه، غرضونه، عملونه
بې پردې اوبې سیرته برالاشي

دتلبیس ښایسته رنګونه ټول شي محوه
پخپل څېرښکاره روا اوناروا شي

دهرچا زړه کې چې هرڅه وي لیکلی
دی پخپله دهغه نقش ګویاشي

هغه دغه ښه اوبدمخونه لوڅ کړي
توره شپه له مینځه لاړه شي سباشي

لیک دحق اوحقیقت وي په هرلاس کې
دتیاروشپوواقعات واړه رڼاشي

ډېرښایسته اوسپین مخونه به تک توروي
ډېرښاغلي به په دغه ورځ سرتوروي

# دلته شته بل چیرته نشته

د سیلاب مخه چې دشګوپه بندونوتړي
ژبې اوخولې دملایانو په دمونو تړي
درنځورتبې په ټوټکوخامو تارونو تړي
بل چیرته نشته دلته شته داکرامت پښتونه
چې وران ویجاړ جهان مشرانو ته ودان ښیي
چې طوفانونه، زلزلې آرام جهان ښیي

صادقان تورکړي خاینان ډېرصادقان وښيي
بل چیرته نشته دلته شته دامهارت پښتونه

ددین پرده کې چې دعیش عشرت دنیاکړي پټه
ددنیا ناوې چې خرقه کې دګداکړي پټه

نفس پرستي چې په جامه کې دتقواکړي پټه
بل چیرته نشته دلته شته  داریاضت پښتونه

وې بېسواده دمکتب معلمي به کوي
لیکل یې نزده دبیري محرري به کوي
ایشیایورپ نه پېژني کارسیاسي به کوي
بل چیرته نشته دلته شته دالیاقت پښتونه

یوه ذره نقصان پخپل شان کې لیدلی نشي
هیڅ اعتراض پخپل کاربانـدی قبلولی نشي
هرڅه چې کړي ځوک پکې خوقدرویلی نشي
بل چېرته نشته دلته شته داسیاست پښتونه

## سپوږمی

داسمان په زړه کې ځای دی تانیولی

توره شپه دې په سپین مخ باندې رڼا ده

مخ د ځمکې دې تمام دی لټولی

په هر کورکې دې پرېوتې تجلیٰ ده

ټول جهان دې په رڼا کې دی لیدلی

راته وایه چې په کوم کورکې لیلیٰ ده

کوم چمن کې غوړېدلی دی ګلونه
چاوهلی په لنـدې زنه خالونه

ارمانونه ، افسوسونه ، حسرتونه

دمینو دغمجنودخوارانو

غفلتونه ، لغزشونه ، مکیزونه

دمشرانو دمستانو دخوبانو

چپاوونه ، یرغلونه ، شورشونه

دچنګېزدسکندردپرنګیانو

دې هیوادکې تالیدلی دغه واړه
ته دهرچاپه سرباندې یې ولاړه

په کعبه او بتخانه کې لیدل کېږي

مسلمان ګبروترساسره آشنايې

هریوه ته دېره ښکلی معلومېږي

په ربښتیاچې دتمام جهان لیلیٰ یې

داسمان زړه کې ایمان غوندې ځلېږي

دخدای کوردی داجهان ته یې رڼا یې

چې له نازه چاته سم کله نه ګوري
هغه سترګې منتظرې ستا په لوری

ښه پوهېږم تا هم زړه په چا بایللی

ځکه غرونه اورغونه لټوې ته

داغ دمینې دې په زړه کې دی ساتلی

په خوبانو پسې سترګې ګرزوې ته

ددلبروقدرتاښه پېژندلی

لاس اوپښی ددلبرانو ښکلوې ته
دهرښکلی څنګ ته ځان تارسولی
دخوبانوغېږکې ځان تااچولی
نیمه شپه یې دقبلې خواته روانه

ته دخدای دکور ډیوه یې نوراني

ستا رڼا ده په هرچاباندې یکسانه
ستا له فیضه لري برخه زنداني
محوه کړی دي تیاره ده له جهانه
لوړمقام دی خدای درکړی آسماني
نورویده دي ته یې ټوله شپه بیداره
ستا ډیوه وینمه بله ترسهاره
خوشحالخان ستا په رڼا کې ګرزېدلی
دپښتون دننګ دپاره غرورغوکې
احمدشاه شېرشاه میرویس دې هم لیدلی

دوطن دننګ ناموس لویوجګړوکې
ترایران اوتر ډېلی دی رسېدلی
دپښتون دتورې بریښ په ځلیدوکې
غزاګانې تالیدلی دپښتون دی
تالیدلی فسادونه دګردون دی
وریدلی چې په دې غرونو رلۍ دی

بهیدلی پکې خړ سیلابونه

را الوتی چې په دیوطن سیلۍ دی

تا لیدلی دلته هر راز طوفانونه

لا هماغسې ولاړې زمونږ کېږدۍ دی

نه مره کېږي په هیڅ شان زمونږ اورونه

تا زمونږ په شان لیدلی کوم تبردی

مونږ مات کړی دلته سد د سکندردی

ستا رڼا کې پیداکېږي نور فکرونه

شاعران اخلي له تاځنې الهام

په کتوکې درته وایي پټ رازونه

یار اشنا ته لېږي ستا په لاس سلام

تاسره وینمه بل راز تاثیرونه

ته په هره شپه راوړې نوی پیغام

په تاباندې داشنا مینه ماتیږي

ددردمنو تسلي دربانديې کېږي

# د آزادۍ وږمه

پسرلي ؤ تازګی وه غوړېدلي ؤ ګلونه

دګلانو موج کې پټ وو د وطن غرونه رغونه

صحراډکه وه له ګلو هر طرف ته لا له زارؤ

تول وطن ګل وګلزارؤ هره خواؤ ګلشنونه

لمر لانه و راختلی شین سحر تازه هوا وه

دبهارپه ننداره وم نه غمونه نه سوداوه

په آزاده هوا باندې تازه کېږي مړ اوې زړونه

دهیچا په قیدکې نه وم خومره ښه ښکلی صحراوه

پخپل سر هرطرف تلمه نه و حکم نه امرونه

بېخودی کې تلمه تلمه ناخبره لاړم باغ ته

ښه ګلزار ښایسته ګلشن وخوهرلورته دېوالونه

نظربندو مخه بنده لرې کتل نه و

فراخې د زړونو نه وي چې ایسارشي نظرونه

دبېدیا خلق په باغ کې خوشحالي نشي موندلی

خوښوي دصحرا خلق داوچتوغروسرونه

یوزه نه وم غوټۍ هم وه په هغه ځای کې دلګیره

بلبلان ؤکه توتیان ووکول ټولو فریادونه

چې ناخاپه له صحرانه دبهاروږمه پیداشوه

ونوبوټوورته تیټ کړه په تعظیم باندې سرونه

زړه تنګی له باغه لاړه غوټۍ ټولې په خنداشوې

دازادو صحبتونه لري څه ښه تاثیرونه

چې له باغه وتی نشي په قفس کې وي که نه وي

ګلستان ورته زندان دی شته زندان کې هم ګلونه

# په غره کې

لمرلويدلی ۇ تياره په خپريدو وه
دماښام توره پرده په غوړيدو وه

دوطن په يوه غره کې ګرزيدمه
له فطرت سره په زړه کې غږيدمه

هلته جنګ دغره په اړخ کې ۇ کورونه
پکې بل شوه دماښام تازه اورونه

دهرکور سيمه درنه معلوميدله
دغيرت ورمه هرلورته چليدله

دګړنګ په سرولاړوم په حيرت کې
ښکاريده راته هرڅه په ډير هيبت کې

هيبتناکه او مهيبه ننداره وه
ددهشت لويه تابلو ښه منظره وه

درانه خلق وو درانه يې ووخويونه
شته په غرونوکې دارنګه تاثيرونه

سادګي کې خاوندان دډيروقار و
يوپه بل يې اعتماد او اعتبار و

هرڅه تېت ښکاريده دوی ته له خپل ځانه

دبادار او دمزدورنومونه نه وو

دآمراود مامور فرقونه نه وو

داسې نه چې يو خادم وبل مخدوم و

يا يو سپوروپه موټرکې بل محروم و

زندګي د ټولو يوشان ښکارېدله

په هرڅه کې يکرنګي معلومېدله

سادګي وه صفايي وه دينداري وه

يو په بل کله لويي کلا نکاري وه

نه ډاکترنه درملتون و نه دوا وه

درنځور علاج خيرات وبيا دعا وه

علم نه وخوپه خداى تېنګ اعتقاد و

نه ټګي وه نه چلونه نه فسادؤ

له هرچانه ډېرنژدې ؤ شنه اسمان ته

ډېرتابع ؤ د خداى حکم اوفرمان ته

بې له خدايه چاته نه راتېټېده دوى

په دنياکې له بل چا ، نه ويرېده دوى

دوى ساتلى ووپسونه له لېوانو

دوى ايستلې وې څرمنې له پړانګانو

قصابان نه ووشپانه و دپسونو
خومره فرق دی دښارونو اودغرونو

شپا نه غروکې وي ښاروکې قصابان وي
هلته نه وي بنداوقید دلته زندان وي

# تحول

هغه چې وزمونږ آغا او زمونږ خان غوندې
اوس معلومیږي څه قدرته پریشان غوندې

پاڼه او وښتی ده په بل مخ اوضاع بل رنګه ده
نور دي څوک نه ګرزي فرعون او د هامان غوندې

چې یې حضورته په اسانه هیڅوک نه رسیده
لیده کا ته یې اوس هرچاته شوه ارزان غوندې

وایي خواران اوغریبان اوس بادارانولره
زمونږ په سردپاسه مه ګرزئ اسمان غوندې

راښکته شئ کبرو هوا او له غرور ورځنې اوس
دانور عالم هرګوره وګڼئ خپل ځان غوندې

باداري پریږدئ خادمان شئ دوطن اود قام
په خوار غریب شئ پس له دې لږ مهربان غوندې

هلته چې یوانسان دبل لکه غلام اوسیږي
په هغه ځای دخدای لعنت اوري باران غوندې

باداري نشته په اسلام کې نه په کفر کې اوس

چې دفردوس په شانته وي او باداران وي پکې

هغه وطن خداېږوګڼمه دزندان غونډې

ټول انسانان دي برابر اصيل کم اصل نشته

په دې خبره ولې ته شولې حيران غونډې

راځئ چې يوشان دملکرو په شان کښېنوسره

غروراوکبرپريښودل که نه وي ګران غونډې

دملګرتيا ژوندکې خوندونه او خيرونه دي ډېر

تاسې يو څوورځې خو وکړئ امتحان غونډې

نوروسره څان برابر ګڼل مشکل مه ګڼه

مشکل کارونه به خداى تاته کړي آسان غونډې

راشه دعدل مساوات لکوټې خوندوګوره

که پښيمان شوې دربه کړمه څه تاوان غونډې

# حسب الحال

زمونږ دتورې شپې احوال بادسباته وايه

دپټنګانو بېتابي دعشق رڼا ته وايه

رندوته مه وايه دسپين مخ او دتوروزلفو

دسروګلونويابلبلې بوراته وايه

رنځورته وايه ددوا او د طبيب دراتلو

دمېلمستيا دساعت تېرى دښکار بل چاته وايه

دعیش عشرت قصې کوه له دولتمنوسره

دخوار غریب او دمظلوم افسانې ماته وایه

که دخیرات زکات او سقاط دې چانه واورېده څه

په منډه ورشه کوم آخوندغوندې ملاته وایه

چې هیڅ تاثیرورباندې نه کوي او هیڅ نه کوي

د وطن غم رئیس وزیرلویې ارواته وایه

که ډېر بحثونه دې زړه غواړي او هرقسم وینا

هره خبره چې وه یوځلی شورا ته وایه

ورسره مکړه جدي بحث دعمل خبرې

که دې کوم ښه بیت چانه واورېده ګویاته وایه

چې دې ناپوه اوبېکاره په چوکۍ ولیده

ته یې په هرساعت په هرځای کې هرچاته وایه

که نالایق ته چاڅه نه ویل او نه و تمیز

کوریې مرګي ته وښیه توري بلاته وایه

قسم خواره دې که په کاروواو د دروغوشاهدان

هرڅه به خدای کاندی اسان ملک کاکا ته وایه

لیلۍ دې مسته او تازه ګرزي چړچې دې کوي

دعشق غمونه لېونیودصحراته وایه

چې طبیعت یې ښه شي موټې موټې غوښې واخلي

آغاآغا په هرساعت بادارآغا ته وایه

# لوبې کوي

پــه ريــره دبابــا اوس ماشــوما ن لــوبې کــوي

خپــه يــم پــه مــشرانو چــې کــشران لــوبې کــوي

پــه مدحــه پــه ســتايلو پــه بوټونــو پــا کولــو

داخلــق نــن ســبا پــه والاشــان لــوبې کــوي

چــې هرطــرف يــې بيــايي پــه هماغــه طــرف درومــي

پــه ځينــو کــاردارانو درباريــان لــوبې کــو ي

ســپاره يــې پــه اوروشــوه چــې پــه دې فــن کــې اســتادو

واړه پــه لويوبانــدې دغــه شــان لــوبې کــوي

حاکمــه خبرنــه يــې تاتــه څــوک نــشي ويلــى

پــه تــا بانــدې خوتنــه ملکــان لــوبې کــوي

چــې ســاتي بيزوګــا ن او ټولــه ورځ شــادي بــازي کــا

ډېربنــه دی ترهغــو چــې پــه انــسان لــوبې کــوي

کــه هرڅــه دې زره غــواړي هغــه کېــږي چــې پيــسې وي

رشــوت پــه رشــوت خوربانــدې هرشــان لــوبې کــوي

ماوليــد مــردار خــوردی جــنګ مقــام تــه رســېدلی

دستورنــشان يــې واخيــست پــه ډېــران لــوبې کــوي

دســپوقدرزياتيږي پــه هغــه ځــاى کــې هرګــوره

چــې تــل يــې پــه چرګــانو ګيــدړان لــوبې کــوي

دغلــوملګری کېــږي هغــه وخــت کــې تمــام خلــق

هرڅه هلته بل شا ن و ي حقيقت نه معلومېږي

په سترګواو نظرچې مداريان لوبې کو ي

جوړيږي نه هېڅکله خو دمرګ تروږڅې پورې

زمونږ په رنځو رانو پساريا ن لوبې کو ي

دمچ مېږي کارنه دی چې په سره اورځان ستي کا

په بلو لمبواندې پتنګان لوبې کوي

# انسان

زه جسم نه يمه ماروح ددې جهان وګڼه

تيټ مې مه بوله بام دخوني مې آسمان وګڼه

دخاوروکتوپه تخت ناست يم په هواکښې ګرځم

ټول حيوانات مې دي تابع ماسليمان وګڼه

تياره کښې نه يم په آسمان کښې مې ډيوه بلېږي

دآسمان واړه ملايک مې شاګردان وګڼه

داټول نقشونه دجهان اومختلف رنګونه

زما په ذوق اوارادې پسې روان وګڼه

په کايناتوباندې زه هرقسم لوبې کوم

بحروفضامې ديوې منډې ميدان وګڼه

شکايت نکړم له آسمانه څه ګيله نلرم

زما له لاسه دفلک خيرې ګرېوان وګڼه

سره له دومره اقتداره چې قدرت راکړی
په نری تارکښې مې دزلفو آوېزان وګڼه

دښکلومینه مې په عقل وفکرلوبې کوي
چې ستا وربل شي پریشان ماپریشان وګڼه

دعشق پنجونه نه خلاصیږم دلښکروپه زور
دایازمینه کښې اسیرشهنشاهان وګڼه

دلیلی یواشارات بس دی دعاقل دپاره
دعشق سوداکښې لیوني ډېرهوښیاران وګڼه

دعشق اومینې په حرم کښې زه لوی شوی یمه
خوک چې بې مینې ژوندکوي هغه حیوان وګڼه

چې دجمال دېوه شوه بله پتنګان شوه پیدا
لومړی پتنګ ددغې شمع ته انسان وګڼه

# معنا وګوره

سروصورت یوازې مه ګوره معنا وګوره
په سرکې فکرزړه کې پټه مدعاوګوره
وینا یې واوره بیا یې وګوره عمل ورسره
میل ورغبت غایه هدف او تمنا وګوره
په آشنایانو او ملګرو کې یې فکر کوه

څه وايي څه کوي او څه غواړي دڅه دپاره ؟
ورته په حېر حېرله هرلورې هرې خواوګوره
نن دې چې وليده يوازې اوله نوروسره
په يوځل مکږه قناعت سبا يې بيا وګوره

مه وايه داچې نوريې نه ګورم ليدلی مې دی
بيا په دقت دده تما مه مشغولا وګوره
وريسې پټ پټ څارکوه څه پټوي څه نسيي؟
دده په کار کې دده غلا دده رياوګوره

تاثيرپې څنګه دی په نوروپه ده څه تاثيردی؟
دده طاقت او دده ټوله کمزورتيا وګوره

په خطراتو سختو ورځو کې به څه رنګه وي
استقامت او حوصله دخپل اشنا وګوره

# عدالت

فرق دحق اودباطلولوی حکمت دی
ددماغ اوزړه همدغه عبادت دی
چې صادق اوخاين بېل کړي يوله بله
نن په کار مونږته همدومره بصيرت دی
بې له علمه بې له عدله بې له رحمه
په چا باندې رواکله حکومت دی
که مې څوک په لنبته ووهي ظالم دی
که قانون مې غوڅوي سرعدالت دی

دیوه شخص نوکري خوغلامي ده
لوی عزت دخپل وطن اوقام خدمت دی
چي خپل ځان ګڼي خادم دخادمانو
په دي رازښه پوهېدلی نن الفت دی

# هوښیاراو دنیادار

اوربېدلی مي قصه له راویانو
که یې اورئ ای دعقل خاوندانو
په کوم وخت کي چېرته لېري یوما لدارو
شوم بخیل او ډېربې عقله دنیا دارو
هوښیاري پوهه خدای هیڅ نه وه ورکړې
انساني برخه یې ډېره وه نیمګړې
یوه ورځ یې پخپل اوښ له کومي خوا
څه غله راوړله کورته د ربا
ورسره یوسړی مل شو دیونان
چي حکیم ؤ د خپل عصر او زمان
هغه ووېل دادومره دروند وری
په اوښ باندي دی لوی ظلم او تېری
راته ووایه چي څومره دی دابار
دابار کړی دي غنم دی او که جوار
سړی ووی له پنځوسو منوتېردی
دا وری خوپه رښتیا چي په اوښ ډېردی
مګر څه وکړم چي نه وه چاره بله
ضرورت اوښ ته دا رنګه پېښوله

دي دپاره چې اندېول شي برابر

اوښ ته جوړ شو درونه دوری لکه یوغر

حکیم ووې باراوپېتی دنادان

یو په دوه د ي په رښتیا په دې جهان

خاوري مه وره خوشې مه درنوه بار خپل

واچوه دواړو اندېوکې د جوار خپل

چې سړی دده وینا ته لږ خه ځیر شو

ډېر خوشحاله د حکیم په ښه تدبیرشو

خپل ملګری ته یې ووې ای لقمانه

په تدبیر او عقل زیات له ټول جهانه

ته چې دومره ډېر ښاغلی او هوښیارېې

راته ووایه چې څومره دنیا دار یې

سره او سپین څومره لرې او ځمکه څومره

چې خدای تاله درکړی عقل هومره

حکیم ووې هیڅ شی نلرم فقیر یم

سره اوسپین نشته نه ځمکه یوه پوله

سړی ووېل ستا نه منم خبره

ګنم خپله ناپوهی له تا نه غوره

څوک چې مال او دولت نلري هرګوره

دهغو مخونه هېڅکله مه ګوره

ناپوهی دبدبلایانو یو په سله

ده بهتره ستا له عقل بې حاصله

دهوښیاراو دنیادار قصه شوه خلاصه

اوس دخدای دربارته جګ کړئ دواړه لاسه

پروانشته که قصه رانه دعا شوه

ځکه ماته اوس پیداداتمناشوه

له دې ملک او دې وطن نه دې وي لرې

دغه رنګه بې قدري دا رنګ خبرې

رونــد دې شــي هغــه بـدای او معتبــر

چې به ګوري فضيلت په سپک نظر

دا هيواد دې خــدای ساتي له داسې حاله

چې معنا به څوک نه ويني بې له ماله

مال دولت دبدايانو دې مدام وي

خو دعلم لوربيرغ ته دې سلام وي

# دپسرلي انتظار

چې اميدورته دباغ اودصحراشي

چې له فيضه يې ګلونه راپيداشي

چې سمسوريږي باغ وبڼ دپښتو نخواشي

هغه وريځې مې ترسترګو سترګوکيږي

**************************************************

بلبلان په خوب کې ويني سره ګلونه

مينان ويني وربل لاندې خالونه

پتنګان ويني بل شوي مشالونه

دآرزوپه مخکې ګورم څه ځليږي

**************************************************

له سپيرو خاورو به پورته بياګلان شي

معطربه په ورمو دغه جها ن شي

په هواکې به ښکاره نوي مرغان شي

چې بهارشي نوي بوټي زرغونيږي

**************************************************

توتکۍ به راشي نوی کوربه جوړکړي
خواربلبل به خدای په ګلوباندې موړ کړي

پسرلی به بیا خوشحا له لوی او ووړ کړي
تحول په زمانه کې خرګندیږي

# دپسرلی زیری

راغی پسرلی بیا به وطن ګل وګلزارشي

بیا به په چمن کې دبلبلو چغهار شي

دوه خواره یاران به بیا طواف ددې ګلش کوي

جوړبه په وربل باندې دسروګلوقطارشي

ډکه به لمنه دصحرا له زیړوګلووي

بیا به شنه شالونه غرو رغوباندې اوارشي

کندې به باریږي داوښانو غرغړې به وي

رنګ په رنګ تیکري به بیا ښکاره په دغه لارشي

وایې به شپانه دشوق سندرې بیا دغروپه سر
وچ سپیره ډاګونه به رنګین اولا له زارشي
جوړبه په هرځای کې بیا دلوبومیدانو نه شي

بیا به له مستۍ نه شروشورجګ دآبشارشي

ښې خوړې سندرې به له شوقه لوی واړه وایي

پانې به ریبري غر به پورته دچنارشي

ښکلي به په ګلوپسې ځي دباغ په لوری بیا
نازبه د خوبانو ټول په برخه دمالیارشي
زړوکې به ګرمي او حرارت پیدا دمینې شي
خاخکی دخولو به طراوت دمخ دیارشي

تاک به شي سرسبزنوی کیف به بیاپیداکاندي
ځوړندبه سرونه دغنچوبیا په خمارشي
یوځای به بلبله شي که خدای کاندي له ګل سره
ښه ورمه دګلو به پخپله ښه رېبارشي

# دبهارننداره

خومره ښکلی معلومېږي    دوطن غرونه رغونه
سپینې تورې وریځې وینم    دلته هلته غرونه غرونه
داخه کیف او خه مستي ده    په مستۍ راغله رودونه
راپیدانوی مرغان شوه    اورم نوی سرو دونه

داتېن دپاره زاڼو قطارجوړکه په هواکې
ښځې نریوځای ګډېږي دویساک په تماشاکې

په اسمان کې ډزې کېږي    لویه ورا لویه ښادي ده
بودۍ ټال دی اچولی    بیا دلوبوتیاري ده
سرې اوشنې لیکې ښکارېږي    داتابلودپسرلي ده
که هرچاته ښکاره کړی    فلک خپله دورنګي ده

غړوسکه غړوسکه وریځې وینم داسمان غېږکې ګډېږي
که په سپینو مخوباندې وربلونه تور ښکارېږي

دبهار بادونو راوړل سحرباغ ته پیغامونه
ونو واچول په غاړه دګلانو امېلونه
له مستۍ په نخا راغلي وړې خانګې لوی ښاخونه
دسحر ماښام ګډاکې شکوې یو دبل هارونه

څه ښادي ده پدې باغ کې راته وواېه مالیاره
ونوبوټوشنه شالونه په سرکړی څه دپاره

کال شونوی موسم بل شو په ګلونو بهار راغی
دسروګلوهار په غاړه د بلبلو قطار راغی
داغ دمینې په زړه باندې ښایسته لاله زار راغی
دبهار وږموسره بیا مستي راغله سینګار راغی

اسمان بل شو ځمکه بله هوا بله معلومېږي
جلوه بله نغمه بله مینا بله معلومېږي

دګل پاڼوکې سوراوردی چې بلبل کړي فریادونه
که دګل بوټي ته وایي دخپل سوی زړه حالونه
همدغه سوی نغمې دي دبهار ارمغانونه
څوک غزلې ورته وایي څوک دعشق حکایتونه

چې هیڅکله نه زړېږي دبلبلو ترانه ده
چې هرچاته ښه ښکارېږي دښایسته ګلوغنچه ده

# پسرلیه

پسرلیه! بیادې راوړه سره ګلونه
بیا به جګ کړي دبلبلو فریادونه
سرې لمبې دې ارغوان باندې کړې بلې
دګل پاڼوکې دې نغښتي سره اورونه
شنې لوخړې پورته کېږي له چناره
په شنو څانګومرغان ځکه کړي شورونه
یادغرو رغولمنو اوراخیستي

دلیلیٰ له خاوروسره لا له شوه پورته
پکې وینم دمجنون د زړه داغونه
ستا له رنګ په رنګ ګلونو معلومیږي
چې لرې ډیرې جلوې ډیر نیرنګونه
سرخ رویي دګلشنونوپه نصیب شوه
په راتلو دې هره سیمه شوه زرغونه
دګلانو په ښایسته ښکلی حرم کې
بوراګان کړي له غنچونه طوافونه
دا دګلوپه مخ وینم که دښکلو؟
مرغلرې که خولې که شبنمونه
څوک په باغ او څوک دغرونو په لمن کې
دبهار له فیضه وینې ښه مخونه
پسرلی یاد بورا یا دبلبل دی
اوښان کله کړي دځوزاوګل فرقونه
دبلبلو په نظر ګلونه ګوره!
لیلیٰ نه ده چالیدلی بې مجنونه
دګل پاڼوکې که ښکلی معنیٰ وینې
دې رنګین شعرکې شته ډیرمضمونونه
خاوندان دبصیرت شعوراوکشف
بې الفاظودمعنی کوي سیلونه
دړندوکڼوبهارخه بهارنه دی
اوس پکاردی بیناسترګې زورغوړونه
سترګې پورته که له خوبه رابیدارشه
ویده نه لري څه برخه له ژوندونه
سوزوساز دشوق وذوق ته دې رابولي
چې سحرباغ کې بلبل کړي اذانونه
عبادت کوی که فکر، که خماردی؟

څه نغمې دي څه جلوې څه ننداري دي
تل دې وي ښکلی مخونه ښه غرونه
باغ سمسوردی سرېندې پکې غرېږي
نه څه وینې نه څه اوري دېوالونه
په شعور دبلبلانو بې له ګلو
په دنیا کې نشته نور حقیقتونه
هرڅوک غواړي هغه څه چې زړه یې غواړي
څاروی ځکه لټوي شنه چمنونه
ماورا له رنګ وبوی له خوندوصوته
سړی مومي پسرلی کې نورکیفونه
دعشق اوردی اوکه برق دښومخونو
چې سینوکې یې تاوده کړه ساړه زړونه
بیا دلمرزړه کې پیدا زیات حرارت شو
په جوش راغله بیا دوریځودک خمونه
دفلک له شنې مینا صهبا څڅېږي
خلق وایې چې ورېږي بارانونه
دسیندونو مستی ورځ په ورځ زیاتېږي
شپه او ورځ شوروغوغالري موجونه
دباغ کورته بیا ښادی خوشحالی راغله
ونوواچول په غاړه امېلونه
په رنګینوښوجامو کې ګډاکاندی
له مستیه شکوی یو دبل هارونه
هیڅ پروایې په چانشته ورته ګورئ
په اتڼ کې ښکلوي څانګې ښاخونه
دبهار دنسیم څرنګه تاثیر دی
ونې راغلې په نغمو کوي رقصونه
دا موسم دښکلی توب که دمستۍ دی

دبهار ارمغان ګل دی که بلبل دی
نغمه ښه ده که دښکلود یدنونه ؟
غوراوسترګې بیلې لارې لري زړه ته
دلیدو ار وېد وبیل بویه خوندونه
پسرلی کښې که د ګلو ننداري کېږئ
هېروئ مه" د بلبلو زیارتونه„

پس له خو قرنو د غور دبلبلانو
پښتنوته راځي هسې آوازونه
چې پخوابه پسرلی په دي هېواد کې
لونل غرونوکې ښایسته ښکلی لالونه
بل ښایست بل ښکلی توب، بل پسرلی ؤ
ښکاروندوی چې یې ستایلی سینګارونه
ورځې نورې ورمې نورې هرڅه نورو

په بل رازؤ داسمان هلته د ورونه
په لیمودې څه زاړه رانجه کړه پورې!
بیاوګوره دغوریانو او چت غرونه
سیمرغان اورستمان به پکې میشت وو
د منديش غره کې وو بل راز تاثیرونه
ددې هسکوغروله سره به ډیر لرې
شا مدام زمونږ بازانو کړل ښکارونه
داسمان درنوستوروځل چې وینم

په زړه نغمه کې هغه مستی ګورم

چې یې وران کړه دبمبڼو بودتونونه

سپین مخونو سروګلونوته چې ځیرشم

راپه یادشي سپیني توري سره لاسونه

فیروزکوه دغره لمنې په بل رازوې

اوسېدل پکې بل شاني اولسونه

دداور د ارم باغ په چینوباندې

دچنارپه ځای ولاړ صنوبرونه

ښایسته هوسۍ به مستې ګرځېدلې

ډک له سل رازه مرغانو ووبڼونه

دمرمرو د رخامو خول ماڼیو

دلمر سترګې برېښولې ترپرونه

دسر وزرو وو چرګان په دېوالونو

چې لر یې دالماسو وزرونه

پسرلی به ستا له سیمووتی نه شو

پکې تل وو څلور واړه موسمونه

لمر و بل سپوږمۍ وه بله ستوري نوروو

ته هم بل شان ایسېدلې ای پښتونه

# دبهار هر ګلی

هر ګله راشي تازه بهاره — تا دی راوړی ګلان بې شماره

نری شمال دې دم دعیسی دی — سحر چي راشي له جګ کهساره

آب حیات ؤ، ستا بارانونه — تروتازه شول ټول چمنونه

هیواد زمونږ دي شین ګلستان کړ — هرطرف ښکاري دګلوغرونه

دبلبل خاله پانه دګل شوه — شاعري برخه نن دبلبل شوه

غنچه دګلو په حقیقت کي — مطلع دشعر روح دغزل شوه

تل دي بهاروي زمونږ وطن کي — لکه چي روح وي ښایسته بدن کي

څانګي دګلودي تل تازه وي — خزان دي نه وي زمونږ چمن کي

# دګلزار ننداره

بیا وطن ښکاري تازه نوی بهاردی — بیاپه غاړه دهر چادګلوهاردی

باغ کي ځوړند دی دګلوامیلونه — ته خوګوره ورته څنګه ښه ګلزار دی

هرطرف څانګي ښایسته غنچي دګلو — دمستی دوره راغلی په بلبلو

ښي نغمي له هري خوا غوږته رسیږي — په رښتیا چي بهار وردی دستایلو

نن هرچاته خپله سیمه ښه ګلزاردی — داتا ثیر خدای نصیب کړی دبهار دی

مرغي په باغ کي دي خوشحاله زرکي غوکي — هرطرف ته چي نن ګوري لاله زار دی

# دغروپسرلی

له ګلوډک دي غرونه رغونه / زرکوسره کړي پښې لاسونه

دسپینو زرو تختې ښکاریږي / سړی چې ګوري نن آبشارونه

بهار ګل راووړغرواورغوته / دشپنو پام شو خپلوناروته

زرکه ځان ولې بیا له ګړنګه / مستې ختلې دغروسروته

صحرا په ګلوخه ښه ښکاریږي / ګلان په ښکلوښه ښکاره کېږي

# دکال ځوانی

ځمکه تمامه شنه بخملې ده / نوی بهاردی دکال ځواني ده

دازوړ جهان چې بیرته ځوان شوی / اغیزه ټوله د پسرلي ده

ځمکې پخپل مخ ایښی ګلونه / ونوپه غاړه کړه امیلونه

دکال ځوانی ده وطن سمسوردی / خوشحاله ګرځي ځلمي او جونه

سحر سبادی غوټۍ غوړیږي / دګل په پاڼو شبنم ځلیږي

عجب احوال دی نن په ګلش کې

ګلونه خاندی بلبل ګریږي

# دهقان ته خطاب

ای دهقانه وخت دکار اوستا دزیاردی

ستا دلاس گټې ته هرڅوک امیدوار دی

خپل وطن په هرراز بوټو ښایسته کړه

ستا په سعیه داوطن گل وگلزاردی

گوره پرې نږدې داځمکه هسې شاړه

دنیاده ستا دغوایي په ښکرولاړه

نن ملاتېته کړه خپل کارته غفلت مه کړه

بیا په خپل چمن کې گرځه هسکه غاړه

ستا دلاس گل ته بلبله خوشحالیږي

ستا له باغه هرسحرورمه تاویږي

ښایسته جونه ږدي ستاگلان اوربل کې

بوراهم ستا په گلانو تېرېږي

# دبهار ښایست

هغه ښکلوچې پخپل حسن سینگار

زړه له هرچاخئني وړلو په تلوار

ورته گوره چې نن ټولوزړه بایللی

په ښایست اولطافت دنوبهار

داښایسته ګلالی غرونه بې نظیر
په هرګوټ کې یې لیده شي یو کشمیر

هیڅ بلبل له دې چمن نه وتی نه شي
تېرل شوی دی دحسن په ځنځیر
خومره ښکلی ښکاره کېږي چمنونه

په لیدویې تازه کېږي مړاوي زړونه
ښکلي ټول نن دبهار سیل ته وتلي
پسرلی کې لیدل کېږي ښه مخونه

# ستا دپاره

ای زما دزړکي سردسترګوتوره

دبهار وږمه تاویږي ستا له کوره

داجهان بهار ښایسته کړ ستا دپاره

ته له خپل قدره خبرنه یې هرګوره

که اسمان اوکه داځمکه که هواده

که دلمر اودسپوږمۍ سپینه رڼاده

دغه واړه خدای پیداکړه ستا دپاره

دنیا ټوله ستا ددوه سترګوبهاده

ګلوځان ښایسته کړی نن زمان دی

ستا دپاره پیداشوی داجهان دی

هرشی غواړي چې مقبول شي ستا حضورکې

دلاله په زړه کې هم دغه ارمان دی

# دباغ وني

یوه باغ کښې وې ولاړې ډیرې وني

هره پاڼه یې لایق وه دستاینې

ددوی نیلې یوله بله وې ترلې

غوړېده غوړ یوه چمن کښې اوسېدلې

دغه واړه دیوه دهقان دلاس وې

لکه ګوتې دیوه لاس تېت وپاس وې

هریوې بېله مېوه اوبېل یې نوم ؤ

رنګ اوخوند کښې یې توپیرښکاره معلوم ؤ

مګردوی لکه دیوګلشن ګلونه

یوله بله نژدې کړی وو لاسونه

خواپه خواغاړه په غاړه خوله په خوله وې

له یوې خاورې پیدا دیوه کاله وې

ددې ټولو یوخزان اویوبهار ؤ

په حقوقو کښې يې نه وخه تو پير
باغبان ؤپه هري وني ډېرزهير
له يوې ولي اوبه ورته راتللي
په يوه هواکښې تولي لوئېدلي
يوله بله يې په هرحال کښې شرکت ؤ
په تمامه معنى يوصحيح ملت ؤ

# بېديا او د بهار وږمه

يوه ورځ له کوراوکلى شوم بهر
په يوه لويه بېدياشوم برابر
ښه وږمه ناڅا په راغله دبهار
ګوندى دلته کړي پيدايوښه ګلزار
غوټۍ وسپړي د ګل طراوت زيات کړي
خپل تاثيرپه مړاوبوټوکې اثبات کړي
مګر هيڅ يې پيدانکړه بيرته لاړه
خداى دې نکړي دچاځمکه داسې شاړه
دوطن دهقانه وروره وايم تاته
غوږښه ونيسه زما عرض ووناته
دوطن په حال که ستاګڼه نظرواى
که په تاکې دهمت يوڅه اثرواى
داډ ګربه اوس په شنو ونوسمسور ؤ
هرسحربه دبلبلو پکښى شورؤ
اوس به دلته د سروګلو ښه چمن ؤ
ښايسته به له هرچانه ستاوطن ؤ
دخپل پلار نيکه ښه ځمکه دې خاره شوه
شينکى باغ دې نن دمړو هديره شوه
راشه راشه بيابان خپل ګلستان کړه
پخپل زيار او خپل همت وطن ودان کړه
بياراغلى پسرلى نيالګى لګېږي
ستا په خاوره کې هربوټۍ ښه لوئېږي
ستا په سعيه به داواړه وچ ډاګونه
په لږوخت کې شى سمسوراوښنه باغونه
هر بلبل به صفت کاندى ستا دزيار
افرين به وايي ستا په کاروبار
ستا دباغ ګلان به ږدي جونه اوربل کې
شاعران به دې ستايي تل په غزل کې
که تاکښينبوده دچاپه سرګلونه
هيربه نه کړي هيڅوک ستا دا احسانونه
ستا نيالګى که وکړي سيورى په خورانو
په عاجزاوپه غريب اويتيمانو

آخرت کې به همدغه ستا په کارشي
ستا هغه جهان به هم ګل وګلزارشي

# بلبل او نسیم

سبا ئي چې غوټۍ باغ کې وخندل
دسحر نسیم ته وویل بلبل

که ته لږ له نزاکت سره اشناوای
ستا په زړه کې که دعشق لږه رڼا وای

دغوټۍ خندابه تا نه هېروله
دګل شاوخوا به تادوره کوله

ستابه ځای ؤ شامدام په دې چمن کې
تا به څه غوښته دغرونو په لمن کې

په رښتیاچې صحرایان باغ کې تنګېږي
کورنۍ تربیه هډونه هېرېږي

ته په اصل کې دغرواودصحرایې
بې تمیزه بې شعوره نابینایې

ته ادراک دجمال هېڅ نه شې کولی
په معنی دمینې نه شې پوهېدلی

نه لرې زما په شان خوږه نغمه
نه توتی غوندې ښایسته ښکلی بڼه

ماته ګوره دګل سیمه نه پرېږدمه
په دې باغ کې شپې او ورځې تېرومه

چې دګل پاڼې توئېږي زه کړېږم
چې ګلان له بوټوشکېږي زه چغېږم

نسیم ووې چې ستا مینه ظاهري ده
دګل مخ کې ستاهمېش شوروزاري ده

ته ګلشن ته راځې هله چې سمسورشي
چې باغ وسپېري ګلونه نوستا کورشي

نن چې باغ له ګلو ډک دی ته وئېږې

په خزان کې دلته کله لیدل کېږې

عاشقان دیارپه هجرکې فریاد کړي

ځان قربان په یوه آن لکه فرهادکړي

په خزان کې ستادعشق څه اثر نشته

ستا په مینه دګلانو باورنشته

تا په خپل شوروفغان ګل پرېشان کړ

دغنچې زړګی دې وینې دازمان کړ

زه دې باغ ته هرسحریوځل راځمه

په خزان کې دګل بوټي ښکلومه

که په اصل زه دغرواودصحرایم

له هر چانه په دوستۍ کې باوفایم

کری کال ددې ګلش کوم پالنه

ددې باغ دهرې ونې ښه روزنه

زه له غرو راشم تازه دغه باغچه کړم

پیداتاته دګلانوښه غنچه کړم

ته اوس ناست یې شپه او ورځ دګل په څنګ کې

زه مدام یم له خزان سره په جنګ کې

زه په اصل خدای پیداکړم سرګردانه

ته زمابهار پیداکړې نکته دانه

ته دعوه دنزاکت اومحبت کړې

عیب ګویې مې دعادت او تربیت کړې

تربیت مې دښاغلوپښتنودی

چې هروخت کې مې نظرپخپلوغرودی

شینکی باغ مې دی پرې ایښی ستا دپاره
په خدمت کې یې زه ګرځم ناقراره
ته دچا په احسان هېڅ نه قایلېږې
ته همېش دګل په خواکې ښه غرېږې

# پسرلی او د ژوندانه راز

یوه ورځ دسیندپه غاړه شین سحرؤ
کاینا توکې ښکاره دژوند اثرؤ
پاس له غره نه په مستۍ اوبه راتللې
په یوه ګټه او بله لګېدلې

دسیندهرې خواته شین دونو بڼ ؤ
د مرغانو پکې شور او ښه اتڼ ؤ

ځمکې ایښی وو په سرښه ګلونه
هم په مخ باندې دښنوبوټوخالونه
غرتېول پټ وېه نښتروسرترپایه
دشپنو نارې راتلې له هره ځایه
داوبو ځور مې په سیندکې اورېدلو
زرکو غره کې دبهار صفت کولو
دځوانۍ دوره راغلې په جهان وه
په ګلانو ځولۍ ډکه د باغوان وه
تك شنه بوټی مې ولاړ و شاوخوا کې

چې لوی شوی ووپه دې تازه هواکې
چې کاته مې ددې بوټوښې ځوانۍ ته

يو ناڅاپه را په ياد وخت د خزان شو

په نظر کې مې تياره دغه جهان شو

ماويل چې داشنه بوټي تول وچېږي

پس له خوورځو داحال نه پاتې کېږي

هسې داګلان بهار دلته کرلی

دسېلاب مخ کې يې بوټي درولی

دا هربوټی چې نن دلته ستايل کېږي

دخزان په لوړله بېخه رېبل کېږي

چې خزان شته غوټی هسې باغ کې خاندې

بورا خوشې دګل بوټی ته ورداڼګي

ماسره دغه تشويش دغه سوداوه

پټه خوله مې له بهار سره وېناوه

ښه ورمه دپسرلۍ ناڅا په راغله

په راتلو يې هريوبوټی شوخوشحاله

زما غوړته راڼژدې شوه په تلوار

راته وې ويل دژوند ځينې اسرار

بېهوده يې راښکاره زما سوادکړه

دحيات معنیٰ يې ښه راته رڼا کړه

زه يې پوه کړم چې دابوټی فناکېږي

خوفناڅنې هېڅکله نه وېرېږي

ته هم ويره دخزان له زړه بهر کړه

په بهار کې دې ښکاره اصلي جوهر کړه

وده وکړه دبهار تاثيرقبول کړه

دژوندون په کارو باندې ځان مشغول کړه

که يوه ګړۍ ژوندون لرې دنياکې

په ګلانو خپله سیمه کړه ګلزاره
چې ونه اوسېږي ګوره خواروزاره

داچې بېرته له بره په پاتې دي شرقیان
سبب دادی چې ددوی ټول شاعران

په بهار کښې دخزان تصورکاندي
ژوندی ځان خپل ګڼي توروخاورولاندې

# دکایناتوتحول

یوه ورځ وومالیدلی داباغونه
نه داشنه بوټي پکې وو نه ګلونه

ټولې ونې یې سپېرې په یوه شان وې
بې مېوې بې طراوته هغه آن وې

نه بادام شګوفه کړې اونه ناک و
نه داشنه قباپه غاړه کې دتاک وه

نه دګل له بوټه ونښه ورمه راتلله
نه له ونو دمېوې طمعه کېدله

چې موسم دنوی ژوند اوبهار راغی
چې پالنې ددې باغ ته مالیار راغی

توجه چې دغه باغ ته باغوان وکړه
چې روزنه ددې بوټوانسان وکړه

بوټوسرجګ کړله خاورو رااوچت شوه
مخ په لوړ ترقۍ اودرفعت شوه

هريوبوټي خپل ګلونه راښکاره کړه

باغ سمسورشومېوه ونيوله ونو

نيالګی لوی شوه ددهقان په پام لرنو

استعداد دهريوبوټی شو څرګند

مېوو هم ټولو ښکاره کړرنګ اوخوند

دغه شان وګړنه حال ديو ملت هم

لکه باغ لري خزان يو مملکت هم

په هرچاراځي دارنګه موسمونه

دذلت او انحطاط بعضي دورونه

مګر کوم تاثيرچي باغ کي باغبان کړي

يوپه سل يي په ملت کي واکداران کړي

داشلم قرن موسم داعتلادی

دعرفان شين پسرلی اوسپين سبادی

دهرملک نيالګي اوبوټي رالوئيږي

ورځ په ورځ له سپيرو خاورو راجګېږي

دهقان سعيه کوي دباغ خدمت کي

واکداران هم په روزنه دملت کي

څرګندېږي دهرچاپټ استعدادنن

تازه کېږي باغ وبڼ دهرهېواد نن

ته هم هېچانه کم نه يې ای پښتونه

قايل ستا په استعداد دی تاريخونه

په تاباندې هم راغلی نن بهاردی

اميدوار ستا دلوی والی خپل واکداردی

بياښکاره خپل استعداداصلي جوهرکړه

له ايروځني خپل لعل رابهرکړه

نیالګی وګوره چې ورځ په ورځ لوئیږي

هم یې نیلی ځې مخ ښکته اوتینګیږي

هرطرف ته یې منډکی اوږدوي ځان

هره خواکې شپه او روځې لوړوي ځان

تحول په کایناتوکې لیده شي
ډېرافسوس دی که یوقوم پاتې ویده شي

# دباغ عمر

یوه ورځ په یوه باغ کې ګرځېدمه

دورمې په شان له ګلوتاوېدمه

وخت دبوټواېښودلو دباغوان ؤ

ښه موسم دجدوجهددانسان و

دغه باغ و ډېرپخوادلته جوړشوی

خوهماغسې ؤ ځوان نه ؤ زوړشوی

بعضې بوټی به که وچ او یافناشوه

کال په کال به په کې نورنیالګي پیداشوه

چمونه او خیابان به یې بدل شو

هره روځ به پکې جوړنوی محفل شو

یوه ونه به له بېخه ووتله

بله ونه به یې ځای کې دربېدله

مګرنوم دباغ هروخت په یوه حال ؤ

# داسمان لور

چې دهرسېرۍ دتورې شپې رڼا ده
چې ښایسته ورباندې غردښت وصحراده
داسمان ګلالۍ لورښکلی سپوږمۍ ده
لوخ مخ ګرځي ته به وایې یورپۍ ده
یوه شپه په شنه اسمان کې شوله ورکه
نه اسمان کې چالیدله نه په ځمکه

ډېرعالم یې منتظرو ولیدو
هرسړی غواړي له زره دیدار دښکلو
بله شپه چې لمرلوېدلی و ماښام ؤ

ننداري ته یې وتلی خاص وعام ؤ
هرچا دوه سترګې نیولې وې اسمان ته
هغې ښکلې محبوبې ماه تابان ته
چې ناڅاپه سپوږمۍ لږ غوندې ښکاره شوه
په هر چاباندې اخترشو نغاره شوه
چې دې ولیده ډېرزیات داروم دار خپل
هم تمام عالم مین اوخریدار خپل
نوراضي شوه دخپل مخ په لوڅولو
پیل یې وکړ په پلولرې کولو
یوه شپه به بلې شپې نه لوڅېدله
دحیا پرده یې مخ نه جګېدله
څوارلسمه شپه بهرشوه له نقابه
بېخي ووته د سترله حجابه
رڼایي د مخ یې هرطرف خوره شوه

نه يې سترګوکې څه شرم نه حيا وه
زښته ډېره بې پروا او خودنماوه

خولږ وروسته يې سپين مخ توره تبې شوه
چې ددې له مخه توره دانړۍ شوه

دخسوف اسماني تندرپرې نازل شو
نه پوهېږم څه پرې وشوه حال يې بل شو

ورته پاتې نه ښايست شو نه څه قدر
لکه مخ دګناه ګار تورشو دا بدر

پښتنوجونو ليدلی دغه حال دی
چې پلولاندې ساتلې يې جمال دی

# که نه وي

حق اوباطل نه معلوميږي حق بيان که نه وي
ظالم ته هيڅ نشي ويلی ټينګ ايمان که نه وي

پنځو روپوباندې يې ولې هره ورځ خرڅوي
دين وايمان دې مسلمانه ډېرارزان که نه وي

آه وفرياد دچا له لاسه دغه خلق کوي؟
چيرې بې رحمه خدای ناترسه ظالمان که نه وي

داميدانونه ولې سره دي په سرووينو باندې
په هر هېواد کې شرمښان ياقصابان که نه وي

ولې له ظلم نا رواسره جهاد نه کوي
داپه نغلو باندې ولاړ رياکاران که نه وي

لکه واړه په خوپيسو باندې غولېږي ولې
په خوی او عقل دالوی خلق ماشومان که نه وي

ستوری ددين به درته وايمه ملاصاحبه!
داریاکاره بې عمله ملايان که نه وي

خوار وغريب اوبېنواکه په راحت ؤ پکې

چې مظلومان کړي فريادونه دظالم له لاسه
ورته دوزخ وايه هېڅ او رلړم ماران که نه وي
داناداري دا ناداني دابدبختي له څه ده؟
زمونږ کارونه زمونږ فکراوخوی وران که نه وي

## غلط فکر

وران کاربه ودان ګڼې دلته که اوسيږې ته

حق ويل به زيان ګڼې دلته که اوسيږې ته

ورځې ته به شپه وايې چاکه ورته شپه ويلی

توربه سپين شيان ګڼې دلته که اوسيږې ته

هيڅوک ملامت نه دی وران که ټول کارونه شي

خپل قسمت به وران ګڼې دلته که اوسيږې ته

تيت خلق به جګ ګڼې ناست که په جګ ځای کې و

ځمکه به اسمان ګڼې دلته که اوسيږې ته

هرچا چې هرڅه کول ته به صفتونه کړې

هريوبه لقمان ګڼې دلته که اوسيږې ته

## صحيح فکر

که مې سرشي دهاتي له پښولاندې
که له پاسه مې راغورځوي دلاندې
که دزور او زورورو له هيبته
دغه ځمکه اواسمان شي لاندې باندې
تورته سپين نشم ويلی سپين ته تورزه
داميدې خوک له مانه هيڅ نه کاندی

## زما ګناه

نه مې دچاما ل خوړلی نه مې څوک وژلي دي
نه مې چاته ورکښه ياګم شوکله ويلي دي
نوره ګناه نلرم په دې ګناه مې مه نيسه
زړه کښې مې چې پټ ظالم ته بدغوندې کتلي دي
وخت داعتراف دی ګناه خپله درته وايمه
نه يمه منکرپه مظلومانومې ژړلي دي
داګناه دسترګوکه دزړه ده نه پوهيږمه
بدمې چې ليدلی خدايروبدمې هم ګڼلي دي

نه ومه خبرپرده مې لږ غوندې چې جګه کړه

نه دې دویلوهغه څه چې مالیدلې دي

زه یې په لیدلواو ویلوګناهګارشومه

نوریې په کولواوعمل باندې ښاغلي دي

نه یمه خاین په خیانت دنوروپوه یمه

پوهه که ګناه وي خلق ټول اوس پوهېدلي دي

داچې دېرکاره درته ولاړدي ټیټ سرونه هم

ستا مخکښې چې سم نشوه سم کله چلېدلي دي

هیڅ امیدترې مکړه که څوک ځان دتاغلام ګڼي

ماغلامانه ذهنیتونه پېژندلي دي

لوړمقام ته رسي چې بوټونه پاکوي دبل

ډېرپه دغه شغل ریاست ته رسېدلي دي

# څه قبلوم

یم شمع د تورتم په سراورونه قبلوم

په زړه لکه لاله سوی داغونه قبلوم

ته وساته په زړه کې محبت دنازنینو

ماپرېږده چې دخوارغریب نازونه قبلوم

چې سترې اوستومان وي په خدمت کې دوطن

په سراوپه لېمويي قدمونه قبلوم

عوض که شي قبول اوبنديوان پدې راضي شي

مظلومه ستا دپاره زه جېلونه قبلوم

هرڅه به زه قبول کړم که عذاب وي که عتاب

په ژبه اوقلم کله قيدونه قبلوم

ديوبل په صفت کې څه په کاردی تقريرونه

دحق په دوه حرفوچې زندانونه قبلوم

ډوډی نه خوروغمونه خوروکنځلی خورووهل خورو

منعمه! ستا له لاسه داڅيزونه قبلوم

ګلزاره ستا ګلونه دمظلوم په وينوسره دي

زه کله دغه شان سمسورباغونه قبلوم

له ژونده يې زړه توردی خپل وطن ورته سوراور دی

ناري وهي اوس خضرچې مرګونه قبلوم

نورخلق تري منکردي يوپه مابانددې قيامت دی

تر څو به زه يوازې قيامتونه قبلوم

يوه ژبه راپريږده چې کوم درته عرضونه

په لاس په پښوپه غاړه ځنځيرونه قبلوم

## څه لرمه

داحساساتواوشعور په غونډی ناست یمه زه
په عالمونوپوهه ویشم خیراتونه لرم
زما په باغ کې څوک مېوې ونې اوبه نه مومي
وچه بېدیاده زه یکې خیالي ګلونه لرم
ځان سره پټې مرکې پټې جرګې دي زما
په پټه خوله خقلوسره زه مجلسونه لرم
هرچاته چوپ اوغلی شانته معلومیږمه زه
څوک نه پوهیږي چې په سرکې څه شورونه لرم
راسره شته دي سوداګانې دعالم غمونه
یوازې نه یم پټ په زړه کې جهانونه لرم
ړانده کاڼه نه چیغې اوري اونه اوښکېویني
زه له فریاد له ویره ډک سوزان شعرونه لرم
پخواله وخته مې څه راوړه پښتنو دپاره
اوس یې نه غواړم پس له مرګه ډېرپورونه لرم
چې ساړه خلک راتاوده کړمه دژوندپاره
وکړه یقین چې ډېرتاوده تاوده دمونه لرم
یووخت به ډېرې هنګامې اوغلغلې پیداکړي
زه په پښتوهسې نغمې اوپیغامونه لرم
چې دناپوهو ناخبروتوره شپه کړي رڼا
بلو ډیووغوندې دپوهې کتابونه لرم
څوک چې له خدایه نه ویرېږي اوظلمونه کوي
زه په تش لاس ورسره خدایروچې جنګونه لرم
راشي چې اور دظالمانو په کورولګوو
پاک الله وایي چې ظالم ته دوزخونه لرم

# مه راکوه

غناد زړه اوسترګو راکړه دنیامه راکوه
ډوډی نه غوارم د ډوډی اشتهامه راکوه

راکړه توفیق د ډېروګرانو او مهموکارو
جنت اوحوري ماته خوشي وړیامه راکوه

چې مقابل کې یې دنیا اوعقبی هېڅ شی نه وي
هغه عمل راکړه تش زهد وړیامه راکوه

زه به غمونه دخوارانو غریبانو خورمه
دچاد غوښوماته غوړه ښوروامه راکوه

چې ننبا سې دیوه وینه دبل بدن کې
ډاکتره ته ماته دارو او دوامه راکوه

چې له وطن سره اخلاص صدق و وفانلري
ورسره جوړنه یمه درس دوفامه راکوه

پښې چې ږدي دچاپه سردچاپه ولیو باندی
ماته دارنګه تفوق اعتلامه راکوه

هرڅه چې ماته راکوي هغه پښتون ته ورکړه
دڅان دپاره هېڅ ارزوتمنا مه راکوه

چې ویده وینښ نکړي په وینښ باندې اثرونکړي
هغه بې خونده بې تاثیره وینا مه راکوه

هغه کار وکړه چې یې ګټه ټول عالم ووینې

پس له دې ظلم نارواد هېڅ نه منم زه
د زوراوظلم قبلولوفتوامه راکوه

دابراهیم خلیل الله قرباني ستا یه راته
دخوف اوویرې سبق ماته ملامه راکوه

چې ناشناوي له غمونو اودردونورسره
هغه بې غمه اوبې درده اشنامه راکوه

چې لکه شمع تو ره شپه دڅا رڼانه کاندي
ماته بې سوزه بې ګدازه ژړامه راکوه

# زه څوک یم

زه بل څوک نه یمه اولاددغریبانویمه
سکنی وروردعاجزانو دخوارانو یمه

یمه له خاورونه پیداخورمه له خاورو پیدا
دلاس نیالګی ددې غریبودهقانانویمه

ماته آغاماته بادارماته صاحب مه وایه
ډېرویرېدلی له نامه دصاحبانویمه

چې ورته بل نیسي اوبه نوریې بې آبه غواړم
وینوته تږی زه دداسې بادارانویمه

دبل زحمت کښې چې خپل ځانته راحتونه غواړي
دسردښمن ددې بې رحمه ظالمانویمه

زما په زړه کښې دبل چامحبت مه لټوئ
زه دخوارانو دډېوولو پتنګانویمه

چې شپه او ورځ په خوارغریب خپل خدمتونه کوي

# همدردي

ژاړي په غمونوکښې خواخوږی له هرچاسره
سل پتنګان سوزي دیوې شمع ژړا سره
ډک زړګی له اوښکوګرځي ورېځې په آسمان کښې بیا
څه ژړاملګري ده دژوندیوې برېښناسره
ټول باغ ژړېدلی ځکه اوښکي دي دګل په مخ
ډېرلکه لا له داغلي زړونه شته صحراسره
نه ښایي انسان ته چې دبل په غم غمجن نشي
لویه بدبختي ده که څوک نه ژاړي له چاسره
داسې بې غمي دې خدای په هېڅ کورکښې پیدانکړي
یوکورکښې چې ویروي اوبل خاندي له لیلاسره

# فضیلت

فضیلت دانسان علم اوعمل دی
که په سریې پټکی شال اوکه ململ دی
په چپن اوبالا پوش ونه غولېږئ
مادلنګ څښتن لیدلی مکمل دی
دهرچا معنی ته ګوره نه لباس ته
مادښه لباس خاوند ولید مهمل دی
فضلاوته په ښه سترګه تل ګوره

افتخارپه مال اوعارله فقره نه کا
دکمال خاوندپه هرصورت افضل دی

همیشه په ښه سیرت سړی ښه ښکاري
په صورت باندې که زیړ اویاشډل دی

دافکاروتجلی یې نه ورکېږي
دچا زړه کې چې چراغ دعلم بل دی

په تورتم کې دې هغه سړی وي وړاندې
چې یې لاس کې دعرفان ښایسته مشعل دی

# په کارنه ده

په مذهب اودین خنداخه په کارنه ده
پیروي دهرچاخه په کارنه ده

که مانع دجدوجهد اودکاروي
شیخ صاحبه داقباخه په کارنه ده

نن دتوري حکومت دی په جهان کې
اوس اوږده اوشنه امساخه په کارنه ده

دخپل زړه کورته دعلم رڼا راوړه
دادغره په سررڼا خه په کارنه ده

چې وطن پرې رڼا نشي سرترسره
داد سترګو رپ برېښناخه په کارنه ده

چې تېره توره سره زرکېږي بې برشه
داهنر دغه کیمیا خه په کارنه ده

په دنیا کې که فایده ترېنه وانخلې
آخرت کې خودنیا خه په کارنه ده

چې تمیز د نراو ښځې پکې نه وي
په هغه ژبه وینا څه په کار نه ده
ځان ستایل به دې منصور غوندې په دار کا
پخپل ځان خپله ثنا څه په کار نه ده

# حقیقت

حقیقت په دنیا هومره دی نایابه
چې سیند نشم پېژندلی له سرابه
که هرڅوې لټومه نه یې مومم
دا مضمون ورک دی ددهرله کتابه

بت پرست دبت په مخکې ځان کړ خاورې

زر دشتی داورله مینې دي بې تابه

یومې بولي خانقاه بل خرابات ته

خبر نه یم له ثواب اوله عذابه

ښایسته بدرنګي نه پېژندل کېږي

هیڅ ما مخ راښکاره نکړله نقابه

ښه او بد نه معلومېږي شاعر ځکه

حکایت کا نن له شیخ سبا له شابه
کله ګرداو دوړې جګې کړي له سینده

کله اورغواړي له دود د خړ سیلابه
حقیقت په باغ کې نشته تول تصویردی
له بلبل ځنې نیولی تر ګلابه
پدې بڼ بهار راغلی که خزان دی

سروه شنه ده دچنار پاڼه خرابه
په دانه پسې بلبل له باغه وځي

وېره کېږي دفطرت له انقلابه

عاطفه اومینه نه شته په انسان کې
ځکه نه پېژندل کېږي له دوآبه
کعبې تورکمیس اغوستی دی له غمه
مظلومان قرباني کېږي بې حسابه
دتقواجامه کښې شېخ شراب نوشي کا
درباب آواز راځي نن له محرابه
په خوله وايي چې دنیا مې خوښه نه ده
خولاس نه اخلي له منډوله شتا به
سیاست اور یا دواړه شوه ملګري
حقیقت ته یې پیداکړه څو حجابه
ددنیا په هیڅ قانون کې ثبات نشته
ناقرارونیم فکرونه له سیمابه
سلسله دعلت ورکه له هرچاده
واخله لاس له وسایلو او اسبابه
دتحقیق تنده دهېچا ماته نشوه
تږی تللی هرسړی له دې دریابه
توري وریځې دګمان په مخکې ګرځي
خدای خبرچې څه راځي له دې سحابه

# وګوره

زه درته نه وایم کتاب دافلاطون وګوره
په غرو رغوکې پریشان حال د پښتون وګوره
خپل پردي کېږي که داخوی اوداعادت وي زمونږ
پټ اوښکاره دنورو هردول لمسون وګوره

چې خپل مالونه ډېروي قام اوملت خوار وي
نن یاسبا یې عاقبت لکه قارون وګوره

دبدلیوه غوندې چې غوښې خوري دیواو دبل
دفتریې مه ګوره جایدادیې نن پرون وګوره

داخوار پښتون چې په دنیاکې له هرچانه خواردی
له ده نه یو په سله خوار دلته قانون وګوره

مه په قارېږه حوصله وکړه اوغوروکړه
لږ په سړه سینه دسوی زړه مضمون وګوره

## حق نشي ویلی چې په حق باندې شیدانه وي

څه کړم هغه سترګې چې کتاب لره بینانه وي
بې دمخ له خطه له بل خط سره اشنانه وي

لوړوبنګلوکې که وي ناست له ډېرغرورسره
څه وشوه په دافکر وهمت کې چې لوړتیا نه وي

مه کوه ګمان چې به باطل سحرونه مات کاندي
هریوچې امسا لاس کې لري هغه موسیٰ نه وي

سمه لارلیدی نشي په ښه کارېسې تلی نشي
زړه کې چې دخیرمینه دصدق تجلیٰ نه وي
ډېرفصیح بلیغ وي په خورنکه غږبدلی شي
حق نشي ویلی چې په حق باندې شیدانه وي

# بدحاکم

هرڅه کولی شي حاکم دچا پروانلري
بې له رشوته بل مقصد اومدعانلري
خدای ورته صبرکوي خلق څه کولی نشي
ځکه له خدایه خوف له خلقونه حیا نلري
دمظلومانو په ژړایې زړه نرمېږي کله
مرګ یې هېرکړی دقیامت غم اوسودانلري
پنځو پیسو دپاره سل رنګه ظلمونه کوي
درشوت ځای کې دین ایمان ورورواشنا نلري
شدادفرعون نمرود دده په دروازه کې ولاړ
لکه چنګېز او هلاکو رحم په چانلري
ډېربې ګناه خلق زندان کې اچولی دی ده
ډېر ګناه ګارېې خوشی کړی چې ګناه نلري
غل او خوني وي تښتېدلی ده نیولی وي نور
چې لاس ته ورشي هغه نیسي هیڅ پروانلري
هرڅوک وهي اوټکوي بیایې تړي په ځنځیر
ظالم مظلوم نه پېژني سترګې بینانلري
وچ اولامده یو شانته سوزي زړه یې هیڅ نه سوزي
دغضب اورېې دودلري نور اورڼا نلري

# کوټوال

هرڅه کوي پخپله خوښه دچا کله مني
ځلميه ستاکه نه مني دبوډاکله مني

دنوی عصرکه هېڅ نه مني اوهېڅ نه کوي
ددين احکام اومسئلې دملا کله مني

خپل فکر ښه ګڼي له خپلې رايې نه تېرېږي
اقتضاآت دده قانون دشوراکله مني

نفس وشيطان چې ورته هرڅه وايې کړي هغسې
دعقل فکر او دعلم فتوا کله مني

خپلې کمبلې اوشړی سره پښې غځول
که هرڅه ومني دارنګه وينا کله مني

ماورته ويلی دنيا وايي چې قلم ازاد دی
ده وې دعزم خاوندان ددنيا کله مني

زه ورته شپه وايم ته ورځ اودی يوه نه مني
رقيبه ځه چې ځو دی ستا او زما کله مني

چې دعوت ورکړي څوک دحق اوعدالت په طرف
وايي پاک نفسه دعوتونه دچا کله مني

که دې دعوه له خان ملک اوله بډای سره شوه
غريبه خوشی ورته مه ژاړه ستاکله مني

# دسبا فکر

پس له څوورځو به نه ستا ډول وسينګارپاتې شي

نه به زما زړه کې دعشق دغه انکار پاتې شي

بهارد حسن به دې تېروي تازګي به نه وي

نه به ګلونه نه بلبلې نه مالیارپاتې شي

مسته لیلیٰ به شي بوډۍ ورته به نه ګوري څوک

نه به سپین مخ نه تورې زلفې په رخسارپاتې شي

ډیوه به مړه شي دمحفل غلی به شي سازونه

نه به رقیب وي نه به زه نه به اغیارپاتې شي

نه به ساقې نه محتسب وي نه هوښیاراونه مست

نه به رباب نه به کتاب نه به خمارپاتې شي

داحال به نه وي څه چې دی هرڅه به بل شانته وي

یوپښتانه به په قومونوکې خواروزارپاتې شي

نوربه موټروطیاروناو جهازونوکې ځي

دپښتون مخکې به وي خره دی به خرکارپاتې شي

خره اوغوایي به وي موجوداوکراچۍ به هم وي

دادرانه پېټې به دده په اوږوبار پاتې شي

هرڅه به نوی شي زړه اوضاع به نه وي پاتې

پښتون به دغسې کوتک اوکوتکمارپاتې شي

نه یې طبیب شته نه دوا نه دعلاج څه فکر

دناپوهۍ په رنځ اخته به دابیمار پاتې شي

په پښو اغزی په لاس تېاکې دپښتون دتبر

ترډېره وخته به دپلار نیکه یادګارپاتې شي

زه به یم مړمانه به نورځه چاته پاتې نه وي

زما میراث به خپل پردی ته دااشعارپاتې شي

# دپښتون حال

باغ وبڼ یې بې بلبل بې عندلیبه

رنځوران یې بې دوا اوبې طبیبه

خوپه لوره څه په تبه څه په تیغ مري

ورک شه ورک شه دپښتون خواره نصیبه

که یې ښه پوره په حال باندې خبرشې

خدایږو ته به هم پرې وژاړې رقیبه

ناپوهي خواري ده او پښتون دی

کوریې وران کارېې ګډوډاوبې ترتیبه

لاس یې یوځای سرېې بل ځای پښه یې بل ځای

پښتانه ټوټې ټوټې دي بې ترکیبه

نه ډوډۍ لري نه پوهه نه تعلم څه

بې له توري نورله هرڅه بې نصیبه

چې رشتین خادم یې وینم بېنوادی

پښتوژبه ده په ژبوکې غریبه

که غمخورهمدرد خواخوږی اودرد مندیې

ژاړه ژاړه دپښتون په حال حبیبه

توره مه ستا یه هنرولره ستایه

چې نورهم نشي مجروح پښتون ادیبه

# پښتون ته خطاب

پرون سالاروې نن دنوروصوبه دارپښتونه
ډیورند شو خاورې ته یې خط کښې لاایسارپښتونه
دپاکستان لاس کښې اسیر ډېرپښتانه وینمه
تاغوندی بل چېرته څوک نشته خواروزارپښتونه
نه یې روان داحمدشاه شېرشاه میرویس په لاره
ولې دې پرېښوده دپلاراونیکه لارپښتونه
مغل بیاراغله خوشحال خان څه شواوچېرته لاړه
چې درته وواېي دننګ غیرت اشعار پښتونه
اپریدو ونیسئ خیبرمومندومه ګورئ نور
په ننګ راپاڅېږه ته هم دننګرهارپښتونه
غواړم له تانه دمیرویس اواحمدشاه کارونه
دلویو خلقو په ځای ناست دقندهارپښتونه
دپکتیا پښتونه تاته ډېرې سترګې اوړي
ته ئې مشهور په ننګ غیرت په هر دیارپښتونه
وزیروتاسې په هروخت کښې جهادونه کړي
انګرېزان ستاله لاسه تل وو ناقرار پښتونه

خبـــري ډېـــرې دي اوردې قـــصې بـــه نـــه کومـــه
دومـــره تېـــوس دی اوس لـــه تـــا ځنـــې پـــه کارېـــښتونه

دخوشـــحال خـــان ختېـــک پـــښتو پـــښتونولی دي ځـــه کـــړه
داحمدشـــــاه اودمحمـــــود شهنـــــشاهي دي ځـــــه کـــــړه

# د اعلیحضرت حضور ته

<u>داشعر هغه وخت ویل شوی چي اعلیحضرت داروپاله سفرنه تشریف راوور.</u>

بهارســـــم درســـــره راغـــــی شـــــهریاره
وخـــت شـــناس وې راغلـــې ښـــه وخـــت کـــې مالیـــاره

سرســـــبزي اوشـــــادابي درســـــره راغلـــــه
تـــــازګي دې ځـــــان ســـــره راوړه بهـــــاره

نـــــه دې لاره کـــــې پېچـــــومی نـــــه اغـــــزي وو
چـــې هـــــوا دې کـــــړه پـــــښولاندې دینـــــداره

بـــــارانو نـــــه درحمـــــت دربانـــــدې وشـــــوه
پـــــه هـــــواکې اعتـــــدا ل راغـــــی لـــــه واره

پـــــه لیموقبلـــــوو مـــــونږ ســـــتا قدمونـــــه
پـــــه بنوېـــــاکوو ســـــتا دراتلـــــولاره

ښـــه مالیـــار یـــې ځکـــه راغلـــی پـــسرلی تـــه
وچ ډاګونـــه بـــه ګلـــزار شـــي ســـتا لـــه زیـــاره

وخـــت دســـعی اوعمـــل دکـــار اوزیـــاردی
نـــاخبره نـــه یـــې تـــه لـــه خپلـــه کـــاره

[illegible]

تربیت دوروبوته و ډېرپکاردی
ډېرلوی حق لري واړه په تاحقداره

دوروپالنه کاردی د لويانو
وظيفه دمه شرځکه ده دشواره
لويې چارې لرې مخکې خدای دې مل شه
په ذمه دې ډېرکارونه دي سرکاره
ديوه ملت اسرې دي واړه تاته
اميدونه لرو ډېرستا له درباره
مونږ په وهيروچي لرې ډېرارمانونه
دصادق او وفادارملت دپاره
هلته ګورې ښې ماڼۍ دلته جونګړې
زمونږ حال دی دژړازمونږ غمخواره
مونږ خواران يوناپوهان يورنځوران يو
څه راوړی تازمونږ درنځ دپاره

نوی کال نوی بهار نوی ژوندون دی
خوزمونږ هغه زوړجغ دی زړه سپاره
تاليدلی نورپه عيش اوپه راحت کې
ليدای نشې زمونږ برخه دومره خواره

څوچې جوړ پښتونستان نکړې پښتون ته

د پښتون زړه دی زخمي سينه داغداره

هغه خوا دې خوار چې هرڅه پښتانه دي

ستا په لوری په اميد ګوري نامداره

ازادی دپښتنو اوپښتونواله

په هر ځای کې چې په هرپښتون څوک بلوسي

غم تپوس یې دی په تازمونږ واکداره

دردوغم دپښتون تاته په ژړا کړم

ژړاتاته ده پکار دملت پلاره!

یو زه نه ژاړم عالم راسره ژاړي

وریځې ژاړي ژړا اورم له آبشاره

نغمې نه دي، کړي بلبلی فریادونه

معلومیږي له سروسترګو دګلزاره

دي په کارنوي فکرونه تینګ عزمونه

درته غواړولوی توفیق له کردګاره

نوی رنګ نوی آهنګ دې خدای پیداکړي

ستا دفکر ستا دخیال له ابتکاره

داخپل زورجهان له خدایه غواړم نوی

ستا په سعی اوکوښښ ملي سالاره

# دپښتون ژړا

پښتونه! خدای روستاپه حال باندې ژړا راځي

له هرطرفه په تاخه توري بلا راځي

پخپله خاوره پخپل حق ته وژل کیږي مدام

دستوزرونو خاوندان په کاله ستا راځي

ستاپه تاریخ کښې چې هرڅوليږي نظرکومه

کورم چنګیزیا هلاکویااتیلاراځي

نه ارسطو نه افلاطون راځي یونانه ځنې

ایستلی توره سکندریه دغی خوا راځي

دخیبر هره ګټه سره ده ستا په وینو باندې

یووخت اورنګ بل وخت فرنګ په پښتو نخوا راځي

غلیمان ستا دازادۍ له حده زیات وینمه

نه دمسلم نه دکافر رحم په تا راځي

کراچۍ وا ل غواړي پښتون په کراچۍ وتړي

په داسې شان بې تمیزۍ دخرو خنداراځي

په سپک نظریوه ملت ته ګوري هغه کسان

چې یې په خیا ل کښې اراده د استیلاراځي

خوشحا ل په خوب کښې راته وې پاڅه مغل راغلی

پښتون خبرکړه چې جګړې په وطن بیاراځي

دمغلکۍ بمو نو ویښ له دغه خوبه کړمه

ګورم مغل اومغلوا له په ربښتیا راځي

*************************************************************

نن یاسبا زه د رڼا اوتیارې جنګ وینمه

په بل لباس کښې بیا ظلمونه دفرنګ وینمه

*************************************************************

پښتونه پاڅه! دپښتون نام ونښان وګټه

په هرقیمت چې وي آزاد پښتونستان وګټه

په پښتنو باندې په سل رنګه ظلمونه کېږي

که ته پښتون یې په ربښتیا خپل عزیزان وګټه

په جېلخانوکښې دپردو ډېرپښتانه دي پراته

دبل له قیده یې کړه خلاص فخرافغان وګټه

یاځانته مه وایه پښتون ځه دپردوشه غلام

مه هېروه! دچارسدې اومغلګی شهیدان
بې ننګې مه قبلوه پاخه شهیدان وګټه

سترګې کړه خلاصې چې نورڅه کوي اوته څه کوې
بل ته کشمیرمه ګټه پاڅیږه خپل ځان وګټه

واړه قومونه شوه ازاد خپل حکومت لري اوس
ته هم ملي وقارقومي عزت اوشان وګټه

ترڅوبه ته یې په جهان کښې خواروزار پښتونه
خپل حکومت خپل سلطنت تاج دافغان وګټه

څوپېسې مه ګټه عزت او اعتبار کړه حاصل
ځانته ښه نوم بیاپه قوموکښې دجهان وګټه

نورپه دنیاکښې دومره خوارذلیل حقیرمه اوسه
بیا وایم پاڅیږه! ازاد پښتونستان وګټه

خپل حق حاصل کړه رااوچت شه تېره توره واخله
دحق جذبه له کوه طور یاله منصوره واخله

# توره، پښتو، پښتنواله

پښتنواله نام وننګ دی
ننګیالی اصیل پښتون دی
ځان وژل دننګ دپاره
دپښتون سړی ژوندون دی
سربازی زمونږ هنردی
توریالی موافلاطون دی
فیصله دتېغ په ژبه
دپښتورسم وقانون دی

چې په توره مري شهیدی هغه نه بې پردې کېږي
چې بې تېغه وي مړشوی په تخته باندې لوخیږي

توره حق اوحقیقت دی    شریعت پرې رڼا کېږي
توري شپې دملتونو    بې له دې نه سبا کېږي
هم دغه شرف يې بس دی    چې په توره غزاکيږي
دظالم اوخدای ناترسه    ورنه خوف اوحیا کېږي

توريالیوپه حضورکښې سرټیټ کړی افلاطون دی
دتېرې تورې په خوله کښې دیوه ملت ژوندون دی

تمام عمره تېره توره    په دنیاکښې حکومت کړي
په هغوی دې تل رحمت وي    چې قایم پرې عدالت کړي
یا ایستلی توره لاس کښې    حفاظت دملک ملت کړي
دمظلوم انتقام اخلي    په ظالم قهر ومنت کړي

توره ښه ده ډېره ښه ده خوچې لاس کښې دانسان وي
هسې نه چې په منګل کې دلېوه یا دشیطان وي

ظالمان په تېره توره    په ناحقه خونریزي کړي
چې بې دین په هاتي سپورشي    دکعبې بې حرمتي کړي
دمومن په لاس کښې توره    داسلام نګهباني کړي
حق پرست چې قوت مومي    دخوارانو دلداري کړي

بل د توري اهل نه دی داوسله دمسلمان ده
وسیله دحق پالو اودنشر دقرآن ده

په قوت دتېرې تورې    له کعبې بوتان وتلي
بت شکن مسلمانان هم    سومنات ته رسیدلي
حق پالونکو توریالیو    خلق حق ته رابللي
دلوی خدای واړه احکام يې    په دنیا باندې منلي

عبادت په توره خدای ته زیات له هرراز عبادت دی
تویول دوینو وروره! خدای دپاره لوی طاعت دی

ترقي او اعتلا خوک    که دقام اوملت غواړي
په وطن اوپه هیوادکښې    که ښه نوم اوعزت غواړي
یا ددین اودنیا ګټه    یا له خدایه جنت غواړي
تول په توره ګټل کېږي    خوتینګ عزم وهمت غواړي

که جنت دچا پاکاروي توري لاندې يې مقام دی
نوربه څه وایم چې څه دی؟ مرګ وژوند د یوه قام دی

په دنیا کښې چې تېرشوی    تردې وخته فاتحان دي
سکندرکه نا پلیون دی    که مغل اوکه غوریان دي
شاه محمود که احمدشاه دی    غزنویان اوکه سوریان دي
له مشرقه ترمغربه    چې هرڅه جهانګیران دي

تول دتورې په زناکښې خپل مقصدته رسیدلي
ډېرتختونه ډېرتاجونه توري یوبل ته بښلي

ښه خبرشه زما وروره    ددې عصرد احواله
بې له زوره په دنیا کښې    زندګي شوله محاله
ضعیفان خلاصېدای نه شي    دفریب مکرله جاله
بې له تورې خلاصي نشته    ظالمانو له جنجاله

باشرفه ژوندون کاندي چې له مرګه نه بېرېږي
ما ل وسرېې په امان وي چې له خپل سره تېرېږي

که ازاد ژوندون دې خوښ وي    تینګ په ننګ ناموس اودین شه
اور اوبوته غورځوه ځان    فولادي اوآهنین شه
ښې تېرې پنجې پيداکړه    لکه باز اویاشاهین شه
نه وایمه چې بلبل شه    یا توتي غوندې رنګین شه

ځیر پښتون شه ! دامتل دی خنکه غر هسې کربوری
کړه سرې اوتودې تېرې داتعلیم کړی ژمی اوری

ته ویده وې په ځانګوکښې    هیڅ خبرنه وې له ځانه
نه له جنګ جګړوخبروې    نه له شخړو دجهانه
دوست دښمن خپل اوپردی تول    ستانظرکښې وو یکسانه
ستا په سرباندې دپاسه    مور کړه توره اوېزانه

په هغه وخت کښې یې ته لاتېره تېغ لاندې ساتلې
فکروکړه څه دپاره خپلې مور داسې روزلې

که پوهیږې زما وروره    دهمدې ورځې دپاره
پښتنه مور دزوی سرته    ږدي تل توره جوهر داره
توره مال دی ستا پښتونه    درته پاته له خپل پلاره
پښتانه زلمیان خوني داخلي    دتېرو تورولو واره

بې دتورې له سپین مخه په بل مخ چې مین نه شې
ستا به فرق له خاروی څه وي که قربان په وطن نه شې

لکه غرپه هسکه غاړه  داسمان لاندې اوسېږه
که ړلی که تندراوري  له خپل ځایه مه ښورېږه
بې له خدایه بل له هېچا  اوله هېخ شی مه وېرېږه
په سخت زړه ددښمن مخ ته  ځای په ځای تینګ ودرېږه

فولادي زړګی اوتوره ده پکار دژوند دد پاره
پښتانه زلمیان خوند اخلي دتېروتورو له واره

واوره بیا پښتونه وروره  دپښتون شاعر شعرونه
داچې اورې څه له مانه  دي دسوي زړه آهونه
نورڅه نشته په دې زړه کښې  واړه دي داستا غمونه
دا زخمي زړه ستا له غمه  راشه وګوره پښتونه

دپښتون بېرغ اوچت کړه ترلمنو داسمانه
خوشحال خان خټک خوشحال کړه پخپل قبرکښې له ځانه

پښتنواله که پښتوده  که اسلام او دینداري ده
تقاضا دزمانې ده  اوکه پوهه هوښیاري ده
دپښتون عالي فطرت دی  که غیرت ایمانداري ده
ددې ټولو ای پښتونه !  تانه دا امیدواري ده

چې ته بیاکړې غېږه وازه استقبا ل د تېرشوکت ته
خوقدمه وړاندې واخلې خپل راتلونکی سعادت ته

څه به ښه وي لویه خدایه  که تېرشوی دوران راشي
دپښتون بابا په لاس کښې  بیا زمام دافغان راشي
بیاهماغه شپې او ورځې  دپښتون په جهان راشي
په هماغه زړومېنو  بیازمونږه کاروان راشي

دادعا په خوځو وارو دخپل زړه په کوه طور کښې
ما په نیموشپوکښې کړی دپاک خدای په لوړحضور کښې

په هرزړه کښې بیل بیل قسم  امېدونه اواسرې وي
څوک دښکلوښو مخونو  امیدوار دننداري وي
دچاما ل اودولت خوښ وي  په دنیا یې سترګې سرې وي
چا دبل مقصد دپاره  سنجولی څه چارې وي

له هغوزړونوځاریږه چې پکښې لوړه آرزو وي
څه چې ښه ورته ښکاریږي پخپل کام دده پېرزووي

ښه خبر په دغه راز شه — ای زما دسترګو توره
چې یوازې په دنیا کښې — ژوندون نه کېږي هرګوره
هرپیغام چې یوغوړاوري — بل ته هم رسي ای وروره
دیوازې ځان سودا ته — وباسه دزړه له کوره

ته یې ناست هغه بیړۍ کښې چې پکښې تمام پښتون دی
ستا هر څه ورسره ګډدی که دې مرګ او که ژوندون دی

ته اونورپښتانه واړه — په یوه ژبه ګړیږئ
په یوه نامه هروخت کښې — او په هرځای کښې یادیږئ
دیوه پښتون په ښه نوم — سرترسره ټول نازیږئ
ددښمن او دوست نظرکښې — لکه یو وجود ښکاریږئ

چې پردولره یوښکاریږ همدغه مودی یووالی
نوک اورۍ کله بېلیږي نشته تاسوکښې بېلوالی

غم مویو ښادي یوه ده — په رګوکښې یوه وینه
زه اوته دیومخ سترګې — خلق موبولي ښۍ اوکینه
دواړه یوشانی غړیږو — مرو د یووجود په مرینه
اختلاف دنظرنشته — چې موجب دبېلتون شینه

سپین اوتور دیوې سترګې کله یوله بل بېلیږي
په بېل رنګ کله دوه ورونه یوله بله پردی کېږي

راشئ! ای پښتنو ورونو — یوله بله به ځاریږو
دپښتون دژوند دپاره — به هریوله سرتېریږو
خوشحالي به مویوه وي — په یوه غم به ګریږو
په نامه دپښتنوالي — به مونږ واړه قربانیږو

یوه ورځ به داسې راشي چې پښتون واړه راټول شي
سرترسره پښتانه ټول بېرته یوکوراوکهول شي

دازخمې زړګی به روغ شي — دغلیم زړه به زخمي شي
دا ارمان به له زړه ووزي — له غمونو به خالي شي
د ,,الفت ‘‘ خواږه اشعار به — پښتنو په خوله جاري شي
پښتني دنیا به جوړه — کور په کور به خوشحالي شي

څوک چې زړه لري هرګوره پکښې هیله اواسره ده
دا ارزوله ډېره وخته تردې وخته راسره ده

# څه غواړم

نه سره او سپین نه ښې ماڼۍ نه مهرویان غواړمه

داحمدشاه شیرشاه میرویس غوندې افغان غواړمه

زه دې جهان کې نه قصرونه نه باغونه غواړم

چې دپښتون حقوق منې هغه جهان غواړمه

نور زه بې برخې خوارو زار پښتون لیدلی نشم

دغه شان نه بل شان دورونه دآسمان غواړمه

ځان ته څه نه غواړم حرام شه که به هیڅ وغواړم

دقام دپاره یو وازاد پښتونستان غواړمه

چې یې له وېرې فرعونان بدبد خوبونه وینې

له پښتنو میندونه هسې ماشومان غواړمه

دتیراغروکې تجلی دکوه طورچې ګوري

صاحب نظره پښتانه دقام مشران غواړمه

چې مغلواله نه منې اورنګ غلام ګڼې خپل

مومندوتاسې نه حمید عبدالرحمن غواړمه

چې پښتنوته دغیرت اوننګ سندرې وایي

زه له خټکونه هماغه خوشحا ل خان غواړمه

دپښتنودسردارانو وزیرانو ځنې

زه فتح خان وایوب خان اواکبرخان غواړمه

چې طلسمونه دفرنګ سرحد دظلم کړي مات
هغه قوت هغه طاقت هغه ایمان غواړمه

واړه سوالونه نه کوم له لویه خدایه ځنې
له لویه خدایه لوی پښتون اولوی افغان غواړمه

# پښتنواله وایي

ددې لوړوغروورمه یم    راویښ کړی مې پښتون دی
دمړانې سرنامه یم    ازادی زما مضمون دی
دغیرت او ننګ نغمه یم    هرآهنګ مې ډېرموزون دی

دخیبرغرونه رغونه ما په سرو وینو لړلی
غلیمان دپښتنومې پښتنو باندې وژلی

دزېړوګټوځانګوکې    ماشوومان مازنګولی
داوچتوغروسروکې    شنه زمریان دی ماروزلی
دخوشحال په ترانوکې    توریالی دی ماستایلی

مادتورې آب ساتلی لاتراوسه په جهان کې
دمیوندجنګ کې زه ومه دملالې په بیان کې

زه او سپېرم پښتو نخواکې    ترسرتېرځوانان لرمه
لوړوغرونو په فضا کې    ښه دښکاربازان لرمه
دپښتون حقه دعواکې    توره ښه برهان لرمه

استقلال مې دی ګټلی دپښتون په پاکه وینه
دپښتون په زړه کې ساتم دایستلوتورومینه

لکه غرپه هسکه غاړه    داسمان لاندې اوسېږم
څوچې وي دنیا ولاړه    په هیڅ شان نه محوه کېږم
ټیټېده له مامه غواړه    له هرچاپورته ښکارېږم

سرلوړی مې له ازله خپل ځان سره راوړی
پښتنواله خدای پیداکړه په دنیاباندی سرلوړی

پښتانه له هرځایه    په یوځای شم ټولولی
په یوفکریوه رایه    زه شم دوی جمع کولی
په یوه پښتون له ورایه    بل پښتون شم ګرانولی

داټوټې ټوټې پښتون زه په یونوم راټولومه
دپښتون په بده ورځ زه پښتانه ټول ژړومه

# وطن وایي

واوره ای پښتونه! زه میراث ستا دنیکویمه

ستا ښکلی ځانګویم ادیره ستا دپلرویمه

خاورې مې مه بوله په ښه سترګه راته ګوره ته

خاورې که هم یم ستا دنیکونو دسرویمه

ښه ښایسته لعلونه سره یاقوت مې په لمن کې دي

ښکلی شنه باغچه له ګلو ډکه دلیدویمه

ښې سپینې خورې یخې اوبه مې دشودوپه ځای

تاسې ته درکړی موردټولو پښتنویمه

خاوره او هوامې له غیرت اوننګه ډکه ده
وايي ننګ غیرت چې زه ورمه ستاسې دغرویمه

ښکلی دی سرې وینې داوبوپه ځای چمن زما
زه ابیاری شوی تل دتوروپه اوبویمه

غواړم آب دتورې په هروخت کښې له پښتونه زه
پوه شه! ننګیالیه ستا دتورې په آرزویمه

ته دسپینو توروپه رڼاکښې روز ل شوی یې
برق داسمان وايي برېښناستاسې د چړویمه

هېردپښتنوخوی وخصلت چې کوره نکړې ته
زه ستاتلی تاپه پښتنواله اوپښتویمه

مه تېتوه هېڅکله خپل سردبل په مخ کې ته
ته که وې سرلوړی زه سرلوړی په ملکویمه

کلک عزم له سره تېرېدل پخپل ناموس باندې
ښیمه پښتون ته دغیرت اوننګ ځانګویمه

څوک مې که پوره حقیقت غواړي په سندروکې
زه"الفت" ستایلی په خوږوخوږونغمویمه

# پښتانه وايي

سرورکوو دخپلو غرونو جګ سرونه ساتو

مالونه نه ساتو ځان نه ساتو اولاد نه ساتو
له نورو خلقو دپښتون سیمه اوخونه ساتو

غواړو پښتو، پښتونستان دپښتنودپاره
دتوري آب دخپل تاریخ لوړ عنوانه ساتو

دابراهیم خلیل الله په دین ډېرکلک یووالړ
دقرباني دپاره مونږ خپل اولادونه ساتو

دپښتون خاوري ته مونږ ګورو د ناموس په نظر
لکه دخدای کورله اغیارو خپل کورونه ساتو

که جېلخانوکښې څوک مېچنې ګرزوي په مونږه
سل مشقته تېروو خپل ټینګ عزمونه ساتو

تراوسه لامونږ دخوشحال دننګ سندرې وایو
تراوسه لادده دیوان دده شعرونه ساتو

ختېک لاشته دی اومغل شوه تورو خاورولاندې
ظالمان ځې اومونږ ه خپل ملي حقونه ساتو

مونږپه پښتواوپښتنواله تل جنګونه کوو
دقام عزت دقام آبروخپل وطنونه ساتو

زمونږ تیرازمونږ خیبرزمونږ مهمنداووزیر
مونږ اودوی ټول دپښتنوخپل بیرغونه ساتو

پښتون پښتون دی اوپښتون به وي څو وي داجهان
بله جامه کې سپک ښکاریږي پښتنوته خپل ځان

پښتون هېڅکله باداري دچامنلی نه شي
ما چې لیدلی خوپښتون غلام کېدلی نه شي

چاچې عمرونه پخپل حق باندې جګړې کړې دی
دهغوحق په هېڅ قوت هېڅوک خوړلی نه شي

مخونه توردپښتنو ددښمنانو وینم
هېڅوک پښتواوپښتنواله ورکولی نه شي

سنداوپنجاب زمونږ ایستلی تورى تل لیدلی
تاریخ شاهد دی اوهېڅوک منکرېدلی نه شي

داغلط خیال دی چې پښتون به په پردوپسې ځي
غلامان ځي مګرپښتون په دې لارتللی نه شي

په اسلامي سلوک پوهیږو بدسلوکه نه یو
خوداسلام په نامه څوک مونږ تېرایستلی نه شي

دپښتون خیراو سعادت غواړو نور هیڅ نه غواړو
دعزیزانو بده ورځ هیڅوک لیدلی نه شي

راشئ اوحق ته غاړه کښېږدئ عدالت ومنئ
دپښتنوپه حق پښې څوک ایښودلی نه شي

ظلم بنه نه دی په بل باندې تجاوزښه نه دی
څوک په ناحقه دحق مخ کې دریدلی نه شي

مونږ پښتنو دپاره سم پښتو نستان جوړوو
پاکستان وایي پښتنونه پنجابیان جوړوو

هیڅ امکان نه لري چې یوملت له ځانه تېرشي
خپل هرڅه پریږدي له خپل نوم اوله ننګه تېرشي

نه داسې شوی نه به وشي نه به ووینې څوک
چې پښتانه پریږدي پښتو اوله افغانه تېرشي

بې غیرتي بې ایماني ده د پښتون په نظر
مګرهګمان چې پښتانه به له ایمانه تېرشي

دخپل پردی تمیزکوي دجهان ټول قومونه
پښتون به څنګه دپښتون له خاندانه تېرشي

له ملیت نه تېریدل دی له امکانه وتل
کیدونکې نه دی هغه کارچې له امکانه تېرشي

که پاکستان ورلره ګوري دامکان په نظر
بایدچې دوی پخپله هم له پاکستانه تېرشي

حدودمعلوم دی له خپل حده تېریدل ښه نه دی
مرې په دې لارکې سکندرچې له یونانه تېرشي

دسربازی لارکې مونږ ډېرامتحانونه ورکړه
وي آزموده څوک چې یوځل له امتحانه تېرشي

مونږ ښه ملګری یوکه څوک په سمه لارشي روان
بې لارې خلق بدګڼوکه له اسمانه تېرشي

زمونږ دوستان هغه کسان دي چې دحق په لارکې
هسې قدم ناخلی چې دوی له خپل وجدانه تېرشي

خدایه راتول کړې پښتانه په یوه نوم دپښتون
داپرېدی مهمند وزیراونورونشته بېلتون

# له خدایه سره

خاونده تاپه انسانانوکې قومونه کړه جوړ
تاقبیلې شعبې تېې او ملتونه کړه جوړ

دترک عرب افغان په نوم دې اولسونه کړه جوړ
تاله مرغانو دهوابېل بېل سیلونه کړه جوړ

ځکه کوترې نه ګډېږي کله زانوسره
بلبلې نکړي پروازونه له کارغانو سره

په هرهیواد کې دې پیداکړله بل شانته هوا
حدود معلوم ددې عالم په دریابونوکړه تا

هریوملت دې په بل شان بل خوی بل رنګ کړپیدا
ځینې دې تورځینې دې سپین څوک دې کړه هغه څوک دا

دهرقام زړه کې دې دخپل قام محبت کښېښوده
تاپه فطرت کې دانسان ملي وحدت کښېښوده

دخپل پردي تمیز په ختې دانسان کې وینم

په اسرائېلو دلسوزي ابن عمران کې وینم

یالیت قومی یعلمون ستا په قرآن کې وینم

چې تا خپل کړی هغه خوک پردی کولی نه شي

دعزیزانو مینه زړونه خوک ایستلی نه شي

قام جوړول دقام پالنه ستاسنت ګڼمه

داتقاضاد طبیعت او دفطرت ګڼمه

ستا له طرفه اغیزه دقومیت ګڼمه

مینه دقام دانسانانو خاصیت ګڼمه

ځکه فرعون سره موسیٰ جګړې جنګونه کړي

دقام دپاره ډېرو خلقو ډېرکارونه کړي

قامونه دي بېل بېل فصلونه دخلقت دکتاب

ده هره نوعه اوهرجنس لکه یوفصل اوباب

په هر تصنیف اوهرتالیف کې وي فصول اوابواب

ددې دپاره پیداشوي دي فرقې اواحزاب

خدایه! ستاصنع ستاسنت په دغه شان وینمه

چې خوک ترکان اوخوک عرب اوخوک افغان وینمه

قومي صبغه ده ستاله خوا کله تغییرقبلوي

کله یوقام دبل قام ځان باندې تاثیرقبلوي

هرخوک خپل فکر خپله رایه خپل تدبیرقبلوي

هرقام له خپل قامه وزیراوخپل امیر قبلوي

دقام په ژبه تاهرقام ته پیغمبرولېږه

له خپله قامه دې هرقام له ره رهبرولېږه

که په ښتانه هرخومره لري پښتنونه اوسي

که په زرګونو میلونو لرې دوی هغونه اوسي

که هغه خواله هسکوغرواودریابو نه اوسي

نشته په شرع کې حجاب له خپل محرمه ځنې
ستر په کاردی له پردی اونامحرمه ځنې

دي ظالمان چې پښتانه له پښتنوبېلوي
ورونه له ورونو اولادونه له پلرو بېلوي

چې رااخلي اوکتري ددوی دزړوبېلوي
مومند مومندنه، اپرېدي له اپرېدوبېلوي

يواپرېدی دی په خيبرکه په تيراه کښې اوسي
مومندمومندی پېښورکه سالالاکښې اوسي

په قندهارکې که ميرويس اواحمدشاه بابا دی
په پېښورکې خوشحال خان عبدالرحمن بابا دی

يوشان ښکاريږي پښتنوته که هغه که دادی
چې آباسيند ابا سيند بولي ددوی يو ابادی

وروركه په كوركه په لاهوروی پردی كېږي كله
په لرې توب دقرابت سلسله شكېږي كله

# دپښتنولی نغمه

لباسي به درته وايمه جانانه    کې دې پرېښوده دپلارنيکه خويونه
پښتني به درته وايي بې ايمانه    که پښتوشوه درنه پاتې ای پښتونه
واخله درس دسربازی ته له پتنګه    لوی صفت دپښتنوالی قرباني ده
ځان قربان کړه دپښتون له نام وننګه    که آرزودې دخپل ځان قدرداني ده
بده نکړې په هېڅ شان دپښتون رنګه    پښتنوکې وېرېدل بې ايماني ده

ډېراوچت دی په معنی کې له اسمانه
دوطن دشهيدانو بيرغونه

پښتانه زلمي هروخت دننګ دپاره    نه په سرخپل ايسارشوي نه په مال
پښتنوکې تېره شوی دغه لاره    چې دننګ په ځای کې مرګ ګڼي کمال
ستانيکونوای پښتونه باوقاره    فخرکړې دی هروخت په توره ډال

ګوره نه شي دغيرت ځای کې ستومانه
مرګ بهتر دی دبې ننګوله ژوندونه

پښتنوکې لوی صفت دی پښتنوالی    ورته ښکاري له هرڅه زړورتوب
دهرقام په نزد تغییرکوی ښه والی    پښتنوکې دی په توره مينتوب
نه وي خوښ دپښتنو جونو ښوی والی    نه بې ننګ اوبې مړانې ښکليتوب

ورته ګران وي له هرچاپس له ايمانه
څوک چې نه ژغوري دننګ ځای کې سرونه

بت دخوف اوويرې مات کړه په جرئت خپل    که په دين دابراهيم يې په رښتيا
بيابښکاره کړه په دنياکې حقيقت خپل    ددې عصر سحرمات کړه په امسا
ونازيږه په جرئت اوشجاعت خپل    ستا دتورې بريښ ليدلی دی دنيا

حق ظاهرشوستا دتوری له برهانه
تامات کړی سومنات دی ای پښتونه

# آزادی

شهرت دعقل له نامه دافلاطونه نه ځي

دازادی مينه هيڅکله له پښتونه نه ځي

که هرڅه لاړشي له دې دهراو جهانه ځنې

دبل له جغ لاندې ژوندی ويښ ملتونه نه ځي

دازادی معراج ته نه رسيږي هغه کسان

چې دغيرت اوننګ په لارکې يې سرونه نه ځي

په توره باندې چې مړنه شي څوک يې نه پېژني
داسې مزارته پښتني ملالې نجونه نه ځي
سروما ل ځي دعشق په لارکې خاورې کېږي زړونه
دليلى مينه پس له مرګه له مجنونه نه ځي

# دوطن شهيد

څوک چې شهيدشي دخپل دين اودوطن دپاره
د جنت حورې ورته راشي دديدن دپاره
دخداى له لورى ورته دېرآفرينونه راوړي
پاس له آسمانه دملكوسلامونه راوړي
دده په مخ کې دشرابوډک جامونه کښېږدي
دده له وينوپخپل مخ باندى خالونه کښېږدي
نه محوه کيږي په هيڅ شان دده د توري رڼا
دده مړانه نه هيرېږي په هيڅ وخت کې دچا
ملالې نجونې په ډېرشوق دده مدفن له ره ځي
لکه مين چې نيمه شپه دياره ديدن له ره ځي
څوک يې په قبر باندې ږدي ښايسته ګيډۍ دګلو
څوک يې بېرغ اوچتوي پخپلو سرو منګلو
قام او ملت ورته سلام اواحترام استوي
دغه تحفه ورته په مينه هرمابښام استوي
په هسکه غاړه دجنت په مناروکې ګرځي
په دې دنياهم په هروخت دخلقوزړوکې ګرځي

# موږ څه لیدلي

موږدانسان په صورت زښت ډېرشرمښان لیدلي
دپښتنوپه رموکډ موږه لیوان لیدلي
ټوټې ټوټې دغلیمانو په چړویو موږه
موږ ظالمان موږ خونخواران موږ قصابان لیدلي
دچنګیزسترګې مولیدلي هلاکوپیژنو
موږ په سرووینو لمبیدلي خپل ځوانان لیدلي
خپله یتیم پلاریې یتیم نیکه یې هم ؤ یتیم
غلیم له لاسه موږ ډېرداسې یتیمان لیدلي
په موږ راغلي ډېرقومونه دجګړودپاره
بالاحصارکې موږ ایسارډېرفرنګیان لیدلي
دمیوند جنګ کې دوطن دازادۍ دپاره
موږ ډېرسرونه پښو لاندې دافغان لیدلي
زمونږ په یاددی دبګرام اودپروان جنګونه
جنګ اوجګړوکې مونږ لښکرې دیونان لیدلي
خوقرنه وشوه چې له ظلم سره جنګ کوو موږ
موږ غوندې تینګ خلق نه ځمکې نه اسمان لیدلي
لکه موسی موږ په امسا د فرعون سرمات کړی
ډېرمغرورخلق په شکست کې موږ حیران لیدلي
مکروفریب اوله تلبیس سره په شخړه کې یو
موږ دانسان په بڼه زښت ډېرابلیسان لیدلي
موږ نه غولېږو نه ویرېږو پټې سترګې نه یو
له هرې خوا موږ طوفانونه دجهان لیدلي

هندوپنجاب سندوکشمیردسرپه سترګوباندې
زمونږ غازیان اوسرداران شهنشاهان لیدلی

په خواروسترګوپښتنولره نن ګورئ ولې؟
په غلامۍ باندې قانع چا افغانان لیدلی

په ویښه هیچابې ننګي مونږ نه لیدلې نه ده
زمونږ په باب غلط خوبونه پاکستان لیدلی

# دپښتون سندره

تېره توره مې ده خوښه په غېږې
نه مریوغوندې په غوږکې سره کړې
شپه او ورځ له درنو پېټولاندې خوښ یم
نه پردومخکې ولاړ یوه ګړې
چې پردوته کورولاړوي کړه غاړه
دپښتون له کلي کوره یې شړئ
که په وينويي کالي نه وي لړلی
پښتنو! په داسې مړی مه ژاړئ
پښتانه چې دپردوپه لاس کې وینئ
په پښتواو پښتنواله مه وياړئ
هېڅوک نشته چې غلیم لره وایي
پښتانه په کراچۍ ولې تړئ
پښتنواله به شي مړه پښتون به ورک شي

بې له تورې پښتونه ترسره کېږي
پښتو مري که يې له توره بيله کړئ

څوچې جوړپښتونستان اوپښتون نه شي
پښتانه ځلمي دې نه تېري پکړی

# ذوق او شعور

دړانده بېداى په كوركښې ښايسته ښكلى ليلىٰ وه

دنظرخاوند څوک نه و، بېهوده يې تجلا وه
ډېوه بله وه دحسن مګرعشق ورسره نه ؤ
بې پتنګه سوزېدله شمع ځکه په ژړاوه
دسپين مخ اودسروشونډوتوروزلفوتوروسترګو
څه قيمت اوقدرنه و، زړه كښې مينه ددنياوه
دښايست نوى بهارو، دګلزارجوش اوځواني وه

بينايي د ذوق هيڅ نه وه په بل ډول مشغولاوه
دګل لورته كتل نه و، بهارخوشې تېرېدلو
دمېووانتظار ډېرو دمادي ګټې سوداوه
دښكلا مېرمن خپه وه، دجمال څه قدرنه و
بصيرت ته وه محتاجه په نظرپسې شيداوه
مال دولت له حده تېرو،واک يې خپل وهرڅه ډېرؤ

مګر دا د تش كتلو اوشعورپه تمناوه

علم وفن هنراوشعربينا ذوق اوشعورغواړي
که په نيمه څوک پوهيږي دليلیٰ دغه معناوه

دمعناروح تل خپه وي دړندوناپوهوکورکښې
عرفاني نهضت مه غواړه! جامعه که نابيناوه

# دنظرخاوندانو

که ديدنه وي نه تياره اونه رڼا شته
نه دلمر اود سپوږمۍ څه تجلاشته

نه ماښام نه يې سحر کله ليدلی
نابيناکره نه شپه اونه سباشته

نه ښايست لري نه قدرنه نازونه
دړندوکورکې که هرڅوښه ليلاشته

ښه کتاب دناپوهانو په نظرکې
تش کاغذدی نه يې خط نه يې معنی شته

هرڅه شته دی څه چې غواړې په دنياکې
په دې شرط که درسره سترګې بيناشته

ته شاهد دښو اوبدو دجهان يې
څه چې ګورې که يې نه وايې سزاشته

له ړندونه دليدو پوښتنه نه شي
له بينانه تپوسونه دهرچاشته

ددوه سترګووظيفه ده ډېره ګرانه
څوک چې سترګې پټوي په لارکې خاشته

سترګې خلاصې کړه په ځیرځیرهرڅه ګوره
په جهان کې څه رواڅه نارواشته
پېژندل دښو اوبدوډېرمشکل دی
ډېرې پټې ګډې وډې مدعاشته
ددنیا له علایقوکله خلاص دی
سل پیونده په خرقه کې دګداشته
مادخدای کتاب لیده دچا په غېږکې
چې نظرېې په مالونوزما اوستا شته
حق چې هرڅومره صریح وي هومره ښه وي
خوله شعرسره بله تقاضا شته
چې په خوب کې ترې وېرېږم له هیبته
راسره وحشي فکرونه څه بلاشته
چې نه صبرنه سکون شم ترې موندلی
هسې خیال هسې مضمون هسې سوداشته
وایې یوڅه کوي بل څه غواړي بل څه
په جهان کې ډېرې پټې معما شته
سل مطلبه سل غرضه په هرباب کې
که پوهېږې په بل خط بله املا شته
کارواني اوغل په یوشان لیدل کېږي
بیا لاوایي هرې شپې پسې سباشته
نه پوهېږم مقصدڅه دی نغمه څه ده
خوعالم کې شروشور، زوړاوغوغاشته
خدای خبرچې سازول که ورانول کا
مګر خاوروکټوباندې مشغولاشته
ددنیا ګردوغبارکې هرڅه ورک دی
مګر حق او حقیقت سره رښا شته

غوړول دسترګوګران ښکاري هرګوره
ډېرې دوړې اوګردونه په هواشته
پټې سترګې که تېرېږی خطرنشته
درسره که څه سودا د محشرنشته

# څه ګورم

ګورم جهان کښې څوک کعبه ځینې بوتان جوړوي
غلطه پوهه له سرې ځنې شیطان جوړوي
دسړوکاردی چې دخپل وطن کارونه جوړ کړي
جونه اوپېغلې سینګارونه کوي ځان جوړوي
تهذیب ضروردی نظافت اوښه لباس دی په کار
فېشن که زیات شي له ځلموبازینګران جوړوي
دودانۍ امیدله هرچانه کېدلی نشي
له خاوروګټوښه کورونه معماران جوړوي
چې انساني رښا پیداشي په مغزوکښې دچا
هغه کوښښ کړي په عالم کښې انسانان جوړوي
ډېرتفاوت شته په انسان کښې دمعناپه لحاظ
واړه مشغول دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي

# انسان

زمادآه له حرارته دوزخونه جوړشوه

له تورلوګی نه یې داپورته آسمانونه جوړشوه

اوښکې له سترګو اوخولې زما دوچولی نه

چې تویې شوي دخدای په لارکښې جنتونه جوړشوه

چې سرمې تیټ ګرځپل ګریوان ته دمعناپه لټون

له یوه خاخکی راته لوی لوی دریابونه جوړشوه

لکه غواص چې شوم غوټه دمعرفت په قلزم

هري قطري نه بې حسابه ګوهرونه جوړشوه

دزړګي سترګې مې کړې خلاصې دجانان په لوری

شعوربیناشو ذوق پیداشو اوشعرونه جوړشوه

چې آبادی ته مې کړه مخه ټول جهان شو ګلزار

له سپېروخاورونبایسته ښکلی ښارونه جوړشوه

سره او سپین ماچې په نظرد محبت ولیدل

ښکلوته هاراوپادشاهانوته تاجونه جوړشوه

مونږ کړه له خاورونه راپورته، زر په خاوروکښې ؤ

زرو دپاره ولې مونږ خخه مریونه جوړشوه

وهمو او خیال مې په مغزوکې محکم ځان ونیوه

تصوراتو نه آخر کې تصدیقونه جوړ شوه

له خپله لاسه بتان جوړکړم بندګي يې کوم
باطل خدايان راته دوهم له مضمونه جوړشوه
نه وم خبرچې خه کوم دخه مقصدپاره
رانه په لوبوکښې اتوم څخه بمونه جوړشوه

# مات کودړی

(۱)

دګودړپه غاړه پروت ؤ مات کودړی
ويلی زه وم روغ منګی کلال جوړکړی
دلته لوبوکښې زه مات يوه ځلمی کړم
يوې پېغلې په اوړوومه راوړی

(۲)

دجهان هره ذره کښې عشق عيان دی
مات کودړی سره هم دعشق داستان دی
ډيرمين په دې ګوډردي يوځای شوي
ډيرمنګي دلته مات شوي لنډبيان دی

# خاورې او ګردونه

١

که څنډې کله جامې خپلې له خاورو

ته پوهېږې؟ چې ګردونو کښې دلارو

راځي هسې یومېلمه له کوم هېواده

چې یې خپل کالي څنډلی په څوو ارو

٢

له کوم لوری راروان یو جهان ګرد ؤ

مخ اوښت باندې یې پروت دلارې ګردؤ

ماوې څه دې ولیدل په دې جهان کښې

ویلې دومره شومه پوه چې جهان ګردؤ

٣

له دې خاوروشوه پیداډېرعالمونه

چې آبادې کړه لوی کلي لوی ښارونه

یوځوورځې یې دژوندسندرې ووې

بېرته خاورې شوه اوچت یې شوه ګردونه

٤

کلی وران و خو باقي یې لا آثارؤ

یومرغه په دېوا ل ناست دایې ګفتارو

دغه زوړدېوا ل چې ګوری په یووخت کښی

(۵)

لکه بوی چې له گلشنه راجداشي

یابخارله دریابونوپه هواشي

یوه ورځ به هم زمونږ له خاورودړو

یوگردپورته له صحرانه ددنیا شي

# دزماني سندره

(۱)

راسره دي لباسونه رنگ په رنگ

بدلوم کله جامې کله آهنگ

پېژندل زما پوره مهارت غواړي

هوښياري ده پیروي زما درنگ

(۲)

عادتونه بدلوم دانسانانو

په بل رازکړمه فکرونه دپوهانو

د آذر بتان کړم مات په ابراهیم زه

ماتوم ښیښه دعقل په مستانو

(۳)

یوکړم مست بل محتسب کړم بل هوښیارکړم

ورته ګورم چې دوی څه کا یو له بله

ځکه یو د چامزدوربل یې بادارکړم

(۴)

زما کاردی چې تغییرپیش کړم عالم کې

په افکاروپه خویو د بنیادم کې

دماغوکې نوی خیال پیداکومه

جګړه جوړه کړم دعقل په حرم کې

(۵)

کله زړونه کړم له توروکاڼوسخت زه

عاطفه کړمه پیداپکې بل وخت زه

راسره تیاره رڼا یخني ګرمي شته

څوک راتیټ کړم ځینې کښېنوم په تخت زه

راسره دي حوادث پیښي بې شماره

په بل رازکړمه نقشي نوی کړم لاره

ورانوم زاړه کورونه زړې لارې
نوي لارې جوړوم نورودپاره

# ورځ اوشپه

اضداد:

ورځ:

له جهانه تیاره ورم رڼا راوړمه
دغفلت له خوبه خلک پا څومه
هنګامه دژوندون ګرمه کړم عالم کې
حرکت اوکارته هرڅوک رابلمه
شوق دکار هومره په زړونوکې پیداکړم
چې غرموکې په دهقان یوې کومه
څوک په غرونوخېژوم په سختولارو
په چاباندې درانه پېټي بارومه
مړي خولې ماتې په مخ دکاریګرکړم
په همدې خولوآبرو دژوندساتمه
ټول عالم کړم سرګردان اوناقراره
خو دزجر سره اجر و رکومه
طالبان کړم ملایان خواران بېدای کړم
بې کماله ترکماله رسومه
قافلې زما رڼا کې شي رواني
دمقصد دلوري لاري ورښیمه
محرک زه دانسان دارادویم
داویده عالم له خوبه ویښومه

که ژوندون فعالیت اوحرکت وي
په جهان کې زه دغه اثرلرمه

وخت دسعې اوعمل دکاراوزیاریم
چې اوزګارمې نیوی نه شي هغه ښکاریم

شپه:

زما په غیږکې ترسبا ستړی خوبونه کوي
خواږه یاران پټ له اغیارومجلسونه کوي
ددوه مینوراز نیاز رانه پټ نه دی هرګز
محرم د رازیم که مستي اوکه نازونه کوي
داسمان ستوري به پلولاندې څه وینې زما
دځمکې لورته چې پټ پټ اشارتونه کوي
یمه اشنا د خدای له خاصوبندګانوسره
ریا نه خلاص دی چې دشپې عبادتونه کوي
چپه چپې کړم غوغاغلی کړم شورونه نه وي
دعلم اوعقل خاوندان نوی کشفونه کوي
وخت یم دفکر اوتدبیرد مصلحت اوسجنش
دورځې غږي اودشپې دماغ کارونه کوي
ډیوې زما کورکې بلېږي ترسحره پورې
هوښیاران ناست وي دسباورځې فکرونه کوي

زما تیاره کې عاشق وصل شي له یاره سره

سکندر ځکه په ظلماتوکې مزلونه کوي

شاعر دپاره لکه زلفې دخوبانویم زه

ځکه یې خیال په شپه کې جګ جګ پروازونه کوي

توره کېږدی یم دلیلی هم زه پخپله لیلی

څوک چې دزړه شعورلري زما سیلونه کوي

# غنا او فقر

غنا:

راسره شته دي ډېرنعمتونه

له مایې دادي واړه عیشونه

ښایسته زېوریم زه دخویانو

تاج وافسریم دپادشاهانو

بربنډانسان ته ښایسته لباس یم

دښکلوهارکې ښکلی الماس یم

وری دپاره آب حیات شم

فقیردپاره خیروخیرات شم

په هرنظرکې زما عزت شته

دهرچا زړه کې شوق دثروت شته

بې ما چې ګوري انسان فقیردی

په هر مجلس کې خواروحقیردی

دعلم قدرپه مازیاتیږي

بې له ماپوهه بې قدره کېږي

معمارد ملک او دمملکت یم

اصلي مقصديم زه په هر کارکې
په هر تدبیرکې په هر کردارکې

ماپسې سعیه کړي عالمونه
زما دپاره دي کوښښونه

غایه دعلم اودکمال یم
قیمت دحسن او دجمال یم

خوک مې جنت ته دلارې پول کړي
خوک دوزخونه په مقبول کړي

تا ج محل کوره زما یادکاردی
ورته ورکړی ماخپه سینګاردی

شری بدله زه په ښه شان کړم
ناسیا ل انسان زه دهرچا سیا ل کړم

عیبونه پټ کړم په ښوجاموکې
نفرت کړم محوه دخلقوزړوکې

بډای ته هرخوک په قدر ګوري
خلق رامات وي دده په لوري

خوک یې خدمت کړي خوک یې ثناکړي
فقیران ده ته ښې ښې دعا کړي

خوک یې تابع شي داحسانونو
خوک ورته ګوري په امیدونو

غناپه فقرحکومت کاندی
بډایان لوړوي په نوروباندې

راسره شته دي ډېرغزتونه
په ما سمېری واړه کارونه

فقر:

که په ګنج دشاهۍ فخر شهريار کا

فقيران له هسې فخره ننګ اوعارکا

دنياګۍ ورته حقيره معلوميږي

عارف ځکه له دنيانه ځان کنار کا

ماتوي بتان دزروپه جهان کې

هغه څوک چې فقربان دې افتخارکا

دنظرخاوندان نه شي غولولی

ددنيا ناوې که هرڅوځان سينګارکا

تش نظراوالتفات هم ورته نکړي

دا لولۍ که سل جلوې اوشرنګهارکا

دمېړونو افتخارپه نورڅه بويه

ښځې فخرتل دسرو زروپه هارکا

دانسان نظرچې لوړشي ترافلاکو

نظرکله په درهم اوپه دينارکا

مال ل دولت ته چې سجدې کړي مالداران دي

فقيران کله داهسې رنګه کارکا

انسان خدای سره په جنګ جګړواخته کړي

بدايي له سړی ورکه سمه لارکا

ددنيا په ميوومست اوړونودوکوڼ شي

عيش عشرت سړی بدکاراوبدکردارکا

فضليت نه سړی لرې کړي هرګوره

رذالت شهوت رانۍ ته يې تيارکا

دنیا ښه ده مګرفخر لره نه ده
چې مغرورپه مال دولت شي ځان به خوارکا

ډېره ښه ده که په ښه لارکې صرفېږي
ډېره بده ده که جوړتړینه زنارکا

عاقلان یې وسیله واسطه بولي
ناپوهان یې لیاقت لره معیارکا

که دنیانه جوړهرڅومره ښه لباس شي
ترینه هغه خوانظرالوالابصارکا

فقرهروخت غلبه په غنا مومي
فرعونان اوقارونان دغه اقرارکا

چې انسان په غنامست اوبې خبرشي
هغه فقردی چې بېرته یې په لارکا

"خرقه پوشوپه خرقه کې دي موندلي"
"هغه حظ چې په دنیاکې دنیادارکا"

# خوشحالی اوغم

خوشحالی:

زه یم هلته چې نه غم نه مصیبت وي
نه سوداوي نه تشویش نه عداوت وي

مخالف په منځ کې نه وي واړه خپل وي
دیارانو خوږ مجلس ګرم صحبت وي

کدورت او ملال نه وي په خاطرکې
دملګرواشنایانو جمعیت وي

ددنیا په سودوزیان څه غوغانه وي
نه له چاسره حسداو رقابت وي

طبایع وي موافق صفاوي زړونه
تکلف په منځ کې نه وي محبت وي

لطایف وي ظرافت وي په ویناکې
ښکلي ناست وي اود مینې حکایت وي

څوک شوخي کړي څوک نازونه یو له بله
کله کله پټ دسترګواشارت وي

تورې زلفې دلیلې په مخ خورې وي
بې صبري وي، شوق وذوق میل و رغبت وي

حرکات وي مستانه کیف وي دمینې
بېخودي وي فکر بل وي بل حالت وي

مامه غواړئ! دسباپه اندېښنوکې
زه یم هلته چې یودم هم غنیمت وي

هغه څوک چې کړي اوږده اوږده فکرونه
له هغونه زما تېښته اونفرت وي

ډېرډمال خاوندان مانه بېګانه وي
له ډېرعقل سره هم غم وحسرت وي

ماله مینې څخه ډکو زړوکې ګورئ
زه یم هلته یوله بله چې الفت وي

څوک مې مومي شوق وذوق دعبادت کې
ځینې وایې په ډېرعلم اومعرفت وي

ددنیا حریصان ما څخه محروم دي
که هرڅومره ورسره مال ودولت وي

زه په برخه دهغوی یم چې جهان کې
مست په مینه دجمال یاحقیقت وي

غافل نه وي له بنایست اوښکلیتوبه

په نظرمحبت ګوري جهان ته
ورسره له خوشبيني ډک بصيرت وي

بدبخت نه وي له ازله پيداشوی
خوی يې شه نظريې شه يې فطرت وي

ددنيا په نعمتوکې هم ليده شم
که حرص نه وي اوپخپل حق قناعت وي

غم:

زه پيدايم له شعوراوله احساسه
ما دزړه له کوره هيڅ کله مه باسه

مدام ژاړه په درد منو رنځورانو
په بدحا ل اوبده ورځ دغريبانو

په دنياکې کوندې رندې غريبان شته
په سل رازه زخمې زړونه په جهان شته

څوک چې سترګې لري کله وي بېغمه
اخلې برخه ديوه بل له ماتمه

په اقسامو مصيبت شته په عالم کې
زړه نژدې کړه يوه بل له په غم کې

غافل مه اوسه دنورو له احواله
چې نورژاړي ته هم مه اوسه خوشحاله

زړونه سوځي سترګې ژاړي مصيبت کې
څرګندېږي محبت دغم شرکت کې

خپل خواخوږی په غموکې معلومېږي
دوستان يودبل په بده روځ کړېږي

زه په زړونوکې رقت پيداکومه
موراوپلار په اولاد باندې ژړومه

بې له مانه زړه له تورو کاڼو سخت شي
قساوت پکې پیداشي نوبدبخت شي

زه انسان له شفقت سره آشناکړم
په غافل بې درده زړه کې درد پیداکړم

ځکه یودبل په دردباندې ځوریږي
مصیبت کې یودبل ملګری کېږي

که غمجن شي یوسړی بل یې غمخوارشي
سخته ورځ کې یوانسان دبل په کارشي

لوی باعث داجتماع اوملګرتیایم
زړو د پاره هم زه دردیم هم دوایم

که زه نه یم یوله بله دوستي نشته
ملګرتیا اومحبت اوخپلوي نشته

سره خاندي په رښتیا هغه کسان
چې وي یودبل په غم باندې ګریان

# یوسف اوزلیخا

ته یوسف نفسي ارزو دې زلیخا ده
ستاپه برخه غلامي ددې لیلا ده

که خپل ځان دې ورنه خلاص کړپادشاهي ده
که یې خوښې ته ځان وسپارې ګناه ده

# تناسخ

کله فکر دیوه بل کې حلول کړي
دهغه خویونه واړه دی قبول کړي
همدغه دی تناسخ که څوک پوهېږي
په دې راز دیوه روح بل کې نزول کړي

# مسخ کېده

ښه سړی چې له بدانو سره مل شي
دده فکر دهغوی فکر کې حل شي
همدغه مسخه کېدل دی په معنی کې
چې یې خوی دکوم حیوان په خوی بدل شي

# ددنیا قانون

یوه ورځ‌ې سحرووې په خنداکې
داقانون مدام جاري دی په دنیاکې
چې ضعیف دزورورخواکې ورکېږي

# خوشحالي

کوروکلي کښې سکوت اوقراري وه
نه خندا وه نه د ووړکو ثه مستي وه
يوناثاپه راپيداکوم ليونى شو
چې کتل مې په کوثوکښې خوشحالي وه

# ديموکراسي

پرستش ديوه تن بت پرستي ده
دمسلک پيروي لويه ازادي ده
په کوم ځاى کښې چې يوفکرکړي کارونه
هلته خوشې مهمل لفظ ديموکراسي ده

# فرداوملت

(١)

په زرګونوکلوژوندکړي ملتونه
په قرنوقرنوځملى وي اولسونه
دافرادو دعروج هسى مثال دى

(۲)

په اسلام کښې فردتابع دجمعيت دی

دملت اجماع قانون دشريعت دی

پس دخدای اودرسول له امرونهی

دښوبدومعيارفکردملت دی

# دروح اطمينان

هغه ځای کښې وي دژوند واړه خوندونه

چې څوک نه ويني څه زجربې قانونه

اطمينان دروح اوفکر هلته بويه

چې اصول اوقوانين کوي کارونه

# سياست

سياست دمطلب سرته رسول دی

په تدبيراوفکربانډې کارکول دی

خپلوټولوکوښښوخپلونقشونه

مستقیمه نتیجه نه اخیستل دی

## بې قدري

لکه ګل دبیابان هسې لوېږم

څوک مې نه ویني په سترګوچې څه کېږم

دښایست قدرمې هیچاسره نه شته

دانسان وتش نظرته هوسېږم

## عیب پټوني

په دنیاکښې که عزت که اعتباردی

دانسان دمعایبوپرده داردی

که څوک خپل عیب پټوي په دې پټېږي

ورکول یې دصحیح تربیت کاردی

# علم او پوهه

(۱)

بصیرت اوعلم نشته په کتاب کښې
که څه نه وي دمغزوپه پېچ وتاب کښې
علم او پوهه بل شی نه دی بینایي ده
خوشې ناست يې پټې سترګې په محراب کښې

(۲)

پوهه ټوله راوتلی له مغزوده
هسې نه چې په دې ډېروکتابوده
په نظرکښې که دقت صحیح سنجش وي
علم زېرنده ددغسې کتوده

# سرېتوب

دتوتیانو له وینه دامعلومېږي
چې خبروباندې څوک نه سرې کېږي
سرې نه دی چې يې کاردسړونه وي
په خبروکه هرڅومره ښه پوهېږي

# همدردي

پتنګ نه دی په ډیوه چې ستي نشي

بلبل نه دی چې په ګل فریادي نشي

زړه یې مه بوله تورکانۍ د صحرادی

په لیدو د زخمي زړه چې زخمي نشي

# علت او سبب

هسې وایې سوی سوی پتنګان

چې مونږ پېژنو سیزونکی دخپل ځان

مونږله شمع، شمع اورله تیلی واخیست

تیلی واخیست اورله لاسه دانسان

# دسوز ژړا

شمع وایي ماپتنګ له رڼا راوړه

له هغې رڼاچې طورنه موسیٰ راوړه

په هر کورکښې مې دعشق ډیوه کړه بله

# صبر

(۱)

ځینې وایي، صبرغم کښې نه ژړل دي
داولادپه مړینه ږیره نه شکول دي
که صحیح معنایي غواړې زما جانه
په سختیوکښې دخپل ځان نه بایلل دي

(۲)

صابرنه دی که زحمت نه ځوک ویرېږي
یاهرشي ته لکه وورکی هوسېږي
بې صبري ده چې بېځایه خوشحالي کړي
یاخوک زیات له ضرورته په قارېږي

# بې خبري

(۱)

په ګودرپېغلومنګي خپل ډکول

تېرې نه یواوبه ښکوخونه پوهېږو
چې څه راز به وي د تېرى اوبه ښکل

(۲)

په رښتیا چې ښوک منګى غونډې ډکېږي
ورو تږوله احواله څه خبرېږي
په کندوانوښوک پرې نه شي اچولی
که په لوړه دخوارانو نه پوهېږي

# تازګی

یو ښوورځې وي بهار د سروګلونو
لنډوي عمردښایست د ښو مخونو
تازګی دشعرهم داسې تېرېږي
ژرځي خوند دابتکار له مضمونونو

# محبت

(۱)

محبت زېږي دزړونوله شرکته
نه دمال اود دولت له شراکته
بې له مینې که احسان یا مداراوي
مینه نه زېږي له هسې مروته

رښتیانی دوست نه لري هغه سړی
چې په خوله باندې وي خپل په زړه پردی

محبت دلاس اوژبې اثر نه کا
که په مینه نه وي تو ددزړه نغری

(۳)

په دوستی کښې که څوک چل اوسیاست کړي
له دوستانو سره بل شانې صحبت کړي
رښتیانی دوست نه لري اونه یې مومي
که هرڅوپه خوله اظهارمحبت کړي

(٤)

محبت وي تل د زړولاندې کوروکښې
فکروي ددماغونو بنګلوکښې
په لوړ کورکښې که څه عقل فکر غواړي
محبت مه لټوه لوړوقصروکښې

# زړه

(۱)

خوله پرانیزي دګلش غوټۍ سباته
دزړه غوټي ببرته کیږي خپل اشناته
مادخپل فکرمحرم په جهان نه موند
نااشنافکروسره راغلم دنیاته

زړه پټ مه ساته هېڅکله له ملګرو

مه غل کېږه په دوستۍ کښې دخبرو

دبل زړه ته مومي هغه سړی لاره

چې راووت دنفاق ټکی له زغرو

# حقیقت

(۱)

کبان وايي ژوندپیدادی له دریابه

سمندروايي چې دی داورله تابه

لټوي يې دهوامرغان هواکښې

حقیقت ورک دی ددهرله کتابه

(۲)

بلبل وايي دګل رنګ دی دستایلو

نسیم وايي خوشبويي بويه دوړلو

فیصله درنګ وبوی شوله مشکله

سرګردانه کړ نسیم شوردبلبلو

(۳)

ځینې وايي غوټۍ خاندي هوسېږي

ځينې نوروايي له ډېرې زړه تنګۍ نه
زړه يې چوي اوکړېوان يې څيرې کېږي

# آغاز او انجام

(۱)

له اسمانه څاڅکي راغله دباران
پرې راشنه شوه سپين وسره اوزېړګلان
يوڅوروځې پس يې بادوبورلې پاڼې
خپل آغازانجام هيڅ نه شوورعيان

(۲)

په زرګونو کلوګوروچې ژوندون شته
حرکت شته لوئېده شته مخکښې يون شته
له آغازه له انجامه خبرنه يو
دومره وايوچې دوروند ګردون شته

(۳)

له دې خاورولاندې پټ دي عالمونه
چې يې نه دي ښکاره کړې خپل مخونه
سېلابونه اوسېلۍ دجهان واړه
وړي دبل عالم له مخ ځنې ګردونه

# فکر او کار

(۱)

چې له لرې سرې کاڼې سنجشونه

له دې فکراوسنجشه پیداکیږي

دماغونوکښې سودازړوکښې غمونه

(۲)

بې له فکرچې څوک کارکړي خوشې زیارکړي

چې بې کاره کړي فکرونه ځان به خوارکړي

چې عمل اوفکریوله بله بیل شي

عمل خوارشي فکرورکه سمه لارکړي

## د آشنايي اثر

له غموسره مې هومره آشنايي شوه

چې يې اوس راته مشکله جدايي شوه

له ترخووزره نه صبريږي چې عادت شي

دښمن هم سړی ته خوږشي چې ياري شوه

## سپين اوتوردېوان

(۱)

څه چې کړی په جهان کښې سليمان دی

په رښتیا که ته څه کاروړځنې واخلې

شپې او ورځې هغه سپین اوتوردیوان دي

(۲)

څه چې غوښتی سلیمان دسبا ښار نه

ته یې موومې دسبا ورځې له کارنه

دبلقیس تخت به دسترګورپ کښې راوړي

دا امیدکیږي دشپو ورځوله زیارنه

# حکمت او شعر

(۱)

په رڼا کښې دلمرخومره لوی حکمت دی

ژوندپاره ډیرضروردا حرارت دی

مګرګوره دآسمان سپینې سپوږمۍ کښې

خاوند ایښی دجمال شعري کیفیت دی

(۲)

په رڼاکښې که دلمر، دژوندګوهرشته

دسپوږمۍ په نورکښې هم کیف دنظرشته

په جهان کښې دي ضروردواړه څیزه

ځکه دلته شپه او ورځ شام وسحرشته

# حسن او جمال

(۱)

دجنت حورو زړه وړی دزاهد دی
په همدې فکرولاړخدای ته عابددی
دښایسته حوروپه لاس جامونه وینې
ځکه تېرله خپله سره مجاهددی

(۲)

ښکلی توب دی چې هرچازړه پرې بایللی
چاپه یوشان چاپه بل شان دی لیدلی
بلبلان ورپسې ځې دباغ په لوری
پتنګانو اورته ځان ورغورځولی

(۳)

که دوزخ ته کړي ښوک هڅه که جنت ته
که طاعت ته کوي میل که معصیت ته
دغه واړه دجمال کرشمې بویه
حیرانې ده دې جلوواودې قوت ته

(٤)

دښایسته حوروپیغام دی دین راوړی
دصوفي له سترګوحورودی خوب وړی
نیمه شپه دجنت حورې ورنه غواړي
خدای ته خوشې عبادت نه کړي وکړي

(٥)

چې په کاڼوکښې ښایست چېرې پیداشي

که ښایست کړي خان ښکاره په کوم انسان کښې
یایوسف یازلېخاشي یالیلی شي

(٦)

سلیمان که په دېوانوکړه حکمونه
ګرځېده یې په هوابانـدې تختونه
دبلقیس تخت هم دیوانوپه سروړی
هم جوړشوی له ښیښوورته ځایونه

(٧)

شاه جهان اودمحمودغوندې شاهانو
کړی پټه نوکري دمهرویانو
که انسان هرڅومره لوړشي په جهان کښې
بیاهم وي له اثرلاندې دخوبانو

## پل صراط - دسکندرسد

دایمان دخاوندانو داباوردی
چې یوپول په سمه لارکښې دمحشردی
بدان نه شي تېرېدلای تري هېڅکله
دنېکانوصالحانوپرې ګذردی
ورنه تېرشي څوک چې ځای لري جنت کښې
ورنه لوېږي چې اصلي ځای یې سقردی
که پوهېږی دغه پول شته په دنیاکښې
خوعالم لږڅه غافل اوبې خبردی
په صراط المستقیم باندې تله ګران دی

تېږې دل له هوسونو اسان نه دی
بوالهوس ته دغه سد دسکندردی

له نفسي خواهش نه هغه تېرېدای شي
چې دنفس په خواهشاتو زوروردی

په شهواتو چې قدم ږدي او تېرېږي
همدغه پول د صراط اود محشردی
په دې لارکښې لوړې تندې سربایلل شته
حق دپاره سرو اورونو ته لوېدل شته

## صیاده

ستاله لاسه دانبایسته هوسۍ زخمي شوه
ستا پنجره کښې ډېره ښه مرغۍ بندي شوه
د دریاب کبان په اور وکړول تا
دهوامرغان بېشماره ووژل تا
مګر ښه ده په دې کارګناه ګار نه یې
که سل وژني ملامت او خونکار نه یې

## د آزادۍ احساس

یوپېټ غلی احساس دی چې آرام مې نه پرېږدي
په اورمې کړوي لکه چې خام مې نه پرېږدي
جرئت مې زیاتوي دومره په ځان یمه پوه شوی
غافل له خپله حقه اوغلام مې نه پرېږدي

# ثواب

دبډای ثواب دوړی مېړول دی

دفقیر ثواب روژې خدای ته نیول دی

غازي وژني بل سړی ثواب دپاره

دشهید ثواب خپل ځان په بل وژل دی

# دشاعر آرزو

څه چې شاعر دخوارلسمې شپې سپوږمۍ نه غواړي

یا یې نسیم دپسرلي دګل غوټۍ نه غواړي

ګدایي نه ده طمع نه ده دنشاط آرزو ده

الفت همدغه شی له دوست اوله دوستۍ نه غواړي

# شجرة الرضوان

دشاعر فلسفه:

نه پوهېږم چېرته تلمه؟ څه مې کاروؤ؟

خوملګری مې دلاري یوهوښیاروؤ

راته کړي یې دحکمت اوپندخبري

لاربنودنه یې په لاره کښې شعاروؤ

مشائین شوه راپه یاد دده صحبت کښې

داشراق له فلسفې نه خبرداروؤ

دجهان په جریده کښې یې وو لوستی

دحکمت چې څه رمزونه څه اسرار ؤ

تلوپه لاره مخ کښې راغلله ویاله لویه

چې لوی پول وربانددې ایښی دچنار ؤ

هغه لوړقدوقامت و پښولاندې

چې جګ کړی دهوالورته ګلزار ؤ

سل بهاره یې لیدلی ووجهان کښې

عاقبت کښې له هرچانه خوار وزار ؤ

ماوې پس له جګېدو چې پرېواته شته

دچنار دومره جګوالی څه په کارؤ

دلوړتیا چې دا انجام اوډغه حال دی

لوړېدل او جګېدل یوخوشې زیار ؤ

راته وویل ملګری داڅه وایې

رامعلومه شوه چې ډېرناقص ملایې

ظاهربین یې ستا په سترګوکښې نقصان دی

تالیدلی په بل راز دغه جهان دی

ستا نظرکښې مدام هغه څوک جګ ښکاري

چې یې سراوچت په لوری داسمان دی

دلوړوالی حقیقي مفهوم دې هېرشو

هغه جګ ګڼې چې جګ ځای یې مکان دی

لوړتیا غوړې په اوچتو بنګلو کښې

پیدا شوی درته څه غلط ګمان دی

که هرڅومره دهوالورته اوچت شې

دغه پول چې سمه لارکښې په کار شوی

دپوهانو په نظرکښې یې لوړ شان دی

کوم لړکی چې ورنه جوړ دلارې پول شي

که په وهیړې دخلیل دنخلستان دی

په ښه لاره کښې صرفیږي ښه ښاخونه

مفهوم دغه دشجرة الرضوان دی

دطیبې اوخبیثې ونې فرق کړه

خیروشرصحیح معیار صحیح میزان دی

بده ونه تیټه بوله په هرحال کښې

دنیکۍ دونې ښاخ پاس په اسمان دی

هغه لوړدی چې یې خیرسي انسان ته

هغه تیټ دی چې پکښې ضرراو زیان دی

له سل ګزه دارنه جګ دی په معنی کښې

هغه پول چې پرې قدم ایښی انسان دی

مجرمان هم جګ په داربانډې ځړیږي

هریو جګ کله سرلوړی په جهان دی

په نظردخیروشرورله ګوره

که لړګې دی که انسان دی که حیوان دی

# سکون اوحرکت

تقدم اوتاخر:

یوه روځ دخپل هیواد په ښکلوغروکښې

په ښایسته ګڼو ځنګلو او شنودروکښې

ګرځیدمه هرطرف لکه لیوا ل زه

غرونه ډک ووله وښواوزږو ګلو
دشبنم په شان باران به وریدلو
یو طرف ته دمرغانو چغهار ؤ
بل طرف ته شوروشرزوږدآبشارؤ
غرله تورو رمو ډک و دمالدارو
کیږدی توري ودریدي په ځای دواورو

له هرناوه دشپنو آواز اوچت و
دشپیلو آواز پیغام دمسرت ؤ
سیسی زرکي به ازاده ګرځیدلي
په ډیر شوق یي دبهار ثناویلي
مستي زیاته وه دشپوورځومیناکښي
دشرابو تاثیرو آب وهواکښي
پیغلوجونو په اوربل کښي سوغاتونه
اشنایانوته راوړل زیړی ګلونه
که رښتیا وایم په داسي ښه ورشوکښي
شپونکی ښه یم نه به دار لویوښاروکښي
یوي خواته غرولاړؤ درناوی کښي
بلي خواته سیند روان ؤپه مستی کښي

دسکون اوحرکت فلسفي دواړه
ښکاریدلي څنګ په څنګ غاړه په غاړه
غره وقاراومتانت راته ښودلو
دریاب امردمستی راته کولو
یوساعت به دغره سرته وختم زه
داسمان وریځو سره به غږیدم زه
بیابه راغلم لکه تږی دسیند خواته
ښه به ځیرشوم ددریاب شوروغوغاته

له اسرارو له رموزو ډک حالت ؤ
داهیواد دتماشوکه دحکمت ؤ

سیندروان و، یوساعت یې سکون نه ؤ
خوپه هیڅ رازیې له غره نه بېلتون نه ؤ
له ډېروخته دغه سیند اودغه غرؤ
چې لیدلی خواپه خواشام وسحرؤ
دومره پوه شوم په تخمین اوپه ګمان
چې پخواله غره نه سیندنه ؤ روان
ددې غره او ښکې خولې دي چې بهېږي

ددریاب او سیند په نوم باندې یادېږي

اول وریځ وه بیا شوه واوره بیا دریاب شو
چې روان په مخ دځمکې شوبېتاب شو
چېرته ځي منزل یې کوم دی خبرنه دی
له دې غره ځنې پیدادی خوغرنه دی
ټول موجونه یې فاني دي او آني دي
خو دغره په نظرواړه پخواني دي
که سیند نه وي بیابه نه وي داموجونه
مګربې موجه هم نه وینو سیندونه
موج له سیندځنې پیدادی ښه پوهېږم
په تقدیم اوپه تاخیرکښې حیرانېږم
سیند او موج دواړه یوځای دلته راغلی
شپو او ورځو دواړه یوځای دی لیدلی
که آغاز ؤکه انجام ؤکه وجود ؤ
د مجهولې معماپه خېرموجود ؤ
په دې فکرکښې نوروک شوم له خپل ځانه
زوروریاران شو شکته له آسمانه

په یوه ساعت کښې جوړتړینه سیلاب شو
را روان په شوراوزوږمخ په دریاب شو

ددریاب موجونه زیات شوه له پخوانه
دامعنیٰ داسمان وریځوکړه عیانه
چې پخوادغه سیلاب ؤ په هواکښې
نه یې موج نه یې مستي وه په فضاکښې
اوس پیداورته داموج اودامستي شوه
چې هیوادکښې دمستانو یې هستي شوه

# دانسان پوهه

نورځه نه وینم دځان په تماشا یم

کله وریځ کله ږلۍ کله بریښنایم

هغه خط یم چې مې څوک نه شي لوستلی

نه پوهیږم څه املا کومه انشایم

لکه طفل کله خاندم کله ژاړم

دغمواو خوشحالۍ کډه مینایم

هره روځ مې زړه هوس دنوی رنګ کړي

لا نه یم چې یورنګ په هرسبا یم

څونومونه مې زده کړی له استاده

ملاشوی تش په زده کړه داسمایم

مخ یې پټ دی تش پلويي معلومیږي

ځان ماښودسمندراوقلزم بولم

چې ښه ګورمه حباب ددې دریایم

څه کېږي که داوبوپه سر روان شوم

نیزوړی غوندې او ر لره پیدایم

دماهۍ په شان دریاب کښې ترورګرځم

خپل صیادنه پېژنم چې ښکاردچایم

چېرته ځم له کومه راغلم څه کومه

سرګردان لکه ورمه ددې صحرایم

هرځای لاړم خوله هیڅ نه خبرنه یم

نورځه نه یم دړانده دلاس امسایم

# ورکه رڼا

له خواږه خوبه راویښ شوم هلته لیری څه رڼا وه

خدای خبردی چې ډیوه وه او که سترګه دسباوه

پسې ووتم له کوره رانه ورکه شوله لاره

ګرځېدمه هرطرف ته دورک نورلیدودپاره

چې فکرونه ایسارېږي هسې شان لوړې ژورې

مخکښې راغلې ورسره هم په هواکښې تورې لړې

شپه تیاره وه په اسمان کښي پيداشوی سخت طوفان ؤ
سخت باران سخته سیلۍ وه ډک له وهمه تورجهان ؤ

راسره که څه دعقل اوحکمت لېره رڼا وه
هومره ژرله لاسه لاړه ته به وایي چي بریښناوه

په نامه دحقیقت مالتولـه خپله ورکه
خپل ځان هم راځني ورک شو خبرنه شومه له ځرکه

څوک چي ووزی له خپل کوره دایي حال دا یي احوال شي
چي اسراردجهان غواړي ورته پېښ هسي جنجال شي

په دي سیراوسیاحت کښي چي معلوم شوه مشکلا ت ؤ
څو قدمه هغي خواته هرڅه ورک اوظلمات ؤ

بي حیرته نورڅه نشته په دي لاره کښي هرګوره
که له دي تیاري ځان باسي سکندره خضرګوره

کامیابي دي که په کار وي چي کړي فتح هیوادونه
ارسطویاافلاطون ته پرېږده دغه شان فکرونه

# صحيح معرفت

بي تميزه خدايږو سترګي دجهان دي
ډيرليوان شته چي په بڼه دانسان دي

دصورت حجاب نه هغه خواچي ګورم

په ناطق حیوان تعریف چې دانسان کېږي
په خبروغولېدلي هلکان دي

دهرعصر منطق بېل دی پوهه بېله
ډېرراندده شته چې دتېروخت بینایان دي

راشه وغوړوه سترګې ځان بیدارکړه
چې انسان پرې پېژاندده شي نورشیان دي

حقیقت چې کاندي ځوک له پښو لاندې
که مېږی هم ازارنه کړي ظالمان دي

چې واړه یې غولوي په هغه دغه
که په برېتولاس وهي هم صغیران دي

# لوی والی

شپه او ورځ ورپسې ګرځي هرانسان
دې مقصدته رسېدل نه دی اسان

بداېانو پیدانه کړه ډېرمال کښې
تش لاسونه بېرته راغله تاجران

په یوازې علم کله حاصلېږي
مالیدلی دډېرعلم خاوندان

هسې وایي په قوت او زورموندده شي
په غلطه لاره تللي ظالمان

چې په تش کمال اوفن باندې یې غواړي
په رشتیا چې غولېدلي داکسان

په رتبه یانسب کله څوک لوئېږي
لویوالی مه ګڼه هومره ډېرارزان

بې دقام خدمت نه بله لاره نشته
په دې لاره کښې یې مومي هوښیاران

که قوت لري که علم که دولت دی

نوبه هلته ستا په برخه شي لوی والی
په دې شرط که درنه ورک نه شي خپل ځان

# مغرور انسانه

داچې لوبې په سرو سپينو هرسبا کړې
راته وايه چې داهومره مغرورچاکړې

ددنيا په مينه مست يې بې شرابو
دهستی جنون له هرڅه بې پروا کړې

دغه په حال چې وريځ داسمان ژاړي
ته پرې هرساعت خنداکه برېښناکړې

له همدې خاورپيداخاکي انسان يې
نه پوهېږم دنيا ولې په هواکړې

هرڅوک ټيټ درته ښکارېږي له خپل ځانه
خپل نظرکښې خپل ګمان ابن سينا کړې

دغه علم دغه مال دغه کمال ستا
بلا بويه چې يې هرچانه جلاکړې

مونږ اوته ديوه کوراويوکهول يو
ددنيا عزت له مونږ نه نا اشناکړې

دغرور له مانۍ ښکته شه دنياته

لږ زړه سوی او همدردی که درسره وي
دازمونږ تیاره محفل به ته رڼا کړې

پتنګان به دې تاویږي له برجله
په احسان به ځان محبوب لکه لیلی کړې

رڼا یې دحقیقت به دې نصیب شي
کوه طورته به دزړونو لارپیداکړې

فرعونان به دې له ویرې سودایان شي
دلجویي دخوارغریب که په رښتیا کړې

# زړه غوارمه

چې دغمجنوپه حال سوزي هغه زړه غوارمه
داسې پتنګ سره یوځای خپل سوزېده غوارمه
لږ غوندې درد اودلسوزي دهمدردی دپاره
که په کوم زړه کښې ځای لري ترې ځارېده غوارمه
دسوز ژړاچې کله وینمه دشمع په مخ
درنځورانو سرته هسې ژړېده غوارمه
زړونه ساړه دي زه پتنګ غوندې سوراورلټوم
دومره ساړه کورکښې زه کله اوسېده غوارمه
چینې دسترګووچې شوی ګریوان لوندنه وینم
له هغې وریځې چې ږلی اوري اوبه غوارمه
چې خپل حرم کښې سره اوسپین مخونه ګوري مدام
سپیرومخونو دخوارانوته یې کاته غوارمه
چې بې پرواد ګل په شوق ښایسته ګلزارته ورځي
ددهقانانوله ا حواله یې خبرېده غوارمه

" الفت" هيچاته بله هيله اواسره نه لري
زړه پسې ګرځم هسې نه چې سپين اوسره غواړمه

## د محبت غيږ

چې نوى ګل دپسرلى ددې دنيا ومه زه
چې پاک له هرراز خيانت اوله ګناه ومه زه
زړه ته نزدې دخپلې مورغيږکښې مې ځاى درلوده

دسترګوتور دزړګى سردخپل بابا ومه زه

جاروقربان به مې سل ځله په يوآن اوريده
لايق دمينې هغه وخت کښې دهرچاومه زه
دپيغلوجونولونګين سره مې لوبې کړلې
لاس به مې اچاوه ګريوان ته بې پرواومه زه
خپل اوپردى به په نظر دمحبت ليدلم
په حقيقت کښې دتمام کلى ليلاومه زه
په ډېروسترګوکښې مې مينه دخپل ځان ليدله
په زړه کښې ګران دډېروخلقوپه رښتياومه زه
رموزدمينې راته مورپه يونظروښوده
له ګړېدلومخکښې پوه په دې معناومه زه
چابه چې ډېرپخپلې غيږکښې اخيستم په مينه
په تش ليدو به يې خوشحا ل اوپه خنداومه زه
که لږ نظرزما دهغه وخت ژوندون ته وکړې
دمورپه غيږکښې محبت سره اشناومه زه
که هرڅه هېرکړم عشق اومينه هېرولى نشم
سترګوليدلى محبت له زړه ويستلى نشم

## دحق جذبه

دحق جذبه ده چې په ځوى دپلاربوتان ماتوي

يوه سرې باندې طلسم دجهان ماتوي

دسکندرله سده ټینګ دی یوپه سله تقلید
داراز سدو نه ،خاوندان دټینګ ایمان ماتوي

دخوف وطمع ، محبت اوعداوت قیدونه
که هرچامات کړه هغه مکردشیطان ماتوي

دافلاطون په حکمت نه کېږي دحق پالنه
لښکر دظلم ومعصیت ابن عمران ماتوي

په عقل نشي لوی کارونه په جذباتوکېږي
بدنظامونه دجنون اوعشق طوفان ماتوي

دپلارنیکه په قدم مه ځه حقیقت پسې ځه!
هغه دودپرېږده چې حکمونه دقرآن ماتوي

خپلوپردونه مجردشه لحاظونه مه کړه
دحق ورمېږمراعاتونه دانسان ماتوي

# اخلاقي ښودني

(۱)

که پخپلوهوسونو زوروریې
که په کورکښې دې هېڅ نه وي توانګریې

چې په غاړه دې دطمع ځنځیرپروت وي
خوراتیټ یې که ولاړ په جنګ منبریې

حق که پټ کړې دخورې مرې دپاره
هره ورځ که یې روژه هم خېټوریې

که دې خپل فکراوخیال وي پخپل واک کښې
که لښکراونوکرنه وي هم افسریې

کارعمل ته چې دې ګورم تورکودی یې
مګرخلقونه پټ کړی سپین ثادرېي

په لیوانوخپلو خورې پردی مالونه
سپین سیېثلی لوی سړی لکه سپین غرېي

(۲)

عزت نشته زورورو په حضورکښې
لويي نشته تکبراوپه غرورکښې

قبلیدل دچاپه درکښې لوی ذلت دی
که نقصان نه وي په سترګواوشعورکښې

له معنی اوله کماله سره اشنا شه
موندل کېږي لوی عزت دعلم نورکښې

خوشحالي په ډېردولت اوما ل کښې نشته
ښه ژوندون بویه دزړونوپه سرورکښې

دحسداوحرص خاوند په اورکړېږي
لئیمان وي شپه او ورځ په سره تنورکښې

ملنګان یې ددوهۍ په غاړه مومي
کوم تودوالی چې مالدارمومي سمورکښې

(۳)

ثوک چې نه لري یوبل ته امیدونه
دهغه په کورکښې خدای ایښی ګنجونه

له عالمه بې نیاز هغه کسان دي
چې یې کم کړه په دنیا خپل حاجتونه

ددنیا جاه وجلال ورته هیڅ ښکاري
چې دماغ کښې شي پیداعالي فکرونه

ذایقه اشتهافکرچې بدل شي

هغه نه اخلي له دنیانه ډېرخوندونه

دمعنی دخاوندانو په نظرکښې

ددنیا دعزت نشته ډېرقدرونه

څوک چې مست شي دمولاپه مینه باندې

دهغه زړه کښې وي کله نورشوقونه

(٤)

چې په سمه لارڅوک نه ځي بینانه دی

چې عمل په علم نه کړي ملانه دی

که یې فکر ستاله فکره مخالف وي

شپه او ورځ که درسره وی اشنانه دی

لمرکه راشي په تندی باندې له پاسه

ته چې ویښ له خوبه نه یې سبانه دی

وړاندې وروسته دهرچاډېوې مړې کېږي

ترسبا پورې څراغ بل دچانه دی

چې په فکرعقل لوی نه وي ماشوم دی

چې په خوی باندې کمکی وي بابانه دی

# دعمل درس

دعمل لارکښې چې ایښی چاپوګام دی

په جهان کښې یې په نورواوچت بام دی

چې خبرې ورسېږي نورڅه نه کا

له عمله ناشناابن الکلام دی

چې په خوله هرهرڅه وايې اوخه نه کړي

طبيبان يې که سم بولي هم سرسام دی

اراده اودکارعزم چې لري څوک

دهغه هروخت کښې شوی احترام دی

دعمل دخاوندانو په حضورکښې

دوينا خاوندولاړلاس په سلام دی

نه په تشه وينا کاردچاسم شوی.

نه مورشوی کله تری په تش جام دی

# دوه ماموران

زمونږ په محله کښې يودوه کوره ماموران دي

تنخواه اوپه رتبه کښې څه فرق نلري يوشان دي

خوراک ديوه هره شپه نری وريجې چرګان دي

د ورځې کبابونه سالنونه نورشيان دي

دبل ماموپه کورکښې ماشومان ګورم چې ژاړي

پخ کړی يې پيتې وي دوی ښورواله موره غواړي

سل رنګه نعمتونه دهغه کورکښې پخيږي

ميوې لمدې اووچې پکښې هروخت پيداکيږي

دښارمامورين واړه دهغه کورکښې عذريږي

دښې دوډۍ صفت يې مجلسونوکښې تل کيږي

دا بل مامورکره کله سابه کله ښوروواوي
په میاشت کښې دې یودوه ځله نرى وریجې رواوي
مدام دې وروړو، ورسره غم وسوداوي
یوه تنخوا تربلې نه رسېږي حال یې داوي
هغه څنګه ماموردى ددې بل ولې داحال دى
دغورخاوندانو نه زما دارنګه سوال دى
په کار اولیاقت کښې دى هغه ځنې بهتردى
هغه په پیسوباندې په هرځاى کښې معتبردى

پخپله سوغاتوپه لویوخلقو زورور دى
رشوت په رشوتونو هضموي دایې هنردى
کارغه دې خوري مرداري هریووایي چې بلبل دى
دپوهې صفتونه یې کوو مکرجاهل دى
دخپل آمرپه مخکښې نه پوهېږم څه پرې کېږي
سم نه شي درېدلى ډېرکږېږي اوتیتېږي
سرتیټ غاړه کړه شي لاس سینې نه نه بېلېږي
اوضاع اوحرکات یې ټیټ اوپست رامعلومېږي
زمونږ په مامورینو کښې دارنګه ماموران شته
په دغوصفتونومدیران اوحاکمان شته
راځئ هغه ماموراودا مامورسره جلاکړو

دښوبدوتميزوکړو دحق جذبه پيداکړو

لايق اونالايق وپېژنووطن رڼاکړو

ترخوبه پڅووسترګې په دغسې کسانو

قلم پسې راواخلئ دوطن ويښوځلميانو

## دښځوشکوه

بادونه دخزان غوټۍ خنداته نه پرېږدي

ظالم صيا د بلبله دګل خواته نه پرېږدي

اختيارمې دځان نشته دی دجبرپه مذهب يم

دادامې خپلې خوښې اورضاته نه پرېږدي

هيڅ نه شمه ويلى چې په کوم کورکښې به سوځم

زما دزړه لاليه څوک مې تاته نه پرېږدي

په چاوکړم عرضونه چاته وکړمه ژړا زه

دابدرسم ورواج مې حق ويناته نه پرېږدي

وهل که تکول وي چاته هيڅ نه شم ويلى

ظالم مې هم وهي هم مې ژړاته نه پرېږدي

دجهل په تياره کښې به اوسېږمه ترکومه

ماڅوک دعلم وفن پوهې رڼاته نه پرېږدي

له مانه تربيت دپوه اولادغوښتل خطادى

تعليم ته مې چې څوک دمکتب خواته نه پرېږدي

# ديني تبليغ

ټول عالم خبردی چې خيرات کښې ثوابونه شته
مال کښې دغنيانو دمسکين، فقيرحقونه شته
څوک چې ملايانوته څه ورکړي ډېراجرونه شته
بې زکاته مال باندې داغل داورګورزونه شته
دامسئلې کړی واعظ مونږ ته شامدام دی
پټ يې چې ساتلې ځينې نورددين احکام دی

مال کښې دميراث دخوېند وبرخې چاليدلی دی
ميل دخورولورته په واده کښې چاکتلی دی
مونږ ته چاد کوندوباب کښې کله څه ويلی دی
دارنګ مسئلې مونږ ډېرې لږې اوريدلی دی
ډېرچې په وعظونوکښې يادېږي سخاوت دی
ياپه ډېراخلاص دکوم صاحب مخکښې خدمت دی

وايوظلم بددی بياظالم سره ملګری يو
ډېري ناروا وينو ړانده کاڼه اوغلی يو
حقه شاهدي پټه ساتوله حقه لرې يو
ويره دخدای نشته زورورنه ويريدلی يو
ښکه مسلمان يوقرآن څه وايي مونږ څه کوو
داسې عملوسره لابياوايوچې ښه کوو
لمونځ موصحيح نه دی خونفلونه هرساعت کوو
دين نه خبرنه يوله ريا ډک عبادت کوو
نه کووعمل په قرآن تل يې تلاوت کوو
سل رنګه ګناه خدايږوپه رنګ کښې دطاعت کوو
زښت ډېرمهارت لروپه دغسې کارونوکښې

پاته دی اصول ددین خوتینګ په مستحبویو

کلک یوپه سنتوناخبرله فرایضویو

کله مکلف دجای نماز په ګرځولویو

اصل کارشو پاته دظاهرپه جوړولویو

راشئ چې ددین واړه احکام په ځان قبول کړو

هسې نه چې پاته وي واجب سنت معمول کړو

حق ویل په حق ټېنګ دربدل اصلی طاعت ګڼه

لاره کښې دخیرکوښښ کول لوی عبادت ګڼه

داته وظیفه دسرېتوب اوخلافت ګڼه

ظلم ورکول له ملکه دین اوعدالت ګڼه

سخت وي که اسانه چې دین وایي هغه کارکړه

ورانې کړې لارې کړه اوجوړه سمه لارکړه

دارنګه کارونه دربنتیامسلماني غواړي

ګرانه وظیفه ده ډېره ټېنګه دینداري غواړي

حق اوحقیقت پال تقوی ایمانداري غواړي

هرکارکښې دخدای لحاظ دحق طرفداري غواړي

ثورکعاته نفل کول شیخه ! دومره ګران نه دی

خدای خوشحالول جنت ګټل دومره آسان نه دی

## څه غواړو

چې په عالم کښې دنفاق اورونه نه بلوي

دانسانانو ترمنځ خيرغواړي اوخيرلټوي

چراغ دداسې خان ملک بل ترسبا غواړومونږ

چې درياپه طاعتونو خلق نه غولوي

په بزرګی اومسايلو پيسې نه ټولوي

صحيح اسلام هرچاته ښيي حق باطل بېلوي

دارنګه پيرشيخ وملادقوم پيشواغواړومونږ

چې رشوت نه خوري ظلم نه کړي اوپوهېږي په کار

خوشی په خوشی نه کنځل او نه وهل کړي نه قار

په خوارغريب لري زړه سوی نه په ظالم اوبدکار

هغه قاضي هغه حاکم هغه ميرزاغواړومونږ

دملايانوپه تعويذوي که په دم دفقير

دډاکترانو په دواوي که دطب په اکسير

په خيراتونوپه ټوټکووي ياپه بل کوم تدبير

له لويه خدايه خپل مريض له ره شفاغواړومونږ

چې خدمت کاندي په رښتيا ملک وملت دپاره

په حق چلېږي دانصاف اوعدالت دپاره

په سمه لاره وي روان دحقيقت دپاره

دارازښه توب ښه سړيتوب بې له رياغواړومونږ

چې دماغونوکښې رڼا زړوکښې سروربيداکړي

قوم وملت کښې دلوړتيا ذوق وشعورپيداکړي

فکر وعمل او اخلاق ښه کړي ښه دستور پیدا کړي
له مکتبونو علم وپوهه درښتیا غواړو مونږ

# څه دی؟

سترګي غړولی نشم دوړې او ګردونه دي
یوقدم دمخه نشم تلی لوی ګړنګونه دي

ښه ښکاري له لري ورروان په ډېره مینه شم
ښه چې ورنږدې شم پکښې سل رنګه عیبونه دي

ماغوندې يې ډېرې په ښو خبرو تېرا یستلي دي
ډېرې په ښه ژبه باندې کړي بدکارونه دي

زړه کښې یې دخیر او دصلاح فکرونه نه ګرځي
لوستې یې که نوی او زاړه ډېر کتابونه دي

وایي په مجلس کښې آیاتونه حدیثونه ډېر
هروخت په دې چل خوړلی ده پردی مالونه دي

تل کوي دعوه دپاک نفسي اودخدمت دقوم
چاچې په هرکار کښې ډېراخستی رشوتونه دي

څنګه به روان په سمه لاره هغه خلق شي
مونږ چې ددوی کړي په بدکار تل صفتونه دي

وایوښه ملادی څوک یې نشته دجواب چېرې
ده په مسئلو ناحقه کړي ډېر حقونه دي

ښه میرزاهغه دی دعالم په اصطلاح کښې نن

تل یې چې کارونوکښې پیښ کړی جنجالونه دي

څوچې زړه کښې مینه عاطفه دخیرپیدانه شي

علم ولیاقت کښې هم نقصان اوضررونه دي

سمه نیمه شپه ده سوادیي له خوبه پاڅېدم

ځکه مې کډوډ او پرېشان دغه شعرونه دي

اوس یې که څوک نه لولی عالم په خوب ویده دي ټول

دادسبا روځې ویښ ځلموته پیغامونه دي

# دخان باز

خلق وايي چې يوځوکاله پخوا
هغه وخت چې خان ته هرڅه ؤ روا

نوم يې نه شم اخستلای خويوخان و
شاوخوايې څوک نوکرڅوک مزدوران و

داسونويې ولاړووکمندونه
دغلويې ؤ بېشماره ګدامونه

ځمکې ډېرې پيسې ډېرې هرڅه ډېروو
مال دولت يې له حساب اوشماره تېروو

په هرکورکښې به پسونه که چرګان وو
دبل چا نه وو همه واړه دخان وو

شړومبې نورکلی خوړې غوړې دده وو
داولس په برخه جواراو شنه سابه وو

يوه ورځ چاورته راووړيوسپين باز
دسپين غره ټولوبازانوکښې ممتاز

ډېرې زرکې اوسيسی يې وې نيولې
خدای ورکړی وې دښکارتېرې منګولې

مشهور باز و هرسړی يې کړه ستاينه
خان يې هم کوله ډېره ښه پالنه

مقررېې ورته کړه دوه خام چرګورې
مکلف په دې خراج شوه ټول وګړې

چې تومه دبازچرګوری دډېران شو
طبيعت يې شوبدل خوی يې بل شان شو

ورنه هېرشوه ټول دښکارښه ښه چمونه
هغه واړه پخوانی لوړپروازونه

همېشه به يې نظرو په کوځوکښې
دخوارانو کوندو رنډو په کوروکښې

په هرځای کښې به چرګوری چې ښکاره شو — په هغه ساعت به بازبیاپرې غوټه شو

یوه ورځ مینه دښکارخان ته پیداشوه — د هوامرغان نیول یې مدعاشوه

بازې خوشې په هواکړښکاردپاره — ګوندی ونیسی سیسۍ زرکې بېشماره

هرسړی ؤ منتظردباز غوټوته — دښکاري اومه شهوربازلویوحملوته

بازچې والوته بیدوراغی کاله ته — هغه خپل کلی اوکورخپل ډېرانه ته

په چرګوړویې غوټه کړه سمدلاسه — خپل قسمت اوخپل نصیب یې کړترلاسه

بدبختی چې دیوقام په نوم تصویب شي — هسې خان اوهسې بازې په نصیب شي

تربیه یې دبازانوشي بل راز — دټپوس کارونه هلته کوي باز

## څه شی دی؟

زاهد یې ریاضت دنفس خواری کښې لټوي
عارف یې دزړه پوهی بیداری کښې لټوي

بلبل ورپسې ګرځي په باغواوګلشنونو
پتنګ یې ځان سیزلوسربازی کښې لټوي

ملادکتابونوپه حاشوکښې پسې ورک شو
کم عقل یې په ډېرې هوښیاری کښې لټوي

بډای وایي قارون قدرته ما ل باندی مونده شي
ظالم یې په مرګونو خو نخواری کښې لټوي

ملک اوخان ګمان کړي چې به وي د حاکم څنګ کښې
اولادې دفرعون په باداری کښې لټوي

هرڅوک پخپل ګمان ورپسې ګرځي هرې خواته
دزړونو خاوندان یې دلداری کښې لټوي

مین چې په رښتیاخوک پخپل قام اوپه ملت وي

هغه یې دوطن خدمتګاری کښې لټوي

دخیراودصلاح خاوندېي هروخت په جهان کښې

دخدای دمخلوقاتو دوستداری کښې لټوي

# خوارحسن

په زړوجاموکښې ماولیده حوره

دبدرنګې مېرمن لاس لاندې مزدوره

په ښایست کښې لکه میاشت وه نوراني

په ښه خوی کښې پرښته وه آسماني

په نسب وه له هرچانه معتبره

په حسب باندې مېرمنونه بهتره

نه په وهیرم تقاضاوه دآسمان دا

او که خوی یاطبیعت و دانسان دا

چې داهسې شان بشره ښایسته له لمره

غورځولی زمانې وه له نظره

دیوسف دغلامۍ یوښه نظیرو

په رښتیاچې دهمدغه خوب تعبیرو

راته وې ویل دحال په ژبه باندې

غریبي په سړي هسې چارې کاندې

قیمت نلري ښایست دمزدورانو

نه ښه خوی لره څوک ګوري دخوارانو

خدای راکړی ښه صورت ښکلی سیرت دی

خو د خوارحسن لږ قدرلږ قیمت دی

په زړوجاموکښې څوک نه لیدل کېږي

ډېرزماپه خېرښايسته ښکلي ښاغلي

مدام وينځي دپردوکالي ناولي

بل شی نه دی عاجزي اوغريبي ده

چې په بد نظرکتلی هرسړي ده

هنرونه پټ وی دانسانانو

خاوري مښې په مخ باندې دخوارانو

ښه اشخاص زاړه لباس کښې وي بې قدره

بدسړی په ښه لباس شي عاليقدره

ډېرښه خلق په دنياکښې خواروزارشته

بډايانوکښې ډېرخلق بدکردارشته

پام کوه ! په سپين سپېڅلی مه غوليږه

بې پروا له خاکسارانو مه تيرېږه

په جنډوکښې ښه ښه خلق ماليدلی

دخوارانو په جاموکښې وي ښاغلی

چينجی اوسي دورېښموپه قباکښې

پټ مخ ګرځي رياکار سپينه رداکښې

ديوسف خيروجاموکښې څه ګناه ده

ښه لباس کښې چې ګناه کړي زليخاده

راځئ! خيري کړو داښې جامې رنګينې

پکښې وګورو خيرې ډېرې ننګينې

# مه غولیږئ

دنیا ته چې یې ګورې    دوطن په غم جلبل دی    پرې مه غولیږئ غل دی
په ژبه هرڅه وایي    وطن اوملت ستایي    په دې غم مبتلایي
مجلس دصادقانو ته    راغلی په څه چل دی    پرې مه غولیږئ غل دی
دخپل مطلب دپاره    هرځای ته لرې لاره    تل ګرځي ناقراره
له خپل شخصي غرض نه    نه تیریږي ګوډاوشل دی    پرې مه غولیږئ غل دی

شپویې که په سروي    په غاړه یې کالروي    په پوهه معتبر وي
په بدنظرې ګورئ    که یې بل شاني عمل دی    پرې مه غولیږئ غل دی
په بڼه دانسان دی    په خوله ښه مسلمان دی    په خوی لکه شیطان دی
عمل باندی تک تور دی    که په سرې سپین ململ دی    پرې مه غولیږئ غل دی
لږځیرشئ حقیقت ته    عمل خوی اوخصلت ته    دهرچا هویت ته
مشکل یې پېژندل دی    دټګانوبل شان پل دی    پرې مه غولیږئ غل دی
هروخت کښې منافق شته    په هرځای کښې فاسق شته    هم نیک اوهم صادق شته
هغه به نه غولیږي    چې په عقل مکمل دی    پرې مه غولیږئ غل دی

# هلته او دلته

هلته رښايي دعلم وفن ، عقل وحکمت وينم　　　دلته جهالت وينم

هرچيري چه ګورم اتفاق ملي وحدت وينم　　　دلته عداوت وينم

هلته آبادۍ دپاره هرڅوک کوښښونه کړي　　　شپه ورځ زحمتونه کړي

دلته ورانول د روغ و جوړښه عمارت وينم　　　دتخريب قوت وينم

هلته دملت اوقام دپاره خدمتونه دي　　　دلته فريبونه دي

هلته وظايفوکښي راستي اوصداقت وينم　　　دلته خيانت وينم

هلته يوه بل باندي خاني اوملکي نشته　　　خوشي باداري نشته

هرقسم پيشرفت هلته په کاراو صداقت وينم　　　دلته ډيررشوت وينم

هلته زوروره عاجزانو ظلم زورنکړي　　　يوله بله شورنکړي

دلته تربګنی ګوندیماري رسم وعادت وينم　　　بغض وحسادت وينم

هلته ښه کورونه ښايسته اوپاک قصرونه دي　　　ښه عمارتونه دي

دلته په کوروکښې دلړم مارسکونت وینم    سل رنګه زحمت وینم
هلته فابریکې دي عالمونه پکښې کارکوي    ښه زیست ورورګارکوي
دلته یوه بل پسې خبرې اوغیبت وینم    زور دبلاغت وینم
هلته له ډېرقهره ریږدېدل اوسره کېدل نشته    بدویل کنځل نشته
دلته پټَکې سپورې خبرې اوشدت وینم    دې کښې مصلحت وینم
هلته څوک بې فکره بې سنجشه هېڅ یوکارنکړي    بېړه اوتلوارنکړي
دلته په کاروکښې ډیربې فکره جدیت وینم    بې معنی سرعت وینم

# د عشق سفر

ښه کېږم که بدکېږم که له ښوبدوبیلېږم
پرېږدمه هوښیاري دلته زه ځمه روانېږم
له عقله سره نه ځم محبت مې چېرته بیایي
اول قدم مې دادی چې له دې خلقوتېرېږم
له رسمه له رواجه منډه اخلمه او ځغلم
بې دغسې شتا به هغه ځای ته نه رسېږم
هررنګه لغزشونه دمستانومې قبول دی
دهرچا په نظرکښې که هرڅنګه معلومېږم
که سرځي اوکه مال ځي که عزت اواعتبارځي
دعشق په میخانه کښې په رڼا ورځ داخلېږم

داتول عالم چې پرېږدمه له هرڅه نه جداشم
مجنون به یم خوهروخت به لیلی سره یادېږم

# په لیلی پسې ځم

مکړه په ماهسې ګمان چې په دنیا پسې ځم

له خانقانه رابهرشوم په لیلاپسې ځم
چې د آشناقدرکوي هغه جانان لټوم
نه یم هغه چې به هرځای ته په هرچاپسې ځم
لوی اوواړه نه پېژنم یم دماشوم په مثا ل
څوک چې کړي مینه راسره هغه لالا پسې ځم
سرته دبام یمه روان دلوېدودارنه لرم
نه راستنېږم دسپورمۍ سپینې رڼا پسې ځم
زړه مې هلک دی دپردی باغچې ګلونه غواړي
ددنیا غل مې مه ګڼه دګلوغلاپسې ځم
چرګوړی نه یم چې دانه پسې له کوره اوزم
لکه بلبل دګل په لوری په بوراپسې ځم
له فرعونانوځنې تښتم دمولاپه طرف
دغرونوسرته دحق نوراوتجلاپسې ځم

# ستا خیال

دسحرستړکه لانه ده راختلی
تورہ شپه ده په هېڅ کورکښې رڼا نشته

دېوې مړي دي دکانونه دي تړلی
ددنیا په سودوزیان څه غوغانشته

که غمجن دی که ښادمن دی ټول ویده دي
اوازونه دخندا اوژړا نشته

هرطرف چې ګورم ته یې اوستا خیا ل دی
له بل چا سره زما مشغولا نشته

شپې او ورځې مې تېرېږي ستاپه خیا ل کښې
عشق اومینه راسره ده په هرحا ل کښې

ستا سودا راته صحراګل وګلزارکړه
پرواګیردهېڅ ګلش اودباغ نه یم

دزړه خونه مې دعشق په نوررڼا ده
محتاج څکه دحکمت دچراغ نه یم

دبلبل په څېرپه مینه باندې پایم
په مرداروپسې نه څمه زاغ نه یم

ازلي برخه مې عشق او محبت دی
خومره خوښ یم چې زه زړه یم دماغ نه یم

داخووورځې چې دژوند په نوم یادېږي
بې له مینې که تېرېږي ضایع کېږي

ته پخپله ښه پوهېږې لویه خدایه
چې ددې عصر انسان څنګه انسان دی

دبشر مقتدرفکرلیونی شو
اوس یې خیا ل دورانولو دجهان دی

نن دماغ لوبې کوي په کایناتو
پېښ دعقل په دریاب کښې لوی طوفان دی

دانسان دسعادت بېړۍ ډوبېږي
فلسفي دتنازع پېښ کړی زیان دی

سعادت نشته دنن عقل وحکمت کښې
زهرتوی شوه په ښېښه د بصیرت کښې

زورورډخپل مراد ګوهرنن غواړي
دمظلوم دوینو اوښکوپه دریاب کښې

انساني ژوند په طبعې ژوند بدل شوی
هریوغواړي خپل راحت دبل عذاب کښې

دمادي ژوند دبقادپاره هرڅوک
زده کوي دظلم درس طبعی کتاب کښې

انسان نه دی نه پوهېږم څه بلا ده
چې پیداشوددي عصرپه سېلاب کښې

عاطفه انساني مینه یې علاج دی
محبت ته دبشرسخت احتیاج دی

همدردي اودلسوزي ورکړه انسان ته
بیایې عشق اومحبت سره آشنا کړه

دانسان زړه دصحراله کاڼو سخت دی
پکښې درد اوسوزدمیني بیاپیداکړه

دافکرونه داعقلونه له مونږ واخله
لږڅه مینه محبت عشق راعطا کړه

چې هرڅوک یې په لیدلوخپل زړه بایلي
ددنیا کورکښې پیداهغه لیلی کړه

بیا دمیني اورتازه کړه په جهان کښې
بېرته نرم کړه داسخت زړه په انسان کښې

# عشق

عاشقانوسره ویره دسرنشته
هسې نه چې دعشق لارکښې خطرنشته
فرهادي عزم له عشقه پیداکیږي
دعاشق په مخکښې هېڅکله غرنشته
کارغه نه رسي مقام ته دبلبلو
ورسره دعشق اومیني وزرنشته
عشق اومیني دبورامینه ګلزارکړه
سعادت ته بله لارد بشرنشته
دزاهد په امساباندي جهاد نشي
غازي نه دی ورسره که خنجرنشته
دعاشق په برخه داردی رسېدلی
دمنصورجلوه په سردمنبرنشته

سربازی دعاشقانولوی صفت دی
دخلیل له سرو او رونو حذر نشته

په کوم ځای کښې چې فرهاد او مجنون نه وي
هلته سترګې او صاحب دنظر نشته

## ښه دی

په زړه کښې عشق دښکلي يار ښه دی
په سر کښې فکر ددلدار ښه دی

چې مرور آشنا پخلا کاندی
يو وې جرګې نه یوربیار ښه دی

ټولو سازونو سرودونو څخه
دمهرويانو شرنګهار ښه دی

چې ښکلي ناست وي او نازونه کوي
دمکېزونو تودبازار ښه دی

دآشنا مينه کښې چې هرڅه هېرشي
هسې جنون هسې خومار ښه دی

په درويزه که ديدن مومي ديار
عاشق ملنګ او خوار وزار ښه دی

چې په حجروکښې يې دعشق سندرې
هره شپه اورم ننګرهار ښه دی

# دښکلو خیال

پتنګ په شمع بلبل مینه په سروګلوکوي
عاشقان فخرپه دیدار دنازولوکوي

تا په ملالو اثري سترګو زړه وړی زما
دلبران واړه دزړه ښکارپه تش کتلوکوي

دهرچاخوښه چې په مال که په کمال پسې ځي
زه یې عبث بولم چې مینه بې دښکلوکوي

هغه پاک زړه چې دخوبانو خاص حرم باله شي
څوک به یې ولې ځای دهرخیال دساتلوکوي

دښکلوخیال که له شاعرسره ملګری نه وي
ډېرغولېدلی که هوس دشعرويلوکوي

ستا دخیال رڼاکښې ماته حقیقت ښوځرګند
فیلسوف خوشې اعتماد په دلایلوکوي

څوک چې له حق اوحقیقت سره کړی مینه پیدا
دزړه په حکم فرق دحق اودباطلوکوي

# غزل

چاچې ایښی داشین خال ستاپه جبین دی
زما زړه هم دهغه له لاسه شین دی

ستا امېل کښې یې سل زړونه دي پییلی
جاجوړکړی ستا دغاړی لونګین دی

جوړه شوی یې دلمرله پلوشونه

ستادعشق پرحرارت مې دایقین دی

سورسالودې سره لمبه ده نه پوهیږم

که زما دزړه په سروینو رنګین دی

دجما ل پرښتې ته چې جوړولې

ورلېږلی چاسلام چا آفرین دی

معجزه ته دقدرت اودخلقت یې

په رښتیا چې خدای احسن الخالقین دی

خدای دې ساته په امان له بدوسترګو

دادعا دپرښتوزمونږ آمین دی

# خومره ښه وی

چې په سپین مخ دې زلفې خورې وي

سترګې دې تورې شونډې دې سرې وي

زه یم اوته یې نازونخرې وي

خومره ښه وي، خومره ښه وي

چې زه حیا کړم او ته شوخي کړې

زه جرئت نکړم خوته مستي کړې

شې مهربانه اودلداري کړې

خومره ښه وي، خومره ښه وي

چې مې حیاشي له غونډې لرې

درته شروع کړم دعشق سندرې

خومره به ښه وي، خومره به ښه وي

چې ستا په غاړه وي امیلونه

زه دي وربل کښي ږدمه ګلونه

ته راته وایې دزړه حالونه

خومره به ښه وي، خومره به ښه وي

چې درته وایم په مایي ګرانه

له ټول عالمه له درست جهانه

ته وایې نه یم دومره ارزانه

خومره به ښه وي، خومره به ښه وي

چې شم بېخوده اوهرڅه وایم
ډېره دې زیاته له حده ستایم

ته راته وایې چې زه خوستا یم

خومره به ښه وي، خومره به ښه وي

# دزړه فتوا

ددنیا له باغه راوړه ښه ګلونه

راز د دهرمه غواړه له نن پرونه

قافله درنګ وبوی په تېرېدو ده

مدام نه وي دابنایسته ښکلی مخونه

دبلبل په خېردعشق نغمه آغاز کړه

پرېږده نوروته دعقل منترونه

ننداره یې دسپین مخ اوتوراوربل کړه

که دعشق او زړه فتوابانـدې عمل کړې
په تش فکربدل نکړې ډک جامونه
مادمینې دخمارله برکته
دی هېرکړی ددنیا واړه غمونه
نورڅه نشته ستاسودا اوستا آرزوده
چې رڼا شوه پرې زما د زړګي خونه
رنګینی زما دخیال ستا تصور دی
شعر بیا مونده ښایست ستاله مضمونه

په رموزپه اشاره زه هله پوه شوم
چې مې ولیده ستاپټ اشارتونه

# زما خوب

وربل یې ماپه خوب کښې پرېشان لیدلی دی
ستابخت خومې رقیبه دغه شان لیدلی دی
دګلوهارپه غاړه محبوباشوه راحضوره
بلبله دا وطن مې ګلستان لیدلی دی
کارغان به په کښې نه وي بلبلان به په کښې وي
باغونه به سمسوروي ماباغبان لیدلی دی
داتوره شپه به خدای کاندی په مونږ باندې سبا
سپین مخ مې چې سباغوندې روښان لیدلی دی
تعبیرېې کړی ماپه ظالمانوبه چپه شي
چپه کاکل مې خوب کښې دجانان لیدلی دی
مهاربه دې په پوزه شي دسروزروخاونده
په سروشونډو دپاسه مې پېزوان لیدلی دی
زه پټې سترګې نه یمه په هرڅه اوس پوهېږم
په خلاصوسترګوباندې ماجهان لیدلی دی
له دامه که دې خلاص کړم په قفس کښې دې ایسارکړم

صیاده! ماخوڅورنګه زندان لیدلی دی

عمل چې وي ازاد اوانتقادپکښې بندی وي
ماهلته دظلمونوسخت طوفان لیدلی دی

که هریورانه وژنې خیال اوفکرمې مه وژنه
په دې کښې مې وطن ته لوی تاوان لیدلی دی

# دنازمېرمنې

ورورډې خواري اومزدوري کوي له پلاره سره

تاپه مستۍ کښې امېل وشکاوه له یاره سره

موردې مېچنې ګرزوي خوردې منګې ډکوي

ته سورپېزوان غواړې دسروزروله هاره سره

ده غریبې خواره خواري کورکښې څه نه دې پاتې

مه کوه لوبې له درهم اوله دیناره سره

دلته دښځو په سرخاورې دې دنازمېرمنې

تایارانه ده اچولی دنیا داره سره

خبره نه یې ستاپه خویندومیندوخه تیرېږي

ستاسروکاردی تمام عمرله سینګاره سره

زمونږ له حاله ځان خبرکړه په مونږ زړه وسیزه

دتن جامې سوزي زمونږ ستاله سیګاره سره

عیش وعشرت دومره ډېرپرېږده دوطن مېرمنې

مینه پیداکړه دخپل کورله کسب وکاره سره

یوزره په لاس کښېږي ونیسه نورزړونه مه څوروه

مناسب نه دی داخویونه له دلداره سره

په سراوما ل چې دوطن خدمت ته نه وي تیار

مه ګوره هېڅ دهغوخلقو له ربیاره سره

ورسره مه خانده چې خاندي په خوارانو باندې

د ناز خندا کړه د وطن له خدمتګاره سره

# پای



# *Ghwara-ashaar*

*Da*

*Gul Pacha Ulfat*

www.ulfat.net

Germany 2011